بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

الحمدلله ربِّ العٰلمين والصّلٰوة والسّلام على سيّد المُرسلين و على آله و أصحابه أجمعين

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی رياست
د دفتر رياست
د محاکمو او فرامينو د ثبت آمريت

گڼه: ۱۲

نېټه: ۱۴۴۷/۷/۱۵هـ ق

## د محاكمو جزايي اصولنامې د انفاذ په هكله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالى

# فرمان

**لومړۍ ماده:**

د محاكمو جزايي اصولنامه په (۱) مقدمه، (۳)بابونو، (۱۰) فصلونو او (۱۱۹) مادو كې توشيح كوم.

**دوهمه ماده:**

دغه فرمان د توشيح له نېټې څخه نافذ او د يادې اصولنامې له متن سره يو ځای دې په رسمي جريده كې خپور شي.

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

ملاحظه شد! ۱۴۴۷/۷/۱۷ رجب المرجب ۱۴۴۷ هـ ق

فرمان مقام عالی را غرض اجراآت مقتضی جهت ریاست محترم عمومی دار الانشاء محول نمائید. والسلام

الحاج ...

رئیس ... مقام

## بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ[١]

## الحمد لله رب الْعٰلمين والصلٰوة والسلام على سيّد المرسلين و على آله وأصحابه أجمعين.[٢]

# د محاکمو د جزايي اصولنامې

# کتاب

د محاکمو جزايي اصولنامه پر یوه مقدمه، دريو بابونو، لسو فصلونو او يوسلو نولسو مادو مشتمله ده.

## مقدمه

مقدمه، له اصولو او قوانينو ښخه مراد، اصطلاحگانې او د تطبيق مراجع پر مادو مشتمله ده.

### له اصولو او قوانينو ښخه مراد

**لومړۍ ماده:**

په دې اصولنامه کې له اصولو او قوانينو ښخه مراد، هغه اصول او قوانين دي چې د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ القران والحديث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالى لخوا تأييد يا توشيح شوي وي.[٣]

### اصطلاحگانې

**دوهمه ماده:**

په دې اصولنامه کې راتلونکې اصطلاحگانې لاندې معناگانې افاده کوي:[٤]

RAWADARI رواداری

(١) ابتدأ الكتاب بالبسملة أولا، ثم ثنى بالحمدلة اقتداء بالكتاب العزيز المستفتح هكذا، وعملا بقوله - عليه الصلٰوة والسلام -: «كل أمرذي بال لا يبدأ فيه بذكر الله وبسم الله الرحمن الرحيم فهو أقطع.» رواه الحافظ عبد القادر الرهاوي في أربعينه: وفي رواية أبي داود والنسائي: «كل كلام لا يبدأ فيه بالحمد لله فهو أجذم» وفي رواية ابن ماجه: «كل أمرذي بال لم يبدأ فيه بالحمد لله فهو أقطع» ورواه أبوعوانة و ابن حبان في صحيحيهما. [البناية شرح الهداية(ج١ص ١٠٥) الناشر: دار الكتب العلمية - بيروت، لبنان].

(٢) ذكروا أن من الواجب على مصنف كتاب، اومؤلف رسالة ثلاثة أشياء: وهي البسملة، والحمدلة والصلٰوة. (عمدة القاري شرح صحيح البخاري ج ١ ص ٧٧) [الرشيدية].

- وختمنا بالصلوة على النبي صلى الله عليه وسلم تيمناً ولما ورد في ذلك. (الفتاوى تنقيح الحامدية ج١ ص ٣) [اميرحمزه].

(٣) - وكذلك إن أمروهم بشيء لا يدرون أينتفعون به أم لا فعليهم أن يطيعوه لأن فرضية الطاعة ثابتة بنص مقطوع به. [شرح السير الكبيرج١ ص١٦٥ الناشر: الشركة الشرقية للإعلانات].

- [مطلب طاعة الإمام واجبة] (قوله: أمر السلطان إنما ينفذ) أي يتبع ولا تجوز مخالفته... أن طاعة الإمام في غير معصية واجبة. [الدر المختار وحاشية ابن عابدين، ج٥ ص ٤٢٢، الناشر: دار الفكر-بيروت].

- قال في المعراج: لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة اه [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ٢ ص ١٧٢ . دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت].

(٤) الاصطلاح لغة الاتفاق واصطلاحا: اتفاق طائفة مخصوصة على إخراج الشيء عن معناه إلى معنى آخر....[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ج ١ ص ٣]. الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- التعيين بالعرف كالتعيين بالنص.. مجلة الأحكام العدلية) ص(٢١ : [الناشر: نورمحمد، كارخانه تجارتِ كتب، آرام باغ، كراتشي]

- فلا نزاع في أن لكل قوم من العلماء اصطلاحات مخصوصة يستعملونها في معان مخصوصة إما لأنهم نقلوها بحسب عرفهم إلى تلك المعاني أو لأنهم استعملوها فيها على سبيل التجوز ثم صار المجاز شائعا والحقيقة مغلوبة. [المحصول للرازي ج ٤ ص ٤٥٢ الناشر: مؤسسة الرسالة].

- لا مشاحة في الاصطلاح بل تخطئة المرء في اصطلاحه بعيدة عن الصواب. [مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، ج١ ص ١٣، الناشر: دار الفكر، بيروت لبنان].

**۱- حق الله تعالی:** هغه حق دی چې ټولو وګړو ته يې ګټه عامه وي او تر کوم شخص پورې خاص نه وي. د عظمت شان او ټولو وګړو ته د شاملېدو له وجهې نسبت يې الله پاک ته کېږي.[۱]

**۲- حق العبد:** هغه حق دی چې د فعل او د ترک ګټه او تاوان يې شخص ته رسېږي او په ګټورو عمومي چارو پورې مربوط نه وي.

**۳- دُره:** هغه معينه آله ده چې قاضي يې د حد په جاري کولو او د تعزير په ورکولو کې استعمالوي.[۲]

**٤- خبر عدل:** د هغه کس خبر ته ويل کېږي چې ډېر انصاف دار وي، تعصب لرونکی نه وي له کبائرو (لويو ګناهونو) ځنځه ځان ساتي او په صغائرو (کوچنيو ګناهونو) استمرار (دوام) نه کوي.[۳]

**۵- اختطاف:** په زور سره د شخصي ګټې يا مختطف ته د ضرر رسولو په غرض د شخص تښتول دي.

**٦- موسر:** هغه غير محتاج شخص دی چې د زکات اخيستل ورته حرام وي.

**۷- معسر:** هغه محتاج شخص دی چې د زکات اخيستل ورته جائز وي.

**۸-مبتدع:** د اهل السنة والجماعة د عقيدې خلاف عقيده لرونکی شخص دی.[٤]

**۹- قباله:** هغه رسمي سند دی چې د نافذه قوانينو په رڼا کې د غير منقولي اموالو د تثبيت او توثيق لپاره ترتيب شوی وي.

**۱۰- وثيقه:** د اعتبار وړ هغه سند دی چې د نافذه قوانينو په رڼا کې د حکامو لخوا په اقرار د مقر او تصديق د مقرله ترتيب شوی او د قاضي لخوا تصديق شوی وي.

**۱۱- ساعي بالفساد:** د ساحر، لوطي، خناق، باغي او قاطع الطريق په څېر، هغه شخص دی چې ضرر يې عام وي له وژلو پرته يې اصلاح نه کېږي.[۵]

**۱۲- متهم:** هغه شخص دی چې په دې اصولنامه کې د درج شويو جرمونو څخه د يوه په ارتکاب يې، د قاضي په وړاندې يو عادل او يا دوه مستورالحاله شاهدان شاهدي اداء کړي.

**۱۳- مجرم:** هغه شخص دی چې په دې اصولنامه کې د درج شويو جرمونو څخه د يو جرم د ارتکاب له کبله د محکمې په قطعي حکم سره په جزا محکوم شوی وي.

---

(۱) ( وقسموا ) أي الحنفية ( متعلقات الأحكام ) الشرعية ( مطلقا ) أي سواء كانت عبادات أو عقوبات أو غيرهما ( إلى حقه تعالى على الخلوص ) قالوا وهو ما يتعلق به النفع العام من غير اختصاص بأحد نسب إلى الله تعالى لعظم خطره وشمول نفعه كحرمة البيت وحرمة الزنا ( و ) إلى حق ( العبد كذلك ) أي على الخلوص وهو ما يتعلق به مصلحة خاصة كحرمة مال الغير. [ تيسير التحرير لأمير بادشاه ج۲ ص ۱۷٤ ط دار الفكر]

(۲) وَالسَّوْط يضْرب بِهِ وَمِنْه درة عمر.[المعجم الوسيط (ج ۱ ص ۲۷۹].

(۳) وهو ما ظهر بالتجربة رجحان جهة الدين والعقل عن طريق الهوى والشهوة بالاجتناب عن الكبائر وترک الاصرار على الصغائر. قال ابن عرفة بعد أن أشار الى كلام أهل الأصول والفقهاء وتنبيههم عليها: لأنها(العدالة) شرط في الشهادة والخبر. [معجم المصطلحات والألفاظ الفقهية. ج ۲. ص: ۴۸۰]

- وقال الداودي: العدل، أن يكون مستقيم الأمر مؤديا لفروضه غير مخالف لأمر العدول في سيرته وخلائقه، وغير كثير الخوض في الباطل، ولا يتهم في حديثه ولم يطلع منه على كبيرة أصر عليها .[عمدة القاري شرح صحيح البخاري (ج۱۳ ص ۲۰۰ الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت].

(٤) من اعتقد شيئا خالف فيه اعتقاد اهل السنة والجماعة. [القاموس الفقهية الناشر: دار الفكر].

(٥) والظاهر أن المراد المتعدي ضررها إلى الغير فيكون قوله والأعونة والسعاة عطف تفسير أو عطف خاص على عام فيشمل كل من كان من أهل الفساد كالساحر وقاطع الطريق واللص واللوطي والخناق ونحوهم ممن عم ضرره ولا يزجر بغير القتل .[حاشية ابن عابدين - الفكر (ج ٤ ص ٦٤) الناشر: دار الفكر للطباعة والنشر

**۱٤- جعل او تزویر:** د حقیقت پر خلاف د لیکلو جوړول، سند جوړول، مهر جوړول یا د بل چا لاسلیک کول، یا د تحریر په مبنلو، ورانولو یا قلم خوره کولو یا زیاتولو یا له منځه وړلو یا تورولو او داسې نورو وسیلو سره د وثائقو او رسمي اسنادو په محتوی کې تغیر راوستل دي.

**۱٥- متکرر مجرم:** هغه شخص دی چې په دې اصولنامه کې د درج شویو جرمونو څخه د یو جرم د ارتکاب له کبله په جزا محکوم شوی وي او د محکمې د قطعي حکم له صدور څخه وروسته هماغه جرم بیا ترسره کړي.

**۱٦- ارفان درمل:** هغه ځانګړي درمل دي چې د نادرو ناروغیو د درملنې، مخنیوي او تشخیص په موخه کارول کېږي او له تولیدکوونکو او یا واردوونکو سره یې د تولیدولو او واردولو علاقه کمه او د عامې روغتیا او کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارتونو په سپارښتنه په معین وخت او معینه اندازه تولیدېږي او یا واردېږي.

**۱۷- روغتیایي محصولات:** طبي لوازم او تجهیزات، طبي خوراکي توکي، درملیز توکي، درملیز خوراکي محصولات، ریجنټونه (هغه کیمیاوي مواد دي چې د تعامل یا معاینې لپاره کارېږي) لابراتواري توکي او نور روغتیایي توکي دي چې چارې یې د عامې روغتیا اوکرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارتونو له خوا تنظیمېږي.

۱۸- **د کیفیت عادي تخلف:** هغه تخلف ته ویل کېږي چې د ازموینت وروسته د جنس د کیفیت پایله له معیار سره په ټکر کې وي، ماشین او د مصرف کوونکي اقتصاد ته زیان ورسوي.

۱۹- **د کیفیت منځنی تخلف:** هغه تخلف ته ویل کېږي چې د عادي تخلف سره سره محیط ته هم زیان ورسوي.

۲۰- **د کیفیت شدید تخلف:** هغه تخلف ته ویل کېږي چې د منځني تخلف سره سره د انسان روغتیا ته هم زیان ورسوي.

**<u>د تطبیق مراجع</u>**

**دریمه ماده:**

د اسلامي امارت محاکم د دې اصولنامې د تطبیق مراجع دي.[۱]

## لومړی باب

## د تعزیر د تطبیق اصول، مرتبې او ډولونه او د تعزیر مستحقین او اړوند حکمونه

دا باب په لاندې دریو فصلونو مشتمل دی:

لومړی فصل: د تعزیر د تطبیق اصول؛

دوهم فصل: د تعزیر مرتبې او ډولونه؛

دریم فصل: د تعزیر مستحقین او اړوند حکمونه.

رواداری RAWADARI

(۱)- أصل الحکم وإدارة الشئون ان یکون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الکبری وجمیع من یعمل للعموم یکون وکیلا عنه- لکن الوکالة قد تکون بلاواسطة کان یقول السلطان لزید وکلتک بالحکم بین الناس، ولآخر بجبایة الاموال وحفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة الامور السیاسیة، ولآخر بعقاب المجرمین ... وقد یکون بالواسطة کأن یقلد السلطان انسانا عملا ویفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ٦ ص: ٥۰ ] مکتبه حقانیه، پشاور.

- لما کان الملک لا یستطیع إقامة هذه المصالح کلها بنفسه وجب أن یکون له بإزاء کل حاجة أعوان ، ومن شرط الأعوان الأمانة والقدرة علی إقامة ما أمروا به و انقیادهم للملک والنصح له ظاهرا أو باطنا [حجة الله البالغة للدهلوي ج ۱ ص ۹۸ ] داراحیاء علوم الدین

- ومنها أنه ألقی خطبة ذکر فیها مسئولیات وواجبات أمرائه وعماله علی البلاد والأمصار. [ ازالة الخفاء، ج۳ ص۱۸۹، الناشر: دارالقلم دمشق].

## لومړی فصل

## د تعزیر د تطبیق اصول

### د حد او تعزیر ترمنځ توپیر

**څلورمه ماده:**

۱ – حد مقدر او معلوم دی او تعزیر د امام رأیې ته مفوض دی.(۱)

۲ – حدود په شبهاتو ساقطیږي او تعزیر له شبهې سره هم ثابتیدای شي.(۲)

۳ – حد پر کوچني (صبي) نه جاري کیږي، خو تعزیر تأدیباً ورکول کیږي.(۳)

۴ – حد د مسلمان او ذمي دواړو لپاره د حد په نامه یادیږي، خو تعزیر د ذمي لپاره عقوبت بلل کیږي.(٤)

---

(۱) -أن الحد مقدر، والتعزير مفوض الى رأى الامام.[رد المحتار ج ۶ ص ۹۵ طبع: مكتبه رشيديه].

-[الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۱۶۸، طبع: مكتبه رشيدية.]

-[التاتارخانية ج ۶ ص ۳۹۸ طبع: المكتبة الطارق].

(۲)وأن الحد يدرأ بالشهات، والتعزير يجب معها.[رد المحتار ج ۶ ص ۹۵ طبع: رشيدية]. (هكذا في التاتارخانية ج ۶ ص ۳۹۸، طبع: المكتبة الطارق.]

- ما يترتب على درء الحدود بالشبهات: تختلف النتائج التي تترتب على الأخذ بقاعدة درء الحدود بالشبهات، ففي بعض الأحيان يؤدي تطبيق القاعدة إلى درء عقوبة الحد وتبرئة المتهم من الجريمة المنسوبة إليه، وفي بعض الأحيان يؤدي تطبيق القاعدة إلى درء عقوبة الحد وإحلال عقوبة تعزيرية محلها.ويبرأ المتهم من الجناية المنسوبة إليه في ثلاث حالات:

الأولى: إذا كانت الشبهة قائمة في ركن من أركان الجريمة؛ فمن زفت إليه غيرزوجته، فأتاها على اعتقاد أنها زوجته، لا يعاقب على الزنا بعقوبة الحد، ولا بعقوبة تعزيرية، وإنما يحكم ببراءته؛ لانعدام القصد الجنائي لديه، والقصد الجنائي ركن من أركان جريمة الزنا. . . .

الثانية: أن تكون الشبهة قائمة في انطباق النص المحرم على الفعل المنسوب للمتهم، فمن تزوج بلا شهود أوبلا ولي، أوتزوج زواج متعة، لا يعاقب حداً ولا تعزيراً باعتباره زانياً؛ لأن العلماء اختلفوا في هذه الأنكحة، فأحلها بعضهم وحرمها البعض الآخر، وهذا الاختلاف معناه الشك في انطباق نص الزنا على هذه الأفعال، ومن ثم تجب تبرئة المتهم من الجناية المنسوبة إليه.

الثالثة: أن تكون الشبهة قائمة في ثبوت الجريمة، فإذا شهد شخصان على آخربأنه شرب خمراً، ثم عدلا عن شهادتهما ولم يكن هنالك دليل آخر، درئ الحد لشبهة صدق الشاهدين في عدولهما، وبرئ المتهم مما نسب إليه . . . فيما عدا هذه الحالات الثلاث فإن تطبيق القاعدة إذا أدى لدرء الحد فإنه يؤدي في الوقت ذاته إلى استبدال التعزير بالحد أياً كان مصدر الشبهة، فالأب يدرأ عنه الحد في سرقة مال ولده؛ لقوله عليه الصلاة والسلام: "أنت ومالك لأبيك"، ولكنه يعزر؛ لأن الدرء كان لشبهة حكمية أي شبهة في المحل. ومن يأت زوجته في دبرها يدرأ عنه الحد للشبهة في المحل، ولكنه يعزر. ومن يتزوج مَحرَماً أويستأجر امرأة للزنا يُدرأ عنه الحد لشبهة العقد عند أبي حنيفة، ولكنه يعزر. . .

هل تطبق قاعدة درء الحدود بالشبهات على جرائم التعازير؟: الأصل في قاعدة درء الحدود بالشبهات أنها وضعت لجرائم الحدود، لكن ليس ثمة ما يمنع من تطبيقها على جرائم التعازير؛ لأن القاعدة وضعت لتحقيق العدالة ولضمان صالح المتهمين، وكل متهم في حاجة لتوفيرهذين الاعتبارين سواء كان متهماً في جريمة من جرائم الحدود أوجرائم التعازير.

وتطبق القاعدة على جرائم التعازيرفي الحالات الثلاث التي يؤدي تطبيقها إلى البراءة في جرائم الحدود، ولا تطبق في حالات استبدال الحد بعقوبة تعزيرية؛ لأن جرائم التعازيرعقوباتها غيرمقدرة ومتروكة لتقدير القاضي واختياره، بعكس عقوبات جرائم الحدود فهي غيرمقدرة وبالغة في الشدة والردع، وليس للقاضي أن يعدل عنها ويستبدل بها غيرها إلا في حالة درء الحد للشبهة. [التشريع الجنائي الإسلامي مقارنا بالقانون الوضعي (۱/ ۲۱۷-۲۱٤)ط دار الكاتب العربي، بيروت].

(۳)- وأن الحد لا يجب على الصبي، والتعزيرشرع عليه.[رد المحتار ج ۶ ص ۹۵، طبع: مكتبه رشيديه].

-[التاتارخانية ج ۶ ص ۳۹۸، طبع: المكتبة الطارق].

(٤) والرابع: أن الحد يطلق على الذمي والتعزيريسمى عقوبة له.[رد المحتار ج ۶ ص ۹۶، طبع: مكتبه رشيديه ( هكذا في التاتارخانية ج ۶ ص ۳۹۸]. طبع: المكتبة الطارق].

۵ – د حد سزا په امام پورې تړاو لري او تعزيري سزا مېړه او بادار هم ورکولای شي.[۱]

٦ – هر مسلمان چې گناه کوونکی په حقوق الله کې د گناه په حالت کې ووینې، د گناه د کولو په وخت کې د تعزیر ورکولو صلاحیت لري، ځکه چې دا د نهی عن المنکر له قبیلې څخه ده او د حد جاري کولو صلاحیت نه لري.[۲]

۷ – د اقرار څخه رجوع په تعزیر کې نه صحیح کېږي، له حد قذف پرته په ټولو حدودو کې صحیح کېږي.[۳]

۸ – په حد کې مشهودعلیه (چې مستورینو شاهدې پرې ادا کړې وي) تر هغه وخت پورې بندي کېدای شي چې د شاهدانو په اړه یې پوښتنه وشي، په تعزیرکې نه بندي کېږي.[٤]

۹ – د امام لپاره د حد پرېښول تر اثبات وروسته جواز نه لري، د تعزیر پرېښول په خالص حقوق الله کې مصلحتاً جواز لري.[۵]

۱۰- تر اثبات وروسته په حد کې شفاعت جواز نلري خو په تعزیر کې جواز لري.[٦]

۱۱ – له حد قذف پرته نور حدود د شاهدانو په صورت کې په تقادم د زماني سره بې له عذره ساقطېږي، تعزیر په تقادم د زماني سره نه ساقطېږي. [۷]

رواداری
RAWADARI

---

(۱) - والخامس: ان الحد مختص بالامام، والتعزيريقيمه الزوج والمولى وكلّ مَن رأى أحداً يباشر المعصية.[عمدة الرعاية ج ۴ ص ۲۵۲ طبع: قديمى كتب خانه كراتشي].

-[رد المحتارج ۶ ص ۹۶ طبع: مكتبه رشيديه].

-[ الفقه الحنفي فى ثوبه الجديد ج ۳ ص ۳۱۰، طبع: مكتبه رشيديه].

(۲) ويقيم كل مسلم حال مباشرة المعصية، وأما بعده فليس ذالك لغير الحاكم والزوج والمولى... قوله: ( ويقيمه ) اى: التعزير الواجب حقا لله تعالى؛ لأنه من باب ازالة المنكر.[ رد المحتارج ۶ ص ۱۰۴ طبع: مكتبه رشيديه)( هكذا فى عمدة الرعاية ج ۴ ص ۲۵۲ طبع: قديمى كتب خانه كراتشي ،)( هكذا فى الفقه الحنفي فى ثوبه الجديد ج ۳ ص ۳۱۰، طبع: مكتبه حنفيه].

(۳)يصح الرجوع عن الاقرارفى الحدود كلها الا حد القذف. [البحرالرائق ج ۵ ص ۸۸، طبع: اميرحمزة].

-[ معين القضاة والمفتين، مادة: ۵۷].

- وأن الرجوع يعمل فى الحد لا فى التعزير. [رد المحتارج ۶ ص ۹۶، طبع: مكتبه رشيديه .]

(٤)- وأنه يحبس المشهود عليه حتى يسأل عن الشهود فى الحد، لا فى التعزير. [رد المحتارج ۶ ص ۹۶ طبع: مكتبه رشيديه]

-[ الفقه الحنفي فى ثوبه الجديد ج ۳ ص ۳۱۰، طبع: مكتبه حنفيه].

- [ عمدة الرعاية ج ۴ ص ۲۵۲ ، طبع: قديمى كتب خانه كراتشي].

(۵) فلا تجوزالشفاعة فيه بعد الوصول للحاكم... قوله: ( بعد الوصول للحاكم ) وأما قبل الوصول اليه والثبوت عنده، فتجوزالشفاعة عند الرافع له الى الحاكم ليطلقه. [رد المحتارج ۶ ص ۶ طبع: مكتبه رشيديه].

- والعاشر: إنّ الحدّ لا يجوزُللإمام تركه بخلاف التعزير.[عمدة الرعاية بتحشية شرح الوقاية (ج۵ص ٤۹۷) الناشر: مركزالعلماء العالمي للدراسات وتقنية المعلومات.

- وأجمعوا على تحريم الشفاعة في الحدود إذا بلغ الإمام، وأنه يحرم التشفيع فيه، فأما قبل بلوغ الإمام فأجازه أكثرالعلماء إذا لم يكن المشفوع فيه صاحب شر، وأذى للمسلمين، فإن كان لم يشفع فيه وأما المعاصي التي لا حد فيها، ولا كفارة، وواجبها التعزيرفتجوزالشفاعة فيه.[ غمزعيون البصائر في شرح الأشباه والنظائر(ج۱ص ۳۸۷) الناشر: دارالكتب العلمية].

(٦) المرجع السابق.

(۷) وانه قد يسقط باالتقادم،بخلاف التعزير.[ردالمحتار، ج ۶ ص ۹۶، مكتبه رشيديه].

- (شهدوا بحدٍ متقادم بلاعذر(كمرضٍ اوبعد مسافةٍ اوخوف طريقٍ ) (لم تقبل) للتهمة) الا فى حدالقذف) اذ فيه حق العبد) ويضمن المال المسروق) لانه حق العبد فلايسقط بالتقادم) ولو أقربه) اى بالحد) مع التقادم حُدّ) لانتفاء التهمة.[ ردالمحتار، ج ۶ ص ۵۰. مكتبه رشيديه].

-[ عمدة الرعاية ج ۴ ص ۲۵۲ طبع:قديمي كتب خانه كراتشي].

۱۲ – په حقوق العباد کې تعزیرات تداخل نه قبلوي او حدود که له يوه جنسه وي تداخل قبلوي.[۱]

۱۳ – حدود وارث ته په میراث نه پاتې کېږي، تعزیر او قصاص پاتې کېږي.[۲]

۱۴ – په خالصه حق الله حدودو کې د کفیل (ضامن) غوښتل جواز نه لري، په تعزیراتو کې د کفیل (ضامن) غوښتل جواز لري.[۳]

۱۵ - د حدودو، قصاص او دیت په پلي کولو کې فقط جرم ته کتل کېږي، نه د مجرم شخصیت ته، په تعزیري جزاوو کې د جرم ډول او د مجرم شخصیت ته کتل کېږي.[٤]

## د جرم د اثبات طریقې

**پنځمه ماده:**

په حقوق الله او حقوق العباد کې جرم د قاضي په وړاندې او یا د قاضي په حکم په لاندې طریقو سره ثابتېږي:[٥]

۱- په حقوق الله کې اقرار، بینه، قطعیه قرائن او خبرعدل؛

۲- په حقوق العباد کې اقرار، بینة، نکول او قطعیه قرائن، البته قصاص په نکول او قطعیه قرائن سره نه ثابتېږي.

## د تعزیر د ثبوت طریقې

**شپږمه ماده:**

(۱) په حقوق العباد کې تعزیرات په لاندې طریقو ثابتېږي:[٦]

۱- اقرار؛

روادارى RAWADARI

(۱) ومنها انه لايتداخل لان حقوق العبد لاتحتمل التداخل بخلاف الحدود.[بدائع الصنائع، ج ۵ ص ۵۳۶ مكتبه رشيديه].

- (هي ان رجلا شتم آخر بألفاظ متعددة من ألفاظ الشتم الموجب للتعزير، وهو أنه يعزر لكل واحد منها، لأن حقوق العباد لاتداخل فيها بخلاف الحدود.[ردالمحتار، ج ۶ ص ۱۱۸]. مكتبه رشيديه].

(۲)ومنها أنه يورث كالقصاص وغيره لماقلنا.(بدائع الصنائع ج ۵ ص ۵۳۶. مكتبه رشيديه].

- القصاص يورث والحد لا.[ردالمحتارج ۱۰ ص ۱۹۳( مكتبه رشيديه].

(۳)ولايصح (بنفس حدٍّ وقصاصٍ) لأن النيابة لاتجري في العقوبات ... قوله: ولاتصح بنفس حدٍ وقصاصٍ أما لوكفل بنفس من عليه الحد تصح، لكن هذا في الحدود التي فيها للعباد حق كحد القذف، بخلاف الحدود الخالصة كماتقدم بيانه.( ردالمحتارج ۷ ص ۶۲۹.] مكتبه رشيديه].

- ويوخذ فيه الكفيل، الا أنه لايحبس لتعديل الشهود.أماالتكفيل فلأن التكفيل للتوثيق. والتعزيرحق العبد فكان التوثيق ملائمًا له بخلاف الحدود. (بدائع الصنائع ج ۵ ص ۵۳۶ مكتبه رشيديه.]

(٤)العقوبات المقررة لجرائم الحدود وجرائم القصاص والدية ينظرفيها الى الجريمة ولا اعتبارفيها لشخصية المجرم. (التشريع الجنائي، ج ۱ ص ۵۵۷ مكتبه حقانيه].

- وذالک يختلف باختلاف الجناية والجاني، ردالمحتار، ج ۶ ص ۹۸ . طبع: مكتبه رشيديه[.

- (أماالتعزيرفينظرفيها الى الجريمة والى شخص مُجرمٍ معًا ) (التشريع الجنائي، ج ۱ ص ۵۵۷ مكتبه حقانيه].

(۵) الأصل براءة الذمة. يعني: الأصل أن تكون ذمة كل شخص بريئة أي غيرمشغولة بحق آخر؛ لأن كل شخص يولد وذمته بريئة وشغلها يحصل بالمعاملات التي يجريها فيما بعد، فكل شخص يدعي خلاف هذا الأصل يطلب منه أن يبرهن على ذلك .[دررالحكام في شرح مجلة الأحكام (ج۱ص ۲۵) الناشر: دارالجيل].

(۶)- وشهادة المرئتين مع الرجل في التعزيرجائزة.[فتاوى تاتارخانيه، ج ۶ ص ۴۰۸ .طبع: مكتبه رشيديه].

- انه يظهر به سائرحقوق العباد من الاقراروالبينة والنكول وعلم القاضي،ويقبل فيه شهادة النساء مع الرجال، والشهادة على الشهادة، وكتاب القاضي الى القاضي، كمافي سائرحقوق العباد.[بدائع الصنائع، ج ۵ ص ۵۳۶. طبع: مكتبه رشيديه].

۲- بينة (د نارينه وو او يا د ښځو او نارينه وو په ګډه شاهدي)؛

۳- نکول.

(۲) په حقوق الله کې تعزير په لاندې طريقو سره ثابتېږي:[۱]

۱- خبر عَدل؛

۲- قرينه قطعيه.

## د مخبر عدل د شهادت اعتبار

**اوومه ماده:**

(۱) د مخبر عدل شاهدي په لاندې طريقو سره معتبره ده:[۲]

۱- شهادت يې پر مشاهده او يقين بناء وي، نه پر غالب ظن؛

۲- کوم امور چې ليدلو او اورېدلو ته اړتيا لري (عقد نکاح، بيع، اجاره او طلاق...) هلته به يې اخبار پر ليدلو او اورېدلو بناء وي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې ذکر شوې شاهدي، که يوازې پر علم بناء وه په لاندې شرايطو سره معتبره ده:[۳]

۱- شاهد ته به د متواتر خبر په واسطه د هغو امورو علم حاصل شوی وي چې دروغ کېدل يې د عقل څخه ليرې وي؛

---

(۱) - لوكان المتهم مشهوراً بالفساد فيكفى فيه علم القاضي.[ردالمحتار، ج ۶ ص ۱۲۱. طبع: مكتبه رشيديه].

- وشهادة المرئتين مع الرجل فى التعزير جائزة.[فتاوى تاتارخانيه، ج ۶ ص ۴۰۸ .طبع: مكتبه رشيديه].

- انه يظهر به سائر حقوق العباد من الاقرار والبينة والنكول وعلم القاضي،ويقبل فيه شهادة النساء مع الرجال، والشهادة على الشهادة وكتاب القاضي الى القاضي، كمافى سائر حقوق العباد.[بدائع الصنائع، ج ۵ ص ۵۳۶. طبع: مكتبه رشيديه].

- وأما ماذهب اليه المتأخرون وهو المفتى به من انه لايقضي بعلمه فى زماننا فيجب حمله على ماكان من حقوق العباد.[ردالمحتار، ج ۶ ص ۱۲۹ .طبع: مكتبه رشيديه].

(۲)- وَالْحَاصِلُ أَنَّهُ إنْ طَعَنَ الْخَصْمُ سَأَلَ عَنْهُمْ فِي الْكُلِّ وَإِلَّا سَأَلَ فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ وَفِي غَيْرِهَا مَحَلُّ الِاخْتِلَافِ وَقِيلَ هَذَا اخْتِلَافُ عَصْرٍ وَزَمَانٍ وَالْفَتْوَى عَلَى قَوْلِهِمَا فِي هَذَا الزَّمَانِ كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. [البحر الرائق شرح كنز الدقائق: ج ص/۱۰٦) كتاب الشهادات. مكتبه رشيدية].

- ( وَلا يَشْهَدُ مَنْ رَأَى خَطَّهُ وَلَمْ يَذْكُرْهَا ) أَيْ الْحَادِثَةَ ( كَذَا الْقَاضِي وَالرَّاوِي ) لِمُشَابَهَةِ الْخَطِّ لِلْخَطِّ , وَجَوَّزَاهُ لَوْ فِي حَوْزِهِ , وَبِهِ نَأْخُذُ بَحْرٌ عَنْ الْمُبْتَغَى ( وَلا ) يَشْهَدُ أَحَدٌ ( بِمَا لَمْ يُعَايِنْهُ ) بِالإِجْمَاعِ ( إلا فِي ) عَشَرَةٍ عَلَى مَا فِي شَرْحِ الْوَهْبَانِيَّةِ : مِنْهَا الْعِتْقُ وَالْوَلاءُ عِنْدَ الثَّانِي وَالْمَهْرُ عَلَى الأَصَحِّ بَزَّازِيَّةٌ وَ ( النَّسَبِ وَالْمَوْتِ وَالنِّكَاحِ وَالدُّخُولِ ) بِزَوْجَتِهِ ( وَوِلايَةِ الْقَاضِي وَأَصْلِ الْوَقْفِ ) وَقِيلَ وَشَرَائِطِهِ عَلَى الْمُخْتَارِ كَمَا مَرَّ فِي بَابِهِ ( وَ ) أَصْلُهُ ( هُوَ كُلُّ مَا تَعَلَّقَ بِهِ صِحَّتُهُ وَتَوَقَّفَ عَلَيْهِ ) وَإِلا فَمِنْ شَرَائِطِهِ ( فَلَهُ الشَّهَادَةُ بِذَلِكَ إذَا أَخْبَرَهُ بِهَا ) بِهَذِهِ الأَشْيَاءِ ( مَنْ يَثِقُ ) الشَّاهِدُ ( بِهِ ) مِنْ خَبَرِ جَمَاعَةٍ لا يُتَصَوَّرُ تَوَاطُؤُهُمْ عَلَى الْكَذِبِ بِلا شَرْطِ عَدَالَةٍ أَوْ شَهَادَةِ عَدْلَيْنِ إلا فِي الْمَوْتِ , فَيَكْفِي الْعَدْلُ وَلَوْ أُنْثَى وَهُوَ الْمُخْتَارُ مُلْتَقًى وَفَتْحٌ , وَقَيَّدَهُ شَارِحُ الْوَهْبَانِيَّةِ بِأَنْ لا يَكُونَ الْمُخْبِرُ مِنْهُمَا كَوَارِثٍ وَمُوصًى لَهُ ( وَمَنْ فِي يَدِهِ شَيْءٌ سِوَى رَقِيقٍ ) عُلِمَ رِقُّهُ وَ ( يُعَبِّرُ عَنْ نَفْسِهِ ) وَإِلا فَهُوَ كَمَتَاعٍ فَ ( لَك أَنْ تَشْهَدَ ) بِهِ ( أَنَّهُ لَهُ إنْ وَقَعَ فِي قَلْبِكَ ذَلِكَ ) أَيْ أَنَّهُ مِلْكُهُ ( وَإِلا لا ) وَلَوْ عَايَنَ الْقَاضِي ذَلِكَ جَازَ لَهُ الْقَضَاءُ بِهِ بَزَّازِيَّةٌ : أَيْ إذَا ادَّعَاهُ الْمَالِكُ وَإِلا لا . ( وَإِنْ فَسَّرَ) الشَّاهِدُ ( لِلْقَاضِي أَنَّ شَهَادَتَهُ بِالتَّسَامُعِ أَوْ بِمُعَايَنَةِ الْيَدِ رُدَّتْ ) عَلَى الصَّحِيحِ ( إلا فِي الْوَقْفِ وَالْمَوْتِ إذَا ) فَسَّرَا ( وَقَالا فِيهِ أَخْبَرَنَا مَنْ نَثِقُ بِهِ ) تُقْبَلُ ( عَلَى الأَصَحِّ ) خُلاصَةٌ , بَلْ فِي الْعَزْمِيَّةِ عَنْ الْخَانِيَّةِ : مَعْنَى التَّفْسِيرِ أَنْ يَقُولا شَهِدْنَا لأَنَّا سَمِعْنَا مِنْ النَّاسِ , أَمَّا لَوْ قَالا لَمْ نُعَايِنْ ذَلِكَ وَلَكِنَّهُ اشْتَهَرَ عِنْدَنَا جَازَتْ فِي الْكُلِّ وَصَحَّحَهُ شَارِحُ الْوَهْبَانِيَّةِ وَغَيْرُهُ ا.[رد المحتار على الدر المختار ج ٤ ص ٣٧٥ الناشر: إحياء التراث ].

(۳) - الشهادة هي الإخبار صدقا عن يقين وعيان بلفظ من الشهادة. يعني بقول: أشهد بإثبات حق أحد الذي هو في ذمة الآخر في حضور القاضي ومواجهة الخصمي .[درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (ج ص ٣٤٦ الناشر: دار الجيل].

- لأن الثابت بالتواتر والمحسوس بحس البصر والسمع سواء، فكانت الشهادة بالتسامع شهادة عن معاينة، فعلى هذا إذا أخبره بذلك رجلان، أو رجل وامرأتان لا يحل له الشهادة ما لم يدخل في حد التواتر.[بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (ج٦ص ٢٦٦) الناشر: دار الكتب العلمية].

۲- شاهدي به د قضاء په مجلس کې په لفظ د (أشهد) سره وي؛

۳- شاهدي کې به د بل د حق اثبات وي.

**د مجرد جرح په وجه د شاهدانو رد**

**اتمه ماده:**

که کوم شخص بل ته د تعزیر د موجب الفاظ لکه فاسق او داسې نور وویل، له تعزیر څخه د خلاصون لپاره د یاد شخص شاهدان نه منل کېږي.[1]

## دوهم فصل

## د تعزیر مرتبې او ډولونه

**د جاني په اعتبار د تعزیر مرتبې**

**نهمه ماده:**

(۱) د جاني په اعتبار تعزیر لاندې مرتبې لري:[2]

۱- د علماوو او لوړ رتبه خلکو تعزیر: د مذکوره خلکو تعزیر د قاضي له لوري په داسې خبرداري سره دی! ماته خبر رسیدلی دی چې ته داسې او داسې... کارونه کوې؛

۲- د اشرافو؛ لکه د قبیلو د مشرانو او تاجرانو تعزیر: د ذکر شویو خلکو تعزیر، د قاضي له لوري په خبر ورکولو او محکمې ته په ورغوښتلو سره دی؛

۳- د ټولنې د متوسطو خلکو تعزیر: د ذکر شویو خلکو تعزیر محکمې ته په ور غوښتلو او په بندي کولو سره دی؛

۴- د ټولنې د ټیټو خلکو تعزیر: د ذکر شویو خلکو تعزیر په تهدیدولو او وهلو سره دی، البته که د وهلو تعزیر په نهائي اندازه کې و لکه نهه دېرش (۳۹) دُرې بیا دې مجرم د بدن پر یوه ځای نه وهل کېږي.

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې په ۴ جزء کې، په یادو شویو تعزیري وهلو کې، پر هغو ځایونو باندې له وهلو څخه ډډه دې وشي چې د شرعي حدودو په جزا کې ورڅخه منعه راغلې ده لکه سر او غلیظه عورت.[3]

رواداری
RAWADARI

---

(۱) - قال له: یا فاسق، ثم أراد أن يثبت فسقه بالبینة لیدفع التعزیرعن نفسه، لا تسمع بینته؛ لأن الشهادة على الجرح والفسق لا تقبل. [الحدود والتعازیرلجوى زاده ص ۸۸ طبع: دارالمقتبسه، بیروت].

(۲) - قوله: (على أربع مراتب): تعزیر أشراف الاشراف وهم العلماء والعلوية بالأعلام، بأن يقول له القاضي: بلغني أنك تفعل كذا فيتزجربه. [ردالمحتار ج ۶ ص ۹۷ ،طبع:مکتبه رشیدیه.].

-[ الفتاوى الهنديه، ج۲ ص ۱۶۳. طبع: مکتبه رشیدیه].

-[ تبیین الحقائق. ج ۳ ص ۲۰۸ . طبع: مکتبه أشرفیه].

- وتعزیر الاشراف: وهم نحوالدهاقین.تعزیرهم بالاعلام والجرالى باب القاضي والخصومة فى ذالک.[ردالمحتارج ۶ ص ۹۷ . طبع:مکتبه رشیدیه.)

- وتعزیر الأشراف وهم الأمراء والدهاقين بالإعلام والجرإلى باب القاضي والخصومة في ذلك .[الفتاوى الهنديه، ج ۲ ص ۱۶۷. طبع: مکتبه رشیدیه].

- وتعزیر الاوساط وهم السوقة بالجروالحبس. [ردالمحتارج ۶ ص ۹۷ . طبع:مکتبه رشیدیه.]

- وتعزیر الاخساء بهذا كله وبالضرب آه. [ردالمحتارج ۶ ص ۹۷ . طبع:مکتبه رشیدیه].

- ( قال الدرالمختار:ولايفرق الضرب فيه وقيل يفرق ووفق بأنه ان بلغ اقصاه يفرق و الا لا.[ردالمحتارج ۶ ص ۹۷، طبع:مکتبه رشیدیه].

(۳) قال الزيلعي: ويتقى المواضع التي تتقى فى الحدود:أى كالرأس والمذاكير، [ردالمحتارج ۶ ص ۹۷. طبع: مکتبه رشیدیه،].

## د جنايت په اعتبار د تعزير ډولونه

**لسمه ماده:**

د جنايت په اعتبار تعزير لاندې ډولونه لري: [۱]

۱- تعزير په هغه جنايت کې چې خالص حق الله وي؛

۲- تعزير په هغه جنايت کې چې خالص حق العبد وي؛

۳- تعزير په هغه جنايت کې چې حق العبد پکې غالب وي.

## په حق الله او حق العبد کې د تعزير اړوند حکمونه

**يوولسمه ماده:**

(۱) که حق الله او حق العبد سره يو ځای شول، قاضي به لومړی فيصله په حق العبد کې کوي د تقدم د استيفاء د حق العبد له وجهې، بيا به فيصله په حق الله کې کوي. [۲]

(۲) په حقوق الله کې د تعزير تطبيق هغه وخت لازم دی چې د جاني اصلاح له تعزير پرته ممکن نه وي، که اصلاح يې بې له تعزيره شوې وي (د توبې آثار پرې ښکاره شي) قاضي کولای شي تعزير يې ترک کړي. [۳]

(۳) په حقوق العباد کې د صاحب الحق له لوري صلحه، عفوه، او ابراء صحيح بلل کيږي. [۴]

رواداري
RAWADARI

---

(۱) وبيان ذلک: أن جميع مامرمن ألفاظ القذف والشتم الموجبة للتعزيرمنهیّ عنها شرعا...فكان فيها حق الله تعالى وحق العبد وغلب حق العبد لحاجته ولذا لو عفا سقط التعزير...وربما تمحض حق العبدکما اذاشتم الصبیّ رجلا فانه غيرمكلف بحق الله تعالى قوله (ويكون أيضاً حقاً لله تعالى) أی :خالصًاله تعالى كتقبيل أجنبية وحضورمجلس فسق.[ ردالمحتارج۶ ص ۱۱۹ . طبع: مكتبه رشيديه].

(۲) قال:(رجل ثبت عليه باقراره الزنا والسرقة وشرب الخمروالقذف وفقءِ عين رجلٍ، فانه يبدأ بالقصاص فی الفقء) لانه محض حق العباد، وحق العبد مقدم فی الاستيفاء لمايلحقه من الضرربالتأخير، لأنه يخاف الفوت، والله تعالى عن ذالک.[المبسوط السَرخسي ج۵ جزء ۹. ص ۱۱۷.طبع: مكتبه رشيديه].

- ألاترى انه اذا اجتمعت الحدود فيهاحق العبد يبدء بحق العبد لماقلنا وَلِأَنَّهُ مَا مِنْ شَيْءٍ إلَّا وَلِلَّهِ تَعَالَى فِيهِ حَقٌّ، فلوقدم حق الشرع عند الاجتماع بطل حق العبد.[ردالمحتار، ج ۳ص ۵۲۹ )الناشر: مكتبه رشيديه].

(۳) - الرسالة الثالثة عشر- مكتبة طيبة (۵۴۰. ذكرفي "فتح القدير" معزيا إلى "فتاوى قاضيخان" (التعزيرحق العبد كسائرحقوقه يجوزفيه الإبراء والعفووالشهادة على الشهادة، ويجزئ فيه اليمين – يعني: إذا أنكرأنه سبه يحلف، ويقضى بالنكول. ولا يخفى على أحد أنه ينقسم إلى ما هوحق العبد وحق الله تعالى، فحق العبد لا شك أن يجزئ فيه ما ذكروا، وأما ما وجب [فيه] حق الله تعالى فقد ذكرنا آنفا أنه يجب على الإمام أنه يستوفيه ولا يحل له تركه إلا فيما علم أنه [زجر. [ رسائل ابن نجيم الإقتصادية: ص/۲۱۳].

- الحد لايقبل الاسقاط مطلقًا بعد ثبوت سببه عند الحاكم وعلى هذا يبنى عدم جواز شفاعة فيه فانها طلب ترک الواجب.[فتاوی الحدود والتعزيرات.للمُفتيين والقُضاة. ص ۳.طبع:مكتبه حقانيه، كويته].

- (ومنها: أنه يحتمل العفو والصلح والابراء لانه حق العبد خالصًا فتجري فيه هذه الاحكام كماتجري فی سائرالحقوق للعباد من القصاص وغيره، بخلاف الحدود.[بدائع الصنائع. ج ۵ ص ۵۳۶ .طبع: مكتبه رشيديه].

-[ التاتارخانيه، ج۶ ص ۴۰۸. طبع: مكتبه رشيديه].

(۴) - (ومنها: أنه يحتمل العفو والصلح والابراء لانه حق العبد خالصًا فتجري فيه هذه الاحكام كماتجري فی سائرالحقوق للعباد من القصاص وغيره، بخلاف الحدود.[بدائع الصنائع. ج ۵ ص ۵۳۶ .طبع: مكتبه رشيديه].

-[ التاتارخانيه، ج۶ ص ۴۰۸. طبع: مكتبه رشيديه].

(۴) تعزير په حقوق الله کې د دعوی تقدم ته ضرورت نه لري، مدعي د شاهد او شاهد د مدعي حيثيت لري د عدالت په شرط او مخبر عدل د شاهد حيثيت لري په دې شرط چې اخبار یې پر مشاهده او یقین بناء وي، نه پر غالب ظن.[۱]

(۵) په هغه حق العبد کې چې مجرم ته تعزير ورکول یې په دعوی باندې موقوف وي له قاضي پرته بل څوک تعزير نه‌شي ورکولای.[۲]

**مالي تعزير**

**دولسمه ماده:**

(۱) تعزير د مال په اخيستلو سره منع دی.[۳]

(۲) قاضي کولای شي، مجرم ته لاندې دوه ډوله تعزير ورکړي:[۴]

۱- باهلاک المال؛

۲- بحبس المال په غير منقول کې.

**د فساد ځايونه نړول**

**ديارلسمه ماده:**

د مفسدينو، شريرو او فساقو هغه ځايونه چې دوی پکې د عادت له مخې فسادي کړنې تر سره کوي، قاضي دې تعزيراً ونړوي.[۵]

---

(۱)- بخلاف حقوقه تعالى، فان الدعوى فيه ليس بشرط.( شرح المجلة للاتاسي ج ۶ ص ۱۱۷ فی شرح المادة ۱۸۲۹ الناشر: المكتبة الحبيبية –باكستان].

- ويجوز اثباته بمدع شهد به فيكون مدعيا شاهدا لو معه آخر... ويأتي أنه يكفي فيه اخبار عدل واحد، وعليه فلو كان المدعي عدلا يكفي وحده.[ رد المحتار ج ۶ ص ۱۲۰. طبع: رشيديه.]

- قال ابن عرفة بعد أن أشار الى كلام أهل الأصول والفقهاء وتنبيهم عليها: لأنها شرط في الشهادة والخبر.[ معجم المصطلحات والألفاظ الفقهية. ج ۲. ص: ۴۸۰.]

- وَالْحَاصِلُ أَنَّهُ إنْ طَعَنَ الْخَصْمُ سَأَلَ عَنْهُمْ فِي الْكُلِّ وَإِلَّا سَأَلَ فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ وَفِي غَيْرِهَا مَحَلُّ الِاخْتِلَافِ وَقِيلَ هَذَا اخْتِلَافُ عَصْرٍ وَزَمَانٍ وَالْفَتْوَى عَلَى قَوْلِهِمَا فِي هَذَا الزَّمَانِ كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. [البحر الرائق شرح كنز الدقائق: ۱۰٦/۷، كتاب الشهادات، م/ رشيدية].

(۲) بخلاف التعزير الذي يجب حقا للعبد بالقذف ونحوه، فانه لتوقفه على الدعوى لا يقيمه الا الحاكم الا أن يحكما فيه. [رد المحتار ج ۶ ص ۱۰۴ طبع: مكتبه رشيديه.].

(۳) - والحاصل أن المذهب عدم التعزير بأخذ المال.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ٤٤) الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- ( قوله ثم احرق على اقوام(... وفيه حجة على جواز التعزير باهلاک المال، بخلاف التعزير بأخذ المال، فانه منسوخٌ. (منهاج السنن الجزء ۲ ص ۶۰. طبع: مكتبه حقانيه، بيشاور].

(٤) المحتسب اذانهى قطانًا عن وضع القطن على طريق العامة فلم يمتنع فاوقد المحتسب النار فی قطنه و أحرقه يضمن الا اذا علم فسادًا فی ذالک ورأى المصلحة فی احراقه فلايضمن كذافی الخلاصة[الفتاوى الهندية. ج۵ ص ۳۵۴].

- ولو أحرق المحتسب متاع من يبيع على الشوارع يضمن .(الا اذا علم فسادًا فی ذالک ورأى المصلحة فی احراقه فلايضمن.[نصاب الاحتساب.ص ۲۴۴ طبع:دارالكتب الشرعية والادبية كويته].

- ( قوله ثم احرق على اقوام(... وفيه حجة على جواز التعزير باهلاک المال، بخلاف التعزير بأخذ المال، فانه منسوخٌ. (منهاج السنن الجزء ۲ ص ۶۰. طبع: مكتبه حقانيه، بيشاور].

- و معنى التعزير بأخذ المال على القول به امساک شئ من ماله عنده مدة لينزجر ثم يعيده الحاكم اليه، لا أن يأخذه الحاكم لنفسه أو لبيت المال كما يتوهم الظلمة. (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۱۶۷].

(۵) عن اصحابنا فمن اعتاد بأنواع الفساد يهدم عليه بيته. [سراجية ) (الفتاوى الحدود والتعزيرات ص ۱۷۸].

## د عامه مصلحت په خاطر په قتل سره تعزیر

**څوارلسمه ماده:**

(۱) که عامه ګټې د لاندې مجرمینو په مرګ خوندي کیدلې، مصلحتاً د امام په اذن سره تعزیراً وژل کیدای شي.[۱]

۱- پر فساد دوام کوونکی؛

۲- ساعي بالفساد؛

۳- په درانه شي قتل کوونکی؛

۴- د اسلام خلاف د باطلې عقیدې دفاع کوونکی؛[۲]

۵- د اسلام خلاف باطلې عقیدې ته دعوت کوونکی (د مبتدعینو او مفسدینو مشران او روزونکي)؛[۳]

٦- کوډګر (ساحر)؛

۷- زندیق.

(۲) په لاندې مواردو کې امام د مصلحت پر بنا مجرم ته په وژنې سره تعزیر ورکولای شي:[٤]

۱- په تکرار سره جماع کوونکی په غیر قبل کې؛

---

(۱)مطلب: يكون التعزير بالقتل (رأيت في الصارم المسلول للحافظ ابن تيمية: أن من أصول الحنفية أن ما لاقتل فيه عندهم مثل القتل بالمثقل والجماع في غير القبل إذا تكرر فللإمام أن يقتل فاعله، وكذلك له أن يزيد على الحد المقدر إذا رأى المصلحة في ذلك، ويحملون ماجاء عن النبي صلى الله عليه وسلم وأصحابه من القتل في مثل هذه الجرائم على أنه رأى المصلحة في ذلك ويسمونه القتل سياسة. وكأن حاصله: أن له أن يعزر بالقتل في الجرائم التي تعظمت بالتكرار وشرع القتل في جنسها، ولهذا أفتى أكثرهم بقتل من أكثر من سب النبي صلى الله عليه وسلم من أهل الذمة وإن أسلم بعد أخذه، وقالوا يقتل سياسة اهـ.... أن للإمام قتل السارق سياسة: أي: إن تكرر منه ..أن من تكرر الخنق منه في المصر قتل به سياسة لسعيه بالفساد، وكل من كان كذلك يدفع شره بالقتل، ... أن الساحر أو الزنديق الداعي إذا أخذ قبل توبته ثم تاب لم تقبل توبته، ويقتل، لو أخذ بعدها قبلت، وأن الخناق لا توبة له، وتقدم كيفية تعزير اللوطي بالقتل).[ردالمحتار على الدرالمختار:ج ٦ص٩٩-١٠٠ - كتاب الحدود، ط\١٢-م\ أميرحمزة ].

(۲)- لكن الكثيرين من الفقهاء أجازوا استثناء من هذه القاعدة العامة أن يعاقب بالقتل تعزيراً اذا اقتضت المصلحة العامة تقرير عقوبة القتل، أوكان فساد المجرم لايزول الا بقتله، كقتل الجاسوس والداعية الى البدعة ومعتاد الجرائم الخطيرة.[التشريع الجنائي الاسلامي، الجزء الاول ص ٥١٥. طبع: دارالحديث بيروت].

- وجميع الكبائر والأعونة والسعاة يباح قتل الكل ويثاب قاتلهم. انتهى. و أفتى الناصحى بوجوب قتل كل مؤذٍ.[ردالمحتار، جلد ٦ ص ١٠٣. طبع: مكتبه رشيديه].

(۳)والبدعة اذا كانت كفرا، فانه يباح قتلهم عاما، واذا كانت فسقا لا يباح قتلهم عاما ولكن يقتل من كان معلما ورئيسا واماما لهم زجرا وامتناعا. ( حمادية .[ فتاوى الحدود والتعزيرات ص ١٧٦].

(٤)مطلب: يكون التعزير بالقتل (رأيت في الصارم المسلول للحافظ ابن تيمية: أن من أصول الحنفية أن ما لاقتل فيه عندهم مثل القتل بالمثقل والجماع في غير القبل إذا تكرر فللإمام أن يقتل فاعله، وكذلك له أن يزيد على الحد المقدر إذا رأى المصلحة في ذلك، ويحملون ماجاء عن النبي صلى الله عليه وسلم وأصحابه من القتل في مثل هذه الجرائم على أنه رأى المصلحة في ذلك ويسمونه القتل سياسة. وكأن حاصله: أن له أن يعزر بالقتل في الجرائم التي تعظمت بالتكرار وشرع القتل في جنسها، ولهذا أفتى أكثرهم بقتل من أكثر من سب النبي صلى الله عليه وسلم من أهل الذمة وإن أسلم بعد أخذه، وقالوا يقتل سياسة اهـ.... أن للإمام قتل السارق سياسة: أي: إن تكرر منه ..أن من تكرر الخنق منه في المصر قتل به سياسة لسعيه بالفساد، وكل من كان كذلك يدفع شره بالقتل، ... أن الساحر أو الزنديق الداعي إذا أخذ قبل توبته ثم تاب لم تقبل توبته، ويقتل، لو أخذ بعدها قبلت، وأن الخناق لا توبة له، وتقدم كيفية تعزير اللوطي بالقتل).[ردالمحتار على الدرالمختار:ج ٦ص٩٩-١٠٠ - كتاب الحدود، ط\١٢-م\ أميرحمزة ].

رواداری RAWADARI

۲-په تکرار سره لواطت کوونکی؛

۳-په تکرار سره په خپه کولو (تخنیق) سره وژونکی؛

۴-په تکرار سره غلا کوونکی.

## دریم فصل

## د تعزیر مستحقین او اړوند حکمونه

**د مطلق جاني لپاره تعزیر**

**پنځلسمه ماده:**

د هر جنایت لپاره چې حد مقدر نه وي، په هغه جنایت کې تعزیر ورکول کېږي، جاني حُر وي که غلام، نارینه وي که ښځینه، مسلمان وي که کافر، بالغ وي او که کوچنی عاقل د تعزیر مستحق ګڼل کېږي.[۱] البته کوچني عاقل ته تعزیر د تأدیب په غرض ورکول کېږي.

**د انبیاوو علیهم السلام په شان کې د سپکاوي کوونکي لپاره تعزیر**

**شپاړسمه ماده:**

که یو مسلمان د خیر البشر (صلی الله علیه وسلم) یا نورو انبیاوو علیهم السلام په شان کې سپکاوی یا په کوم ډول اهانت وکړي مرتد او د لاندې تعزیر مستحق بلل کېږي:[۲]

۱- که دغه جرم یې له توبې ایستلو پرته ثابت شي، قاضي دې د امام په اذن تعزیرًا قتل کړي؛

۲- که یې توبه ایستلې وه، قاضي دې تر توبې وروسته په شپږ کاله حبس محکوم کړي.

**د مقدسو ورځو، اسلامي شعائرو او علماوو توهین کوونکي لپاره تعزیر**

**اوولسمه ماده:**

(۱) د اسلام د مقدسو ورځو توهین کوونکی شخص مجرم دی، قاضي دې په درې میاشتې حبس محکوم کړي.[۳]

(۲) په شرعي احکامو او اسلامي شعائرو پسخند او تمسخر د تعزیر موجب دی، که قاضي ته ثابته شي چې دا عمل یې په قصدي او شعوري ډول کړی دی، دوه کاله حبس دې ورکړي.[٤]

---

(۱) فیعزر كل عاقلٍ ارتكب جنايةً ليس لها حدٌ مقدرٌ، سواء كان حراً او عبداً ذكراً او أنثى، مسلمًا اوكافراً، بالغًا اوصبيًا بعد أن يكون عاقلاً، لأن هؤلاء من أهل العقوبة الاالصبي العاقل فانه يعزر تأديبًا لاعقوبة لانه من أهل التأديب.[بدائع الصنائع ج ۵ ص ۵۳۴. طبع: مكتبه رشيديه].

(۲)- وأيما رجل مسلم سب رسول الله رصلى الله عليه وسلم اوكذبه اوعابه اوتنقصه، فقد كفربالله تعالى وبانت امرته، فان تاب والا قتل... وسيذكر الشارح عن المحقق المفتي أبي السعود التصريح بأن مذهب الامام الأعظم أنه لا يقتل اذا تاب ويكتفي بتعزيره.[رد المحتارج ۶ ص ۳۶۰ مكتبه رشيديه.]

- قال الزيلعي: وليس في التعزير شيء مقدر. و إنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية، فينبغي أن يبلغ غاية التعزير في الكبيرة .[الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (٤/ ٦٢] الناشر: دار الفكر-بيروت.

(۳) سئل عن شخص شقي، قال فى العشر الأخير من رمضان؛ لعن الله هذه الليالي المباركة، أجاب: يعزر تعزيرا بليغا؛ لأنه استهان بما عظمه الشارع. )(الحدود والتعازير ص ۱۰۱ طبع: دار المقتبسة].

(٤) - منها الممازحة في احكام الشريعة .)( الفتاوى الهندية ص ۱۶۹ ج ۲ طبع: مكتبه رشيدية.]

رواداری RAWADARI

(۳) هر هغه شخص چې په قصد او شعور سره دا ووايي چې: د فقهاء کرامو په شرعي اقوالو عمل نه کوم او یا داسي ووايي: چې د علماوو وينا د منلو نه ده، که قاضي ته ثابته شي چې دا وينا یې په قصدي او شعوري ډول کړې ده، دوه کاله حبس دې ورکړي.[۱]

**امام ته د ښکنځل کوونکي لپاره تعزير**

**اتلسمه ماده:**

امام ته ښکنځل کوونکی شخص مجرم دی، قاضي دې په نهه دېرش (۳۹) درو وهلو سربېره په یو کال حبس محکوم کړي.[۲]

**په مباحاتو کې د امام د امر مخالفت کوونکو لپاره تعزير**

**نولسمه ماده:**

(۱) په مباح امورو کې چې کله امام یې د کولو حکم وکړي د یادو امورو عملي کول واجب او مخالفت کوونکی یې د تعزير مستحق دی.[۳]

(۲) له مباح امورو څخه چې کله امام منع وکړي د یادو امورو کول حرام دي او مخالفت کوونکی یې د تعزير مستحق دی.

(۳) د دې مادې په (۱ او ۲) فقره کې یاد مخالفت کوونکی په یو میاشت حبس محکومېږي.[٤]

**د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له حکمونو اوفرمانونو څخه د سرغړوونکو په عزل سره تعزير**

**شلمه ماده:**

د ټولو امارتي کار کوونکو او مسئولینو تعزير له وظیفي څخه په عزل سره، یوازې د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمانونو او حکمونو څخه د نافرماني په صورت کې کېږي.[٥]

---

- [الفتاوی التاتارخانیة ص ۳۹۸ ج ۶].

(۱) - ولو قال أنا لا أعمل بفتوى الفقهاء اوليس كما قال العلماء، فانه يعزرولا يكفر.)( الفتاوی الانقرویة ج ۱ ص ۱۵۷].

- وفي الخانية لو قال أنا لا أعمل بفتوى الفقهاء أوليس كما قال العلماء فإنه يعزر .[ نصاب الاحتساب ص ۱۱۵ ].

(۲)وفی السیرالکبیراذا شتم الامام الاعظم احد یفوض الی غیره اقامته ولا یقیمه بنفسه ولا یشتم .[العنایه علی فتح القدیر ج ۵ ص ۱۱۳ الناشرمکتبه حبیبیه کوته ].

(۳) -أجمع العلماء على وجوب طاعته فی جميع الأمورمما ليس بمعصية وان كان مما يشق ويكرهه النفوس، فاذا أمرالوالي من المباحات -وجب طاعته فيه وحرمت المخالفة.[أحكام الأراضي لمحمد على التهانوي ص ۹۷، طبع: مكتبة الملك الفهد، رياض].

- أن بعض المباحات قد تصيرواجبات بأمرالحكام، لكونهم من أولي الأمر، وقد أمرنا بإطاعتهم أيضا. [فيض الباري على صحيح البخاري، ج٥ ص ۲٤۳، الناشر: دارالكتب العلمية بيروت - لبنان].

- قال في المعراج: لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتارعلى الدرالمختار ج ۲ ص ۱۷۲]دارالفكربيروت].

- يتبين لنا وجوب تقيد الناس بأنظمة المرورالصادرة عن ولى الأمر.[ الفقه الحنفي في ثوبه الجديد ج ۳ ص ۳٦۷].

- فی دستورالقضاة من خلاصة الفقه .من خالف درهة سلطان فانه يعزر.[فتاوی متانه ج۲ ص ۹۱۷].

(٤) المرجع السابق.

(٥) - (استحقاق تصرف عام على الأنام) قال الر افعی: قوله:(هو متعلق بتصرف لا باستحقاق الخ) الظاهرصحة تعلقه بكل من استحقاق وعام ايضا، اذ من ثبت له صفة الامامة استحق على الانام التصرف العام بمعنى ان له ولاية التصرف فی كافة شؤنهم الدنيوية الاخروية ..... فالمستحق له عليهم شيئان التصرف عليهم والانقياد لهذا التصرف فمن نازغه فی استحقاق التصرف اولم ينقد اثم بترک الواجب.[رد المحتارعلى الدرالمختار ج ۲ ص ۳۳۲ مكتبه رشيدية].

## د نورو امراوو د اوامرو څخه مخالفت کوونکي لپاره تعزير

**يوويشتمه ماده:**

په امارتي ادارو کې مجاهد، عسکر يا کار کوونکی که د آمر د امر مخالفت وکړي، د مؤجه عذر د نه شتون په صورت کې په لاندې ترتيب سره تعزيريږي:

۱- آمر بايد نصيحت ورته وکړي؛

۲- د مخالفت د تکرار په صورت کې د دې اصولنامې د نهمې مادې د (۱) فقرې د ۳ جزء موافق تعزير ورکول کېږي؛

۳- د دريېم وار په صورت کې د دې اصولنامې د نهمې مادې د (۱) فقرې د ۴ جز موافق تعزير ورکول کېږي.[۱]

## پر خپل وخت وظيفه نه ترسره کوونکو لپاره تعزير

**دوه ويشتمه ماده:**

حکومتي خدمت له شرعي عذر پرته پر خپل وخت او يا په سم ډول نه تر سره کول، جرم او د تعزير موجب عمل دی، قاضي دې د دې اصولنامې د نهمې مادې د مراتبو موافق تعزير ورکړي.[۲]

## عامه حکومتي کار کوونکو او امارتي منسوبينو سپکاوي کوونکي لپاره تعزير

**درويشتمه ماده:**

(۱) د وظيفې په جريان کې پر عامه حکومتي کارکوونکو او پر عمومي خدماتو ګمارل شويو اشخاصو تېرى کول، د حکومتي کارکوونکو سپکاوی کول، په ځانګړې توګه عسکر يا کوم مجاهد ته لاس اچول، جامې يې ورشېرل، بد رد ورته ويل، د محکمې سپکاوی کول او قضايي مجلس اخلالول موجب تعزير اعمال دي، قاضي دې په لس ورځې حبس محکوم کړي.[۳]

---

- العزل من الوظيفة: وتطبق على الذين يتولون الوظائف العامة سواء كان اداء الوظيف، بمقابل اومجانا.[التشريع الجنائى الاسلامي لعودة ج ۱ ص ۵۲۶].

-[ الموسوعة الجنائية فى الفقه الاسلامي، طبع: دارالنهضة العربية، بيروت].

(۱) اذا أمر الأمير أهل العسكربشئ، فعصى فى ذالک واحد من أهل العسكر، فالاميرلا يؤدبه فى اول الوهلة، ولكن ينصحه حتى لا يعود الى مثل ذالک ابلاء للعذر، فان عصاه بعد ذالک أدبه الا أن يبين فى ذالک عذرفحينئذيخلى سبيله ولكن يحلف بالله تعالى لقدفعلت هذابعذرلانه يدعى مايمنع وجوب التعزيرعليه. [الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۱۹۲. طبع: مكتبه رشيدية.]

-[الموسوعة الجنائية فى الفقه الاسلامي ج ۱ ص ۳۶۳].

(۲)-وأن الأصل في كل عقد أن يوفي لكل أحد وعلى كل أحد ما التزمه بعقده إلا أن يكون عقدا نهى الشرع عنه، وهو قوله صلى الله عليه وسلم: " المسلمون على شروطهم إلا شرطا أحل حراما أوحرم حلال ".[ حجة الله البالغة، ج۲ ص ۲۶۲ ، الناشر: دارالجيل، بيروت - لبنان].

-لأن الوفاء بما التزمه مستحق عليه شرعا كما التزمه.[المبسوط للسرخسي، ج ۲٤ص ۱٤٥، الناشر: دارالمعرفة - بيروت، لبنان ].

- فالمستحق له عليهم شيئان التصرف عليهم والانقياد لهذا التصرف فمن نازغه فى استحقاق التصرف اولم ينقد اثم بترک الواجب.[رد المحتارعلى الدرالمختارج ۲ ص ۳۳۲ مكتبه رشيدية].

- كل من أرتكب معصية ليس فيها حد مقدروثبت عليه عند الحاكم، فانه يجب عليه التعزير. [البحرالرائق ج ۵ ص ۷۰ طبع: مكتبه حنفيه.]

-أما التعزيرفهو التأديب بما يراه الحاكم زاجراً لمن يفعل فعلاً محرماً عن العودة إلى هذا الفعل، فكل من أتى فعلاً محرماً لا حد فيه، ولا قصاص، ولا كفارة، فإن على الحاكم أن يعزره بما يراه زاجراً له عن العودة، من ضرب، أوسجن، أوتوبيخ. [الفقه على المذاهب الأربعة، ج۵ ص ۳٤۹، الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت - لبنان].

(۳) المرجع السابق.

- [فتاوى الاسعديه ج ۱ ص ۴۵۴ المكتبة الحقانية].

(۲)که یو شخص د امارتي منسوبو مشرانو سپکاوی وکړي، قاضي دې په شل درو وهلو سربېره په شپږ میاشتې حبس محکوم کړي.[۱]

**د مخالفینو خلاف د نه اقدام او نه اطلاع ورکوونکو لپاره تعزیر**

**څلورویشتمه ماده:**

که یو شخص د نظام د مخالفینو تخریبي مجلسونه او مشورې وویني یا علم پرې ولري، خو نه یې پر خلاف پخپله اقدام کوي او نه د امارت اړوند ادارو ته خبر ورکوي، لیدونکی او علم لرونکی شخص مجرم دی، قاضي دې په دوه کاله حبس محکوم کړي.(۲)

**محاربینو، غلو او باغیانو ته د پناه ورکونکي لپاره تعزیر**

**پنځه ویشتمه ماده:**

محاربینو، غلو، باغیانو او دې ته ورته نورو مفسدینو ته پناه ورکوونکی شخص مجرم دی، قاضي دې د نهه دېرش (۳۹) درو وهلو سربېره په پنځه کال حبس محکوم کړي.[۳]

**له حنفي مذهب څخه د وتونکو لپاره تعزیر**

**شپږ ویشتمه ماده:**

په افغانستان کې د حنفي مذهب مقلدین نشي کولای چې د حنفي مذهب څخه ووځي، که څوک ووځي او قاضي ته ثابته شي دوه کاله حبس دې ورکړي.[٤]

---

(۱) المرجع السابق.

(۲) وكذالك ( التعزير) من يرى أعداء يأتمرون على الدولة ولا يعمل على منعهم او ابلاغ الأمر للمختصين، ليقضوا على ائتمارهم. [العقوبة فى الفقه الاسلامي لأبي زهرة ص ۸۵ طبع: دار الفكر العربي].

(۳) أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدار ذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدر جريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدر التعزير فيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ۲٤ ص ۳٦ الناشر: دار المعرفة – بيروت].

(٤)- قوله (ارتحل إلى مذهب الشافعي يعزر) أي إذا كان إرتحاله لا لغرض محمود شرعا. [رد المحتار على الدر المختار: ج ٦ ص۱۲۸ الناشر: دار المعرفة].
قال الر افعي في ذيل هذه العبارة: ونقل عن الرحمتي أن هذا إذا كان كراهةً لما انتقل عنه، وحيلئذ ينبغي أن يكون لا فرق بين مذهب ومذهب.
- والحق ان الائمة المقتدى بهم في الدين كلهم على هدى مستقيم فاى مذهب من مذاهيم كان شائعا في بلد من البلاد وفي العلماء به كثرة يجب على العامي اتباعه ولا يجوزله تقليد امام ليس مذهبه شائعا في بلده ولا في العلماء به كثرة لتعذر الوقوف على مذهب ذلك الامام في جميع الاحكام والحال هذه فافهم فان الحق لا يتجاوزعنه ان شاء الله تعالى.[ اعلاء السنن ج ۲۰ ص ۲۹۰ الفائدة الحادية العشر ط ادارة القرآن و العلوم الاسلامية ].
- وَأما دون ذَلِك من النَّاس فمذهبه فِيمَا يرد عَلَيْهِ كثيرا مَا أَخذه عَن أَصْحَابه و آبائه وَأهل بَلَده من الْمذَاهب المتبعة، وَأَنه إِذا اخْتلفت مَذَاهِب الصَّحَابَة وَالتَّابِعِينَ فِي مَسْأَلَة فالمختار عِنْد كل عَالم مَذْهَب أهل بَلَده وشيوخه لِأَنَّهُ أعرف بِصَحِيح أقاويلهم عَن السقيم وأوعى للاصول الْمُنَاسبَة لَهَا وَقلبه أميل إِلَى فَضلهمْ وتبحرهم.[حجة الله البالغة: ج۱ ص ۳۱۰، تتمة، باب أسباب اختلاف الصحابة والتابعين في الفروع، إذا اختلفت مذاهب الصحابة والتابعين، الناشر: دار إحياء العلوم - بيروت لبنان].

**د بدعاتو نشروونکي لپاره تعزیر**

**اووه ویشتمه ماده:**

هغه مبتدعین چې د دعوت له لارې په ا جتماعي یا انفرادي توګه بدعات خپروي او په دې سره د حکومت او رعیت نفسونو او مالونو ته ضرر رسوي او یا عامه امنیت ته ضرر پیښوي، قاضي دې په لس کاله حبس محکوم کړي.[1]

**د حیله ګر مفتي، جعلي ډاکتر، طبیب او غفلت کوونکو لپاره تعزیر**

**اته ویشتمه ماده:**

(۱) قاضي مکلف دی، جعلي ډاکتر،طبیب او حیله ګر مفتي د خپل ناوړه کار څخه منع کړي، د بیا تکرار په صورت کې دې په یوه میاشت حبس محکوم کړي.[2]

(۲) قاضي دې هغه مؤظفو علماوو او ښوونکو ته چې د فرضي ضروري احکامو او ضروري صحیحه عقیدو په ښوونه کې د مسلمانانو سره خپل کوښښ نه کوي، او هغه زده کوونکي چې د فرضي ضروري احکامو او ضروري صحیحه عقیدو په زده کړه کې غفلت کوي، د دې اصولنامې د نهمې مادې د مراتبو موافق تعزیر ورکړي.[3]

**په امانت او بیت المال کې د خیانت کوونکي لپاره تعزیر**

**نهه ویشتمه ماده:**

(۱) په اماناتو کې خیانت او په ورکړه کې ناغیري کوونکی مجرم دی، قاضي دې د امانت د ادا کولو تر وخته په حبس محکوم کړي.[4]

(۲) د بیت المال په پیسو او اسبابو کې اختلاس او خیانت کوونکی شخص مجرم دی، قاضي دې د اختلاس شوي مال په استرداد سربېره په شپږ میاشتې حبس محکوم کړي.[5]

رواداری RAWADARI

---

(۱) السياسة استصلاح الخلق لا تختص بالزنى بل تجوز فى كل جناية، والرأى فيها الى الامام على ما فى الكافي، كقتل مبتدع يتوهم منه انتشاربدعته و ان لم يحكم بكفره كما فى التمهيد. [رد المحتارج ۶ ص ۲۳ طبع: مكتبه رشيدية.]

- والمبتدع لوله دلالة ودعوة للناس الى بدعته ويتوهم منه أن ينشر البدعة وان لم يحكم بكفره جازللسلطان قتله سياسة زجرا. [رد المحتارج ۶ ص ۳۷۲ طبع: مكتبه رشيدية.]

-[جامع الرموزج ۲ ص ۵۲۱ طبع: ايچ، ايم، سعيد].

-[ مجموعة الفتاوى على هامش خلاصة الفتاوى ج جزء ۴ ص ۴۴۸ ].

(۲)أن على ولى الأمر أن يمنع المفتي الماجن الذي يعلم الحيل الباطلة والطبيب الجاهل، فمنع هؤلاء المفسدين لأديان والأبدان دفع اضرار بالخاص والعام، فهو من الأمربالمعروف والنهى عن المنكر.[الفقه الحنفي في ثوبه الجديد ج ۳ ص ۳۱۹].

- (المادة ٢٦) يتحمل الضرر الخاص لدفع ضررعام[دررالحكام في شرح مجلة الأحكام (ج۱ص ٤٠) الناشر: دارالجيل].

(۳) ويدخل أيضا فى ارتكاب المنكر اهمال الواجبات الدينية، ومن جملتها التعليم والتعلم، فاذا قصر العالم في واجب التعليم او قصر الجاهل في تعلم القدرالواجب شرعا من العلم، استحقا عقوبة التعزيرعلى التقصير.[ المدخل الفقهي العام للزرقاءج ۲ ص ۶۹۳ ].

(٤) أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدر جريمته. [المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].

(٥) المرجع السابق.

## د ماشومانو وهوونکي معلم يا استاد لپاره تعزير

**دېرشمه ماده:**

قاضي دې معلم يا استاد د ماشوم په داسې وهلو سره چې هډوکی يې مات کړي يا پوستکی څېري کړي او يا په بدن کې توروالی او شينوالی ښکاره شي په عزل سره تعزير کړي.[1]

## د مور او پلار وهونکي لپاره تعزير

**يودېرشمه ماده:**

د مور او پلار وهونکی او يا بې عزتي کوونکی شخص مجرم دی، قاضي دې په دېرش دُرو وهلو سربېره په پنځه مياشتې حبس محکوم کړي.[2]

## د مېړه لپاره تعزير

**دوه دېرشمه ماده:**

که يو مېړه خپله ښځه (مېرمن) په ضرب فاحش (کسر، زخم او يا په بدن کې شينوالی ښکاره شي) سره ووهي، او مېرمن خپله دعوی د قاضي په وړاندې ثابته کړي، مېړه مجرم دی، قاضي دې په پنځلس ورځو حبس محکوم کړي.[3]

## د لعان څخه انکار کوونکي لپاره تعزير

**درې دېرشمه ماده:**

که يو مېړه د خپلې ښځې (مېرمن) سره له لعان کولو څخه انکار وکړي، قاضي دې مېړه د ځان د تکذيب يا لعان کولو په غرض په يوکال حبس محکوم کړي، که يې د کال په دوران کې لعان يا د ځان تکذيب وکړ، قاضي دې د هغه مطابق خپله فيصله وکړي.[4]

---

(١)-لوضرب المعلم الصبي ضربا فاحشا، فانه يعزره. )(الدرالمختارمع الرد المحتارج ۶ ص ١٢٧ طبع: مکتبه رشيدية].

- وهو الذي يكسر العظم أويخرق الجلد أويسوده كما في التاترخانية [حاشية ابن عابدين - الفكر(ج٤ص ٧٩) الناشر: دارالفكر للطباعة والنشر

(٢) - سوال: رجل سب أمه و آذاها ولعنها. ما ذا يستحق شرعاً؟ الجواب: يستحق هذا الخبيث السحيق التعزير الشديد والضرب والتهديد. [فتاوى الاسعديه ج ١ ص ۴۳۴ ط الحقانية].

- سئل فی رجل له ابن، ثم أن الوالد أنكرمن الولد خلافا، فأراد زجره باللسان عن فساد الوقت لما يجب للوالد على الولد ثم أن الولد ضرب الوالد حتى طرحه و غسله بالدماء ما يکون الحد فی ذالک؟ أجاب: يستحق هذا الولد العاق لأبيه الذي لم يراع حرمة والده ولم ير اقب حق الله فيه المتجاهربهذه المعصية العظيمة. [عدة أرباب الفتوى ص ٧٩].

(٣) ادعت على زوجها ضربا فاحشا وثبت ذلك عليه عزر... وهو الذي يكسر العظم أويخرق الجلد أويسوده كما في التاترخانية .[الدرالمختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج٤ص ٧٩) الناشر: دارالفكر-بيروت].

(٤) وإذا طالبته يجبره عليه، ولو امتنع يحبس لامتناعه عن الواجب عليه كالممتنع من قضاء الدين فيحبس حتى يلاعن أويكذب نفسه. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (ج٣ص ٢٣٨ الناشر: دارالكتب العلمية].

- ذهب الحنفية: الى أنه ان امتنع الزوج عن اللعان، حبس حتى يلاعن اويكذب نفسه، فيحد حد القذف.[الفقه الاسلامي وادلته ج ٧ ص ٥٤٤].

## د ښځې (مېرمنې) او د هغې د پلار لپاره تعزير

**څلور دېرشمه ماده:**

که ښځه (مېرمن) د مېړه له اجازې پرته د پلار يا نورو اقاربو کورته بې له شرعي موجبه بار بار تله او هلته پاتې کيده، د مېړه د غوښتنې او د قاضي له فيصلې سره سره د ښځې (مېرمنې) پلار او يا نورو اقاربو يې، مېړه ته خپله ښځه په لاس نه ورکوله، ښځه او مانع يې مجرمين دي، قاضي دې دواړه په درې مياشتې حبس محکوم کړي.[1]

## د پلار او نيکه لپاره تعزير

**پنځه دېرشمه ماده:**

(۱) اصل (پلار، نيکه...) د فرع (زوی ، لمسی...) په هغه دَين کې چې پر اصل (پلار،نيکه...) باندې وي نه حبس کېږي، خو د ولد صغير، معيوب بالغ، يتيم او د غير منکوحې لور د نفقې نه ورکولو په صورت کې دې قاضي په درې مياشتې حبس محکوم کړي.[2]

(۲) هغه ماشوم چې پلار يا وصي و نه لري په دين د استهلاک کې نه حبس کېږي که څه هم ځمکه او سامان ولري، خو هغه ماشوم چې پلار يا وصي ولري او په دين د استهلاک کې د ماشوم د مال څخه د اداء مانع وگرځي، قاضي دې د ماشوم پر ځای پلار او وصي په دوه مياشتې حبس محکوم کړي.[3]

## مسلمان ته د فاسق و غيره خطاب کوونکي لپاره تعزير

**شپږ دېرشمه ماده:**

هغه شخص چې بل مسلمان ته فاسق، خبيث او کافر ووايي يا چاته ووايي چې تا د غوا يا خرې سره زنا کړې، يا چاته په خره يا خنزير سره خطاب وکړي او داسې نورو اعمالو ترسره کوونکی شخص مجرم دی، قاضي دې په يوه نيمه مياشت حبس محکوم کړي.[4]

رواداری RAWADARI

---

(۱) سئل عن امرأة تخرج من بيت زوجها بغير اذنه، وبغير موجب شرعي، فتمكث عند أبيها مدة، وتكرر ذالک منها، فاذا طلبها الزوج من أبيها وامتنع بغير حق بعد امر القاضي له بتسليمها ومخالفته أمره، يلزمه واياها التعزير؟ أجاب: نعم يلزمهما التعزير. [الفتاوى التمرتاشي ج ۱ ص ۲۶۴].

(۲) لا يحبس واحد من الأبوين بدين الابن... الا أن يجب عليه نفقته وكل من أجبربه على النفقة وأبى حبسه. (الفتاوى التاتارخانية ج ۱۱ ص ۳۳۰].

-[ أدب القضاء للسروجي ص ۱۷۰، طبع: دارالبشائر، بيروت].

(۳)- لا يحبس صبي علي دين الاستهلاک ولوله مال من عروض وعقاراذا لم يكن له أب اووصى، والرأى فيه للقاضي، فيأذن فى بيع بعض ماله للايفاء، ولوله أب اووصى يحبس ان امتنع من قضاء دينه من ماله: اى: مال الصبى، ولا يحبس الصبى الا بطريق التأديب لئلا يتجاسر الى مثله اذا باشر شيئا من اسباب التعدي قصدا، فلو خطأ فلا.[ رد المحتار ج ۸ ص ۱۳۷ طبع: مكتبه رشيدية.]

-[ادب القضاء للسروجي ص ۱۷۵.)

(٤) اربعة عشر نفرا يعزر قاذفهم ولا يحد: واذا قذف عبدا، اوأمة، اومدبرا، اومكاتبا، اوأم ولد، اوصبيا، اومجنونا، اوكافرا، او محدودا في الزنا، او امرأة ملاعنة بولد، اوقذف امرأة ومعها اولاد لا يعرف لهم والد، اوقال لمسلم: يا فاسق، يا خبيث، يا كافر، اوقال: زنيت بأتان او بقرة اوقال: يا حمار يا خنزير.[الفتاوى التاتارخانية ج ۶ ص ۴۰۶].

## د نامحرمه ښځو سره نا مشروع اړیکه لرونکي لپاره تعزیر

### اووه دېرشمه ماده:

هر هغه شخص چي نا محرمه ښځې سره نا مشروع اړیکه ټینګه کړي (مچول، لاس وهل اوغاړه په غاړه کېدل) قاضي دې په یوکال حبس محکوم کړي.[1]

## د همسایه ښځو ته د کتونکي لپاره تعزیر

### اته دېرشمه ماده:

د همسایه ښځو ته کتل، اشارې ورته کول، په خبرو کې د دوی د بدن کیفیت بیانول او د دوی د حالاتو پوښتل، جرم دی، قاضي دې مرتکب په یوه میاشت حبس محکوم کړي.[2]

## همسایه ته د ضرر رسوونکي لپاره تعزیر

### نهه دېرشمه ماده:

همسایه ته ضرر رسول (ښکنځل ورته کول، د کور مخته یې امبار غورځول، د کور دروازه پسې قلفول) او داسې نور اعمال جرم دی، قاضي دې مرتکب په لومړي ځل لس ورځې او د تکرار په صورت کې په دوه میاشتې حبس محکوم کړي.[3]

## د فساقو سره د تعلق لرونکي لپاره تعزیر

### څلوېښتمه ماده:

هغه شخص چي د تهمت په ځایونو کې لیدل کېږي ( فساقو، غلو او شرابیانو سره کښېني یا د دوی سره د جرم په وخت کې ناسته ولاړه کوي)، قاضي دې هغه په یو میاشت حبس محکوم او د یاد جرم د تکرار په صورت کې دوه برابره سزا ورکړي.[4]

## په روژه خوړلو او په روژه کې د شرابو د څښونکي لپاره تعزیر

### یوڅلوېښتمه ماده:

(۱) که یو مکلف مسلمان د روژې په میاشت کې له عذر پرته قصداً روژه وخوري، قاضي دې هغه په شل (۲۰) درو وهلو سربېره په دوه میاشتې حبس محکوم کړي.[5]

---

(۱) رجل قبل أجنبية حرة اوأمة اوعانقها اومسها بشهوة، يعزر. [الفتاوى التاتارخانية ج ۶ ص ۴۰۶].

- الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۱۶۹. طبع: مكتبه رشيدية.]

(۲) سؤال: فيمن قال لرجل ينظر الى نساء جيرانه من مزوجات وأرامل، وأبكار... الغ الجواب: يستحق كل منهما التعزير الائق بحاله.)

[الفتاوى الاسعدية باب التعزير ج ۱ ص ۴۱۶، ط: حقانيه].

(۳) فى جارسوء من أحد الجيران أضر بجاره نحو عشر سنين بأنواع الأذية من سبه وسب والديه، ووضع النجاسة الغليظة على بابه وغلق بابه عليه من الخارج وهو لا يشعر... الغ أجاب: الجار الموصوف بهذه الأوصاف العاري عن المروءة والانصاف... وغيرذالک مما وردت به الأحاديث والاخبار يستحق التعزير الشديد بالضرب والتهديد.[عدة أرباب الفتوى ص ۸۳، طبع: مكتبه عربيه].

(٤) ويعزر من شهد شرب الشاربين والمجتمعون على شبه الشرب وان لم يشربوا، ومن معه ركوة خمر. [فتح القديرج ۵ ص ۱۱۹ طبع: رشيدية، كويته].

- فتاوى التاتارخانية ج ۶ ص ۴۰۴ طبع: مكتبة الطارق].

-[ الموسوعة الجنائية فى الفقه الاسلامي ج ۱ ص ۳۲۸ طبع: دارالنهضة العربية، بيروت].

(۵) - أفطر مسلم مقيم في رمضان متعمدا يعزرويحبس بعد ذالک.[الفتاوى الأنقروية ج ۱ ص ۱۵۸].

- [الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۱۶۹ طبع: مكتبه رشيدية.]

- [الفتاوى التاتارخانية ج ۶ ص ۴۰۴].

رواداری RAWADARI

(۲) که یو مکلف مسلمان د روژې په میاشت کې د ورځې شراب و څښي، قاضي دې هغه د حد له جارې کېدو سره په شل(۲۰) درو وهلو تعزیراً محکوم کړي.[۱]

### د اختطاف کوونکي لپاره تعزیر

**دو څلوېښتمه ماده:**

(۱) اختطاف د لوی سړي وي که د ماشوم، د شخصي ګټې په غرض وي او که مختطف ته د ضرر رسولو په غرض قاضي دې اختطاف کوونکی، په لس کاله حبس محکوم کړي.[۲]

(۲) که اختطاف کوونکي، مختطف قتل کړی و د محکمې په حکم هغه د اعدام په جزاء محکومېږي.[۳]

### د قاچاقبرانو لپاره تعزیر

**درې څلوېښتمه ماده:**

که یو شخص د انساني قاچاق د جرم مرتکب شي قاضي دې قاچاقبر په لومړي ځل په یو کال حبس، په دوهم ځل په دوه کاله حبس او په درییم ځل په درې کاله حبس محکوم کړي.

### د قاتل لپاره تعزیر

**څلورڅلوېښتمه ماده:**

(۱) قاضي کولای شي، د قصدي قتل قاتل تر عفوې وروسته، که مشهور بالفساد وي په یو کال حبس محکوم کړي.[٤]

(۲) قاضي دې د قتل په جرم کې د قاتل معاون (مرسته کوونکی) په یوکال حبس محکوم کړي.[٥]

---

(۱) وروى احمد أن النجاشي الشاعرجيئ به الى على رضى الله تعالى عنه، وقد شرب الخمرفى رمضان، فضربه ثمانين ثم ضربه من الغد عشرين، لكن ذكرفى الفتح أنه ضربه العشرين فوق الثمانين لفطره فى رمضان، كما جاء فى رواية أخرى أنه قال له: ضربناك العشرين بجرأتك على الله وافطارك فى رمضان. [رد المحتارج ۶ ص ۱۰۷ طبع: مكتبه رشيديه كويته].

- [الموسوعة الجنائية فى الفقه الاسلامي ج ۱ ص ۳۲۸].

(۲)- سئل فى رجل عمد الى بكر بالغة فى نكاح غيره فخطفها.... اجاب جزاء الخاطف و من اكرمه و آواه على هذه المعصية المعظمة الضرب الشديد والحبس المديد. الفتاوى الخيرية لنفع البرية ج ۱ ۲۵۷ مكتبه نعمانية ].

-[الحموي ج ۲ ص ۶۸]

- [فتاوى التاتارخانية ج ۶ ص ۴۰۶].

ولوغصب صبيا حرا وغاب عن يده لايدرى أقتل أم لا؟ يحبس الغاصب حتى يخبربه اويعلم أنه قد مات؛ لأنه واجب الرد. [الفتاوى الحمادية ج ۱ ص ۲۳۳.طبع مخطوطه].

(۳) - اذا عفا أولياء الدم عن القاتل، كان اطلاقه خطرا على الأمن؛ لأنا نقول: ان ولى الدم فى الغالب يصرعلى القصاص، واذا فرض وعفا عنه، ولكن رأى الحاكم أن اطلاقه يهدد الأمن العام، أن يعزره بما شاء.[الفقه على المذاهب الاربعة ج ۵ ص ۲۰۵ طبع: مكتبه رشيديه].

- السياسة استصلاح الخلق لا تختص بالزنى بل تجوزفى كل جناية، والرأى فيها الى الامام على ما فى الكافي، كقتل مبتدع يتوهم منه انتشاربدعته وان لم يحكم بكفره كما فى التمهيد. [رد المحتارج ۶ ص ۲۳ ].

-[جامع الرموزج ۲ ص ۵۲۱ طبع: ايچ، ايم، سعيد].

-[ مجموعة الفتاوى على هامش خلاصة الفتاوى ج جزء ۴ ص ۴۴۸ ].

(٤) اذا عفا أولياء الدم عن القاتل، كان اطلاقه خطرا على الأمن؛ لأنا نقول: ان ولى الدم فى الغالب يصرعلى القصاص، واذا فرض وعفا عنه، ولكن رأى الحاكم أن اطلاقه يهدد الأمن العام، أن يعزره بما شاء.[الفقه على المذاهب الاربعة ج ۵ ص ۲۰۵ طبع: مكتبه رشيديه].

(٥)- ولوأنه اذا امسك احدهم ورصد أحدهم، وقتل الآخر، يقتل القاتل، ولا شئ على الممسك والراصد الا التعزير.[طحاوي بحوالة نور الهدى ۲۵۱ طبع: مكتبه حقانيه].

رواداری RAWADARI

(۳) قتل عمد په نکول سره نه ثابتیږي، د قتل عمد متهم به قاضي د اقرار او یا قسم په غرض په یو کال حبس محکوم کړي، که یې د کال په دوران کې اقرار یا قسم وکړ، قاضي دې خپله فیصله وکړي.[۱]

**د نشه یي توکو او زهرو ورکوونکي لپاره تعزیر**

**پنځه څلویښتمه ماده:**

(۱) که کوم شخص بل شخص ته نشه یي توکي ورکړي او مال یې ور څخه یوسي مجرم دی، قاضي دې د وړل شوي مال د ضمان سربېره په پنځه کاله حبس محکوم کړي.(۲)

(۲) که کوم شخص بل شخص ته په څښاک یا خوراک کې زهر ورکړي، د څښلو او یا خوړلو وروسته د هغه د مرگ سبب شي یاد شخص مجرم دی، قاضي دې په پنځه کاله حبس محکوم کړي.[۳]

**د جارح لپاره تعزیر**

**شپږ څلویښتمه ماده:**

که کوم شخص بل شخص داسې زخمي کړي چې أرش پکې لازمیدی، قاضي دې د توبې د آثارو د ښکاره کېدلو په موخه په شپږ میاشتي حبس محکوم کړي.[٤]

**د مشهور بالفساد لپاره تعزیر**

**اووه څلویښتمه مادة:**

(۱)که یو شخص په غلاء، قتل او زنا متهم او مشهور وي او یا د خلکو د نفسونو، مالونو او حیواناتو په هلاکولو مشهور وي، قاضي دې د توبې د آثار د ښکاره کېدلو په موخه تر یو کال پورې په حبس محکوم کړي.[٥]

---

-[الفتاوى الهندية ج ۶ ص طبع: مكتبه رشيدية.]

(۱)وَنَحْنُ بِهِ نَقُولُ هَذَا إذَا نَكَل عَنْ الْيَمِينِ فِي دَعْوَى الْمَالِ فَإِنْ كَانَ النُّكُولُ فِي دَعْوَى الْقِصَاصِ فَنَقُولُ لَا يَخْلُو إمَّا أَنْ تَكُونَ الدَّعْوَى فِي الْقِصَاصِ فِي النَّفْسِ وَإِمَّا أَنْ تَكُونَ فِيمَا دُونَ النَّفْسِ فَإِنْ كَانَ فِي النَّفْسِ فَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ لَا يُقْضَى فِيهِ لَا بِالْقِصَاصِ وَلَا بِالْمَالِ لَكِنَّهُ يُحْبَسُ حَتَّى يُقِرَّ أَوْ يَحْلِفَ أَبَدًا وَإِنْ كَانَ الدَّعْوَى فِي الْقِصَاصِ فِي الطَّرَفِ فَإِنَّهُ يَقْضِي بِالْقِصَاصِ فِي الْعَمْدِ وَبِالدِّيَةِ فِي الْخَطَإِ وَعِنْدَهُمَا لَا يُقْضَى بِالْقِصَاصِ فِي النَّفْسِ وَالطَّرَفِ جَمِيعًا وَلَكِنْ يَقْضِي بِالْأَرْشِ وَالدِّيَةِ فِيهِمَا جَمِيعًا بِنَاءً عَلَى أَنَّ النُّكُولَ بَذْلٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ - رَحِمَهُ اللَّهُ - وَالطَّرَفُ يَحْتَمِلُ الْبَذْلَ وَالْإِبَاحَةَ فِي الْجُمْلَةِ فَإِنَّ مَنْ وَقَعَتْ فِي يَدِهِ أَكِلَةٌ وَالْعِيَاذُ بِاَللَّهِ تَعَالَى فَأَمَرَ غَيْرَهُ بِقَطْعِهَا يُبَاحُ لَهُ قَطْعُهَا صِيَانَةً لِلنَّفْسِ وَبِهِ تَبَيَّنَ أَنَّ الطَّرَفَ يَسْلُكُ مَسْلَكَ الْأَمْوَالِ لِأَنَّهُ خُلِقَ وِقَايَةً لِلنَّفْسِ كَالْمَالِ فَأَمَّا النَّفْسُ فَلَا تَحْتَمِلُ الْبَذْلَ وَالْإِبَاحَةَ بِحَالٍ. [بدائع الصنائع ص:۲۳۰ ج: ۶ كتاب الدعوى فصل في حكم الامتناع عن تحميل اليمين.) مكتبه رشيديه].

(۲) وأما الذي يسقى الناس البنج، والشكوان، وجوزبوا، وجوزقاتل ونحوها مما يذهل الناس ويذهب بالعقل ثم يأخذ ماله، فان هؤلاء لا يقتلون و لكن يعاقبون العقوبة الشديدة ويحبسون حتى توبتهم ويغرمون ما أخذوا من الناس. [الفتاوى الحمادية ج ۱ ص ۲۳۳].

(۳)- ان دفع ( السم ) اليه فى شربه، فشرب ومات لا تجب الدية؛ لأنه شرب باختياره، الا أن الدافع خدعه فلا يجب فيه الا التعزير.)( نصاب الاحتساب ص ۱۱۵].

- الخانية على هامش الفتاوى الهندية ج ۳ ص ۴۴۰ طبع: مكتبه رشيدية.]

(٤) - ومن جرح منهم جراحة يدفع إلى صاحبه، فيقتص منهم إن كان يستطاع فيها القصاص، وإن لم يستطع كان عليه الأرش في ماله.[ الأصل للشيباني (ج ۷ص ۲۸۸) الناشر: دارابن حزم، بيروت – لبنان].

- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدرجريمته.[المبسوط للسرخسي (ج ۲٤ ص ۳٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].

(٥) - ويحبس الدعارون الذين يخوفون المسلمين وأهل الفساد حتى تعرف منهم التوبة، والدعارمن يقصد اتلاف أموال الناس او أنفسهم أو كليهما فاذا كان يخاف على الناس منه فى النفس والمال حبس فى السجن حتى تظهرمنه التوبة.[الفتاوى التاتارخانية ج ۱۱ ص ۳۳۲].

(۲) هغه مجرمین چې په مکرر ډول د عامو خلکو نفسونو او مالونو ته ضرر رسوي، دغه مجرم د تعزیري حبس مستحق دی، قاضي دې د بند موده تر هغه وغځوي چې د توبې ښکاره علامې نه وي ورباندې لیدل شوې.[۱]

(۳) قاضي کولای شي، سارق (غل)، له حد جاري کېدلو وروسته، د توبې ایستلو په غرض په درېیم ځل غلا وکړه، کړي.[۲]

(۴) د دې مادې په (۳) فقره کې، ذکر شوي سارق (غل) که له دوه ځله حد جاري کېدلو وروسته په درېیم ځل غلا وکړه، قاضي دې حد نه جاري کوي، البته په پنځه کال حبس دې محکوم کړي.[۳]

## د مصلحت په موخه تعزیر

**اته څلوېښتمه ماده:**

تعزیر له جنایت پرته د مصلحت لپاره هم ورکول کېږي لکه د پلار تعزیر خپل لس کلن ماشوم ته د لمانځه پر ترک او داسې نور، البته د دې اصولنامې د نهمې مادې د مراتبو موافق دې تعزیر ورکول شي.[۴]

## د قاضي لپاره تعزیر

**نهه څلوېښتمه ماده:**

(۱) که قاضي په یوه دعوی کې د حکم د شرائطو تر بشپړېدو وروسته حکم وځنډوي، که دغه ځنډ یې بې له شرعي عذره و په بله نږدې محکمه کې دې په لس ورځې حبس محکوم شي.[۵]

---

-[ درالمختارمع الرد ج ۶ ص ۱۲۳].

- [ الفتاوی الهندیة ج ۲ ص طبع: مکتبه رشیدیة.]

- ومن یتهم بالقتل والسرقة یحبس ویخلد فی السجن الی أن یظهر التوبة. [ردالمحتار، ج ۶ ص ۱۰۷.طبع: مکتبه رشیدیه].

- [قاضي خان علی هامش الهندیة، ج ۳ ص ۴۸۰. طبع: مکتبه رشیدیه].

- [الحدود والتعزیرات.للمُفتیین والقُضاة. ص ۱۸۳.طبع:مکتبه حقانیه، کویته].

(۱) - وقد تقدم عن الخلاصة: أن الدعاریحبسون حتی تعرف توبتهم.)( معین الحکام ص ۲۱۸.) من الخلاصة والدعاریحبسون أبدا حتی تعرف توبتهم... و الدعار من یقصد اتلاف أموال الناس او أنفسهم او کلیهما، فاذا کان یخاف علی الناس منه فی النفس والمال حبس فی السجن حتی تظهر منه توبة.[الفتاوی الحمادیة ج ۱ ص ۲۳۳].

-[ تبیین الحقائق ج ۳ ص ۵۳۳ . طبع: مکتبه عربیه].

(۲)إذا رأی الإمام مصلحة للمسلمین فیعزربه قدرما یری؛ لأن عمر- رضي الله تعالی عنه - نفی غلاما صبیح الوجه افتتن به النساء، والحسن لا یوجب النفي إلا أنه فعله سیاسة لا حدا وفیه إشارة إلی أن السیاسة لا تختص بالزناء، بل تکون في کل جنایة الرأي فیه إلی الإمام.

وفي البحروفسر التغریب في النهایة بالحبس، وهو أحسن وأسکن للفتنة من نفیه إلی إقلیم آخر؛ لأنه بالنفي یعود مفسدا کما کان انتهی لکن یمکن أن یکون صالحا بلحوق العاروبالغربة عن الوطن فلا یتحقق العود مفسدا تأمل.[مجمع الأنهرفي شرح ملتقی الأبحر(ج۱ص ۵۹۱ الناشر: دارإحیاء التراث العربي].

(۳) وفی الکافي: فان سرق ثالثا لم یقطع استحسانا وخلد فی السجن حتی یتوب، ویعزر.[الفتاوی التاتارخانیة ج ۶ ص ۴۲۸].

(٤) قوله ( والأب یعزرالابن علیه ) ای علی ترک الصلاة، ومثلها الصوم کما صرحوا به. [رد المحتارج ۶ ص ۱۲۵ مکتبه رشیدیه].

- فیعزرکل عاقل ارتکب جنایة... سواء کان حرا او عبدا، ذکرا او انثی، مسلما او کافرا، بالغا او صبیا بعد أن یکون عاقلا... و ذالک بطریق التأدیب والتهذیب لا بطریق العقوبة؛ لأنها تستدعي الجنایة وفعل الصبی لا یوصف بکونه جنایة. [بدائع الصنائع ج ۵ ص ۵۳۴ طبع: مکتبه رشیدیه، کویته].

(٥)- فلو امتنع بعد وجود شر ائطها، أثم لترکه الفرض، واستحق العزل لفسقه، وعزرلأرتکابه ما لا یجوزشرعا. الدرالمختارمع الردالمحتارج ۸ ص ۱۹۸. مکتبه رشیدیه].

(۲) که قاضي غلط حکم د مزاح او مسخرو په توګه وکړي، په بله نږدې محکمه کې دې په درې میاشتې حبس محکوم شي. (۱)

**د مدعي او مدعي علیه لپاره تعزیر**

**پنځوسمه ماده:**

که مدعي او مدعي علیه د قاضي په وړاندې یا د محکمې په انګړ کې لفظي یا جسماني شخړه وکړي، دغه کړنه یې د تعزیر موجب ده، قاضي دې د شخړې شروع کوونکی په پنځه ورځې حبس او مقابل لوری په درې ورځې حبس محکوم کړي.[۲]

**د خپلې دعوی په کذب اقرار کوونکي لپاره تعزیر**

**یو پنځوسمه ماده:**

که مدعي د قاضي په حضور کې د خپلې دعوې د کذب اقرار وکړي، قاضي دې په یو میاشت حبس محکوم کړي.[۳]

**په دروغو دعوه کوونکي لپاره تعزیر**

**دوه پنځوسمه ماده:**

که مدعی علیه دا خبره ثابته کړي چې د مدعي دعوی دروغ ده، قاضي دې مدعي د مدعی علیه د خسارې اخیستلو سره سره په درې میاشتې حبس محکوم کړي.[٤]

**په دروغو د شاهدي ورکوونکي لپاره تعزیر**

**درې پنځوسمه ماده:**

هر شخص چې په دروغو شاهدي ورکړي مجرم دی، قاضي دې له تشهیر سره سره په څلوېښت دُرې وهلو محکوم کړي.[۵]

رواداری RAWADARI

---

- المادة (۱۸۰۹) إذا كان لأحد دعوى مع قاضي بلدته أو أحد منسوبيه الذين ذكروا في المادة السابقة فإن كان في تلك البلدة قاض غيره تحاكما إليه وإن لم يكن في تلك البلدة قاض غيره تر افعا في حضورحكم نصباه برضاهما , أو في حضورنائب ذلك القاضي إن كان مأذونا بنصب النائب , أو في حضور قاضي البلدة المجاورة لبلدتهم فإن لم يرض الطرفان بإحدى هذه الصوراستدعيا مولى من قبل السلطان.[مجلة الأحكام العدلية (ص: ۳۶۹ الناشر: نورمحمد، كارخانه تجارتِ كتب، آرام باغ، كراتشي].

- [اداري اصولنامه ۶۲ ماده].

(۱)وفي الملتقط: وحكى أن قاضيا سئل عن رجل قتل حائكا، فقال: عليه دية من البيت، فأتى به المأمون، فقال: ما زحته، فقال: ويحک، استهزاء بأحكام الله تعالى، ثم ضرب حتى مات تحت السياط، وقال الليث: يكفيه أن يعزره.[الحدود والتعازيرص ۱۰۸ طبع: دارالمقتبسة].

(۲)خصمان تشاتما عند القاضي فله حبسهما وتعزيرهما اقامة لحرمة المجلس.[الفتاوى الانقروية ج ۱ ص ۱۵۷].

-[ الفتاوى الحدود والتعزيرات ص ۱۸۷].

(۳) (واما المدعى فانه قد ارتكب كبيرة باقراره انه ارتكب الكذب وقد أذى المدعى عليه فى دعواه عليه، فيعذب.[فتاوى التنقيح الحامدية، ج ۱ ص ۳۴۱. طبع: مكتبه رشيديه].

-[ ردالمحتارج ۶ ص ۱۰۶.طبع: مكتبه رشيديه].

(٤) من تقدم بدعوى خاصة، وثبت للمحكمة كذب المدعي في دعواه، فللقاضي أن ينظرفي تعزيره ولمدعي عليه المطالبة بالتعويض عما لحقه من ضرر بسبب هذه الدعوى، هذه المسئلة على قول زفررحمه الله تعالى أختاره العلماء.[بغية التمام ج ۱ ص ۱۶۷طبع دمشق].

(٥)فأما الكلام فى التعزير في حق الشاهد الزور فهما استدلا بحديث عمر – رضى الله عنه – حيث قال في شاهد الزوريضرب أربعين سوطا... و يطاف.[المبسوط السرخسي ج ۵جزء ۱۶ ص ۱۷۴، طبع: مكتبه رشيديه].

**<u>دقاضي د نهايي حكم څخه د سرغړوونكي او متمرد لپاره تعزير</u>**

**څلور پنځوسمه ماده:**

(۱) هغه شخص چې د قاضي د نهائي حكم د منلو څخه د اصولو خلاف سرغړونه وكړي مجرم دی، قاضي دې په يو مياشت حبس محكوم كړي.[۱]

(۲) كه يو شخص د قاضي له غوښتلو سره سره د قضاء مقام ته نه حاضرېږي او تمرد يې قاضي ته ثابت شي مجرم دی، قاضي دې په يو مياشت حبس محكوم كړي.[۲]

**<u>د بل د نفقې څخه انكار كوونكي لپاره تعزير</u>**

**پنځه پنځوسمه ماده:**

هر هغه شخص چې د بل نفقه پرې لازمه وي، د قدرت سره د منع په صورت كې مجرم دی، قاضي دې د نفقې د ادا كولو په غرض په يو كال حبس محكوم كړي، كه يې د كال په دوران كې نفقه ادا كړه ازاد دې كړي.[۳]

**<u>د كفيل بالنفس لپاره تعزير</u>**

**شپږ پنځوسمه ماده:**

(۱) كفيل بالنفس چې مكفول عنه په ټاكلي وخت كې حاضر نه كړي مجرم دی، قاضي دې په درې مياشتې حبس محكوم كړي.[٤]

(۲) د دې مادې په (۱) فقره كې د ذكر شوي غائب مكفول عنه ځای كه معلوم نه و، كفيل يې په حاضرولو مكلف نه دی او كه معلوم و، قاضي دې كفيل بالنفس ته د تګ او راتګ مهلت وركړي، كه يې حاضر نه كړ په درې مياشتې حبس دې محكوم كړي.[٥]

---

(۱)سئل فی رجل حكم عليه الحاكم الشرعي في مادة بينه وبين شخص آخر، فلم يستطع للحكم الصادرعليه بمقتضى الوجه الشرعی، ثم رفع أمره الی حاكم السياسة الذي هوشيخ الحرم الشريف النبوي، فأرسل اليه ولم يجبه وتغيب في أطراف البلاد، فما ذا يترتب عليه لعدم اطاعته للحكام؟ أجاب: يستحق هذا المتعدي التعزير الشديد، ولوبالضرب والحبس المديد الزاجرله عن الفعل القبيح بتمرده عن امتثال الأحكام لينزجرهو و أمثاله.[عدة ارباب الفتوى ص ۸۰ طبع: مكتبه عربيه].

(۲) وفی ( شرح أدب القاضي ) للصدرالشهيد: واذا قدم الرجل الى القاضي وأدعى حقا على رجل ليس بحاضرمعه، وذكرأنه امتنع عن الحضورمعه، أعطاه القاضي خاتما، وقال: أره الخاتم وادعه الى وأشهد، فاذا ذهب به اليه، وأراه ذالک، هذا خاتم القاضي، فاحضرمعی اليه يوم كذا وأشهد عليه بذالک، فان قال: أحضر، وحضرفيها، وان قال: لا أحضر، وشهد بذالک عند القاضي شاهدان مستوران... فاذا شهد الشهود في وجهه برد الخاتم و امتناعه عن الحضورعزره. [الحدود والتعازيرص ۹۱ / ۹۲ طبع: دارالمقتبسة].

(۳) ولا يحبس لما مضى من نفقة زوجته وولده اذا أدعى الفقروان قضى بها؛ لأنها ليست بدل مال ولا لزمته بعقد على ما مر، حتى لوبرهنت على يساره حبس بطلبها.[ رد المحتارج ۸ ص ۸۲ طبع: مكتبه رشيدية.]

(٤)- حبس الحاكم الكفيل إن لم يحضرالمكفول به [فتح باب العناية بشرح النقاية (ج ٥ص ٦٨)

- واما أدب حبس الغريم فانه على خمسة اوجه أحدها حبس الكفيل بالنفس ليحضرالمكفول به .[النتف في الفتاوى للسغدي (ج ۲ص ۷۷۸) الناشر: دارالفرقان - بيروت لبنان].

(٥) فان غاب المكفول وعلم مكانه، أمهله الحاكم مدة ذهابه وايابه، فان مضت ولم يحضره حبسه، وان غاب ولا يعلم مكانه لايطالب به، فان اختلفا، فان كانت له خرجة معروفة ای موضع معلوم للتجارة، فالقول للطالب، ويؤمرالكفيل بالذهاب اليه والا فللكفيل، فان أقام الطالب بينة أنه فی موضع كذا يؤمربالذهاب اليه.[تنقيح الحامدية ج ۱ ص ۲۹۸].

(۳) که کفیل د مکفول له په غوښتنه په دَین کې حبس شي، قاضي دې د کفیل په غوښتنه، اصیل په څلور میاشتې حبس محکوم کړي.[۱]

**د رشوت اخیستونکي او ورکوونکي لپاره تعزیر**

**اووه پنځوسمه ماده:**

(۱) بډې (رشوت) اخیستونکی او ورکوونکی دواړه مجرمین دي، له وظیفې څخه پر عزل سربېره، قاضي دې دواړه په یو کال حبس محکوم کړي.[۲]

(۲) هغه شخص چې د رشوت اخیستونکي او ورکوونکي ترمنځ واسطه جوړ شوی وي قاضي دې په شپږ میاشتې حبس محکوم کړي.[۳]

**د مرتدې ښځې لپاره تعزیر**

**اته پنځوسمه ماده:**

قاضي دې مرتده ښځه د اسلام قبلولو په غرض په حبس ابد او په هرو دریو ورځو کې په لس لس دُرو وهلو سره محکومه کړي.[٤]

**د رقص اړوند تعزیر**

**نهه پنځوسمه ماده:**

رقص کوونکي هلکان، انجونې او د دوی رقصوونکي او تماشا ګران (کتونکي) اشخاص مجرمین دي، قاضي دې هر یو په دوه میاشتې حبس محکوم کړي.[۵]

---

(۱) - واذا حبس كفيل الرجل بأمره بالمال، فللكفيل أن يحبس الذي عليه الأصل. (الفتاوى الهندية ج ۳ ص ۴۱۴ طبع: مكتبه رشيدية.]
-[ التاتارخانية ج ۱۱ ص ۳۳۳].

(۲) - [وعزركل مرتكب منكر أو مؤذي مسلم بغيرحق بقول أوفعل]. [حاشية ابن عابدين ج٤ ص ٦٦ الناشر: دارالفكر- بيروت].
-وكل مرتكب معصية لا حد فيها فيها التعزير. [الدرالمختارشرح تنويرالأبصاروجامع البحارج۱ ص۳۱۷الناشر: دارالكتب العلمية].

(۳)عن أنس أن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- لعن الراشي والمرتشي والرائش.والراشي: باذل الرشوة، والمرتشي: قابلها، والرايش: المتوسط بينهما.[الأحكام السلطانية للماوردي (ص: ۱۲۷) الناشر: دارالحديث – القاهرة].
- كل من أرتكب معصية ليس فيها حد مقدروثبت عليه عند الحاكم، فانه يجب عليه التعزير. [البحرالرائق ج ۵ ص ۷۰ طبع: مكتبه حنفيه.]

(٤) - إلا أن المرتدة تحبس حتى تتوب .[فتح القديرللكمال ابن الهمام (ج ٤ص ٤٠٩) الناشر: دارالفكر].
- وأخرج الدارقطني عن علي - رضي الله عنه -: " المرتدة تستتاب ولا تقتل " .[فتح القديرللكمال ابن الهمام (ج ٦ص ٧۳) الناشر: دارالفكر].
- وقال الحنفية: لا تقتل المرأة المرتدة، ولكنها تجبرعلى الاسلام، واجبارها يكون بالحبس الى أن تسلم اوتموت؛ لأنها ارتكبت جرما عظيما، وتضرب في كل ثلاثة أيام، مبالغة فى الحمل على الاسلام.[الفقه الاسلامي وادلته. ج ۶ ص ۱۷۶].

(۵)وفى التاتارخانية الرقص على الوصف المذكورفى السماع للالات المحرمة لايجوز...وفى الذخيرة انه كبيرة لاشتماله على الحرام القطعى [الدرالمباحة فى الحظروالاباحة:ج۲ ص ۴۸۰ :طبع مكتبه عمريه كويته ].
-وكل مرتكب معصية لا حد فيها فيها التعزير. [الدرالمختارشرح تنويرالأبصاروجامع البحارج۱ ص۳۱۷الناشر: دارالكتب العلمية]
- المغني والمخنث والنائحة يعزرويحبس حتى يحدث توبته. [الفتاوى الانقروية ج ۱ ص ۱۵۸].

## د لواطت کوونکي لپاره تعزير

**شپېتمه ماده:**

هر هغه شخص چې د قاضي پر وړاندې پرې لواطت په شرعي طريقه سره ثابت شي، مجرم دی، قاضي دې په دوه کاله حبس محکوم کړي، که لواطت يې عادت و، بيا دې په اذن د امام سره قتل کړي.(۱)

## د عامه املاکو تخريبوونکي لپاره تعزير

**يو شپېتمه ماده:**

د عامه املاکو (د سيل ځايونه، سړک او داسې نور..) تخريبوونکی شخص مجرم دی، قاضي دې د تاوان ادا کولو سربېره په دوه مياشتې حبس محکوم کړي.(۲)

## دانساني اعضاوو خرڅوونکو او اخيستونکو لپاره تعزير

**دوه شپېتمه ماده:**

د انساني اعضاوو، ښتورګو، وېښتانو او داسې نورو خرڅول او اخيستل جرم دی، قاضي دې خرڅوونکی او اخيستونکی په يوکال حبس محکوم کړي.(۳)

## له اجازې پرته د بل حريم ته د داخلېدونکي لپاره تعزير

**درې شپېتمه ماده:**

که يو شخص د بل چا حريم (کور او يا د اوسېدو ځای) ته د مالک د اجازې او له کوم شرعي مصلحت پرته داخل شي مجرم دی، قاضي دې په دوه مياشتې حبس محکوم کړي.(٤)

## د اجازه ورکوونکي ښځه د غلا کوونکي لپاره تعزير

رواداري
RAWADARI

---

(۱)سئلت: عن رجلٍ ثبتت عليه اللواطة فماذا يلزمه؟ فالجواب: انه يلزمه التعزير نحوالاحراق بالناروهدم الجداروالتنكيس من محل مرتفع باتباع الاحجاروفى الحاوي والجلد أصح وفى الفتح يعزرويسجن حتى يموت أويتوب ولو اعتاد اللواطة قتله الامام سياسة. اه من الدرالمختار والله تعالى أعلم.[الفتاوى الكاملية، ص ۴۵ = ۴۶.طبع: اميرحمزة كتب خانه.]

- يعزرويسجن حتى يموت أويتوب، ولواعتاد اللواطة قتله الامام سياسة.[ردالمحتار، جلد ۶ ص ۴۴.طبع: مكتبه رشيديه.]

(۲)- [وعزركل مرتكب منكرأومؤذي مسلم بغيرحق بقول أوفعل]. [حاشية ابن عابدين ج٤ ص ٦٦ الناشر: دارالفكر- بيروت].

- سئل فى رجل عمد الى كرم رجل عمد الي كرم آخر، وقطع أشجاره ظلما وعدوانا فهل اذا ثبت عليه ذالک يلزمه التعزيروقيمة ما قطعه قائما فى أرضه؟ الجواب: نعم.[تنقيح الحامدية ج ۲ ص ۱۷۵ كتاب الغصب].

(۳)- كل من أرتكب معصية ليس فيها حد مقدروثبت عليه عند الحاكم، فانه يجب عليه التعزير. )(البحرالرائق ج ۵ ص ۷۰ طبع: مكتبه حنفيه.]

- ولا يجوزبيع شعورالانسان ولا الانتفاع به لأن الآدمي مكرم لا مبتذل، فلايجوزان يكون شيئا من اجزائه مهانا مبتذلا.[هداية ج۳ ص ۵۸ طبع مكتبه أميرحمزه ].

(٤) لا يجوزدخول بيت انسان الا باذنه الا فى الغزو، قول ( الا فى الغزو) اى اذا كان ذالک البيت مشرفا على العدوفللغزاة دخوله ليقاتلوا العدومنه او نحوذالک.)[ الدرالمختارمع الرد المحتارج ۹ ص ۳۳۳. طبع:مكتبه رشيديه].

**څلور شپېتمه ماده:**

که څوک د چا حریم (کور یا بل د اوسېدو ځای) ته په اجازه داخل شي او وروسته غلا وکړي، دغه غلا ورباندې ثابته شي، قاضی دې د غلا شوي مال د ضمان سربېره په دوه کاله حبس محکوم کړي.[۱]

**د ډله ییزې غلا اړوند تعزیر**

**پنځه شپېتمه ماده:**

که په ډله ییزه توګه یوه ډله د چا مال غلا کړي خو د مال غل معین ونه پېژندل شي، قاضي دې هر یو په دوه کاله حبس محکوم کړي.[۲]

**د قمار بازانو لپاره تعزیر**

**شپږ شپېتمه ماده:**

قمار بازي په ټولو ډولونو او شکلونو سره شرعي جرم دی، قاضي دې قمار باز په څلور میاشتو حبس محکوم کړي.[۳]

**قاذف د زنا نسبت کوونکی لپاره تعزیر**

**اووه شپېتمه ماده:**

لاندې ذکر شویوکسانو ته د زنا نسبت کوونکی شخص مجرم دی، قاضي دې په دوه میاشتې حبس محکوم کړي:[٤]

١ – ماشوم؛

٢ – مجنون؛

٣ – کافر؛

۴ – محدود فی الزناء؛

۵ – هغه ښځه چې ملاعنة بالولد وي؛

٦– هغه ښځې چې اولاد لري خو د اولاد پلار یې معلوم نه وي.

---

(١)جماعة في داررجل، دخل واحد منهم في بيت صاحب الداروأخذ قماشه، ثم أقر، فانه يستوجب التعزيروالحبس الطويل وعليه رد الأمتعة اوقيمتها ان كانت هالكة.[الفتاوى الحمادية ج ١ ص ٢٣٧.طبع مخطوطه].

(٢) وان دخل البيت وأخرج المتاع بعضهم دون البعض، فالقطع على من دخل البيت وأخرج ان عرف بعينه، وان لم يعرف فعليهم التعزيرولا يقطع واحد منهم؛ لأن فعل السرقة انما تم من بعضهم وهوغيرمعروف.[المبسوط السرخسي ج ٥ جزء ٩ ص ١٧٧ طبع: مكتبه رشيديه].

(٣) أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدرجريمته.[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].

(٤) اربعة عشر نفرا يعزرقاذفهم ولا يحد: واذا قذف عبدا، اوأمة، اومدبرا، اومكاتبا، اوأم ولد، اوصبيا، اومجنونا، اوكافرا، اومحدودا في الزنا، او امرأة ملاعنة بولد، اوقذف امرأة ومعها اولاد لا يعرف لهم والد، اوقال لمسلم: يا فاسق، يا خبيث، يا كافر، اوقال: زنيت بأتان اوبقرة اوقال: يا حمار، يا خنزير. [الفتاوى التاتارخانية ج ۶ ص ۴۰۶ طبع: المكتبة الطارق].

**د مجرم کورنۍ ته، بې موجبه تکلیف ورکوونکي لپاره تعزیر**

**اته شپېتمه ماده:**

که کوم شخص د مجرم د جرم له امله د هغه کورنۍ ته، بې موجبه تکلیف ورکوي، مجرم دی، قاضي دې په درې میاشتې حبس محکوم کړي.[۱]

**د پوروړي په قصدي توګه د خلاصوونکي لپاره تعزیر**

**نهه شپېتمه ماده:**

که یو شخص د بل شخص پوروړی په قصدي او شعوري توګه د تېښتې په موخه خلاص کړي، مجرم دی، قاضي دې په یو میاشت حبس محکوم کړي.[۲]

**دحیواناتو جنګوونکي لپاره تعزیر**

**اویایمه ماده:**

هغه شخص چې حیوانات (سپي، اوښان، پسونه او داسې نور) یا مرغان ( چرګ، زرک، کرک ) جنګوي مجرم دی، قاضي دې په پنځه میاشتې حبس محکوم کړي.[۳]

**د محتکر لپاره تعزیر**

**یو اویایمه ماده:**

قاضي مکلف دی، محتکر د ذخیره شوي مال په خرڅولو مجبور کړي، د انکار په صورت کې محتکر مجرم ګڼل کېږي، قاضي دې په یو میاشت حبس محکوم کړي.[٤]

رواداری
RAWADARI

---

(۱) وفي اليتيمة: سئل على بن أحمد: من كان له دعوى على رجل فلم يجده، فأوقع عشيرته في بيت الظلمة بغير الحق، وبغير كفالة، فقيدوهم وحبسوهم في السجن، وضربوهم ضربا شديدا، وقبضوا منهم أعيانا كثيرة بغير حق، فلو أنهم صححوا هذه الأمور عند القاضي يجب التعزير؟ قال: نعم يعزر.)( الحدود والتعازير ص ۱۱۶.) طبع: دار المقتبسة].

(۲) وفي الخانية: رجل أخذ غريما له، فجاء انسان وانتزعه من يده حتى هرب الغريم، فانه يعزر بحكم الجناية، ولا يضمن الذي على المديون. )(الحدود والتعازير ص ۱۱۲. طبع: دار المقتبسة].

(۳) التحريش بين البهائم، عن ابن عباس رضى الله عنه قال: ( نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن التحريش بين البهائم ) اى الاغراء بينها، وتسليط بعضها على بعض، بقصد التلهي، ورؤية الغالب منها على الآخر؛ لما في ذالک من الايذاء للضعيفة منها بلا ضرورة.[الدرر المباحة ج ۲ ص ۶۲۰].
- (و) منها (التحريش) أي الإغراء (بين البهائم) كالديك والكبش والتيس والكلاب ومثله إغراء الأمراء الأسد مع النمر أو مع البقر أو الجمل (عن ابن عباس - رضي الله تعالى عنهما - أنه «نهى رسول الله - صلى الله تعالى عليه وسلم - عن التحريش بين البهائم» أي الإغراء بينهما وتهييج بعضها على بعض وهل النهي للتحريم أو الكراهة قولان قال جدنا الإمام الزين العراقي ودخل في ذلك مناطحة الثيران والكبوش ومناقرة الديوك ونحو ذلك [بريقة محمودية في شرح طريقة محمدية وشريعة نبوية في سيرة أحمدية (ج ٤ص ۷۹) الناشر: مطبعة الحلبي].

(٤) وفي غاية البيان: وروى عن محمد بن الحسن أنه قال: أجبر المحتكر على البيع، فان امتنع عن ذالک أعزره ولا أسعره، والقول له: بع كما يبيع الناس.)( الحدود والتعازير لجوى زاده ص ۱۲۲، طبع: دار المقتبسه، بيروت.)

### د محبوس لپاره تعزير

**دوه اويايمه ماده:**

(۱) كه يو محبوس د محبس څخه تېښته وكړي، يا د تېښتې په لټه كې وي مجرم دی، قاضي دې په شل درو وهلو سره تعزير كړي.[۱]

(۲) قاضي كولای شي، محبوس مصلحتاً په كوټه قلفي سره تعزيراً د لسو ورځو په حبس محكوم كړي.[۲]

### په قسامة كې د قسم څخه د منكر لپاره تعزير

**درې اويايمه ماده:**

كه يو شخص په قسامة كې د يمين څخه انكار وكړي، قاضي دې د اقرار يا قسم كولو په غرض په يو كال حبس محكوم كړي،كه يې د كال په دوران كې اقرار يا قسم وكړ، قاضي دې خپله فيصله وكړي.[۳]

### د غاصب لپاره تعزير

**څلور اويايمه ماده:**

كه يو شخص د بل شخص كوم شی غصب كړي او له بېرته وركولو څخه يې انكار وكړي مجرم دی، قاضي دې په يو كال حبس محكوم كړي كه څه هم دكال په دوران كې يې مغصوب شی خپل اصلي مالک ته سپارلی وي.[٤]

### د پيره دار لپاره تعزير

**پنځه اويايمه ماده:**

كه يو مديون محبوس د ساتونكي پيره دار په مرسته له بند څخه وتښتې، او بيا نيول يې ممكن نه و، قاضي به پيره دار د دائن د پور ضامن گرځوي .[٥]

---

(۱) ولو أنه أحتال و خرج من الحبس بالهرب او قال للسجان أخرجني فانه يؤدب بالسياط حتى ينتهي .[كتاب ادب القاضي للسروجي ص ۱۶۳، طبع: دارالبشائر الاسلامية، بيروت].

-[ الخانية على هامش الهندية ج ۲ ص ۳۷۴/ ۳۷۵].

(۲) وذكر التمرتاشي عن السرخسي أنه ليس فيه شيء مقدربل مفوض إلى رأي القاضي، لأن المقصود منه الزجر، وأحوال الناس مختلفة فيه. فمنهم من يتزجر بالصيحة ومنهم يحتاج إلى اللطمة وإلى الضرب، ومنهم من يحتاج إلى الحبس.[ فتح القدير للكمال ابن الهمام (ج ٥ص ٣٤٥) الناشر: دار الفكر

(۳)ولو طولب من عليه القسامة بها، فنكل عن اليمين، حبس حتى يحلف اويقر.[بدائع الصنائع ج ۶ ص ۳۵۸ ]. مكتبه رشيديه].

(٤) وذكره في كتاب الغصب بنفي الامانات إذا امتنع الامين من دفعها غير مدع لهلاكها فإنه يحبس عليها وصارت مغصوبة، وما في تهذيب القلانسي وهو إذا ثبت الحق بإقرار أو بحكم بنكوله أو ببينة فمطل المطلوب عن تسليمه وطلب الطالب حبسه أمره بحبسه في كل عين يقدر على تسليمها وفي كل دين لزمه بدلا عن مال كثمن البيع وبدل القرض والمغصوب ونحوه.[ البحر الرائق شرح كنز الدقايق ج ۶ ص۴۸۳ مكتبه رشيديه].

(٥) فإن من أصله أن المتسبب كالمباشر، ولهذا جعل فتح باب القفص والإصطبل وحل قيد الآبق موجبا للضمان.[المبسوط للسرخسي (ج ٥ص ١٤١) الناشر: دار المعرفة - بيروت

## د نظري ( عائن ) لپاره تعزير

**شپږ اويایمه ماده:**

قاضي کولای شي، نظري ( عائن ) د حسد څخه په نصیحت کولو سره منع کړي، د انکار په صورت کي دې پخپل کور کې تر يو کال پورې تعزيرًا نظر بند کړي.[۱]

## د بیت المال د اسلحو او نظامي تجهيزاتو د خرڅولو او اخيستلو تعزيري حکمونه

**اووه اویایمه ماده:**

(۱)که یو میل هره نوعه خفيفه اسلحه له ( ام فور) څخه پرته یو شخص سره د خرڅولو او اخیستلو پر مهال ونیول شي، او اسلحه د بیت المال ثابته شي، اسلحه دې بیت المال ته وسپارل شي او مرتکب دې په یو کال حبس محکوم شي.[۲]

(۲) که د دې مادې په (۱) فقره کې ذکر شوې اسلحه له یو میل څخه زياته وي، اسلحه دې بیت المال ته وسپارل شي او مرتکب ته دې پر هر میل یو کال حبس ورکول شي.[۳]

(۳) که یو میل هره نوعه ثقيله اسلحه يا ام فور د خرڅولو او اخیستلو پر مهال ونیول شي او اسلحه د بیت المال ثابته شي، اسلحه دې بیت المال ته وسپارل شي او مرتکب دې په دوه کاله حبس محکوم شي.[٤]

(۴) که د دې مادې په (۳) فقره کې ذکر شوې اسلحه تر یو میل زیاته وه اسلحه دې بیت المال ته وسپارل شي او مرتکب ته دې پر هر میل دوه کاله حبس ورکړل شي.[٥]

(۵) هغه نظامي تجهیزات، مهمات، دوربینان، مخابرې او نور نظامي وسائل چې د خرڅولو او اخیستلو پر مهال ونیول شي، او یاد تجهیزات د بیت المال ثابت شي، تجهیزات دې بیت المال ته وسپارل شي او مرتکب دې په يو کال حبس محکوم شي.[٦]

(٦) که د دې مادې په (۵) فقره کې ذکر شوي تجهیزات شخصي ثابت شي، د یادو تجهیزاتو د اهلاک سربېره قیمت ته په کتو مرتکب ته لاندې تعزيري سزا ورکول کېږي:[۷]

۱- د هرې نوعې قيمت چې د لس زره (۱۰،۰۰۰) څخه تر پنځوس زره (۵۰،۰۰۰) پورې و شپږ میاشتې حبس؛

۲- د پنځوس زره (۵۰،۰۰۰) څخه تر سل زره (۱۰۰،۰۰۰) پورې يو کال حبس؛

---

(۱) قال عياض: قال بعض العلماء: ينبغي إذا عرف واحد بالإصابة بالعين أن يجتنب ويحترز منه، وينبغي للإمام منعه من مداخلة الناس، ويلزمه بيته .[الدر المختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج٦ص ٣٦٤) الناشر: دارالفكر-بيروت].

(۲) -كل من أرتكب معصية ليس فيها حد مقدروثبت عليه عند الحاكم، فانه يجب عليه التعزير. [البحرالرائق ج ٥ ص ٧٠ طبع: مكتبه حنفيه.]

-أما التعزيرفهو التأديب بما يراه الحاكم زاجراً لمن يفعل فعلاً محرماً عن العودة إلى هذا الفعل، فكل من أتى فعلاً محرماً لا حد فيه، ولا قصاص، ولا كفارة، فإن على الحاكم أن يعزره بما يراه زاجراً له عن العودة، من ضرب، أوسجن، أوتوبيخ. [الفقه على المذاهب الأربعة، ج٥ ص ٣٤٩، الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت - لبنان].

- يلزم رد المغصوب عينًا وتسليمه الى صاحبه في مكان الغصب ان كان موجودًا.(مجلة الأحكام العدلية المادة(٨٩٠).

(۳) المرجع السابق.

(٤) المرجع السابق.

(٥) المرجع السابق.

(٦) المرجع السابق.

(۷) -المرجع السابق.

- ولو احرق المحتسب متاع من يبيع على الشوارع يضمن الا اذا علم فسادًا في ذلک ورأى المصلحة في احر اقه فلا يضمن.[نصاب الاحتساب(ص۲۴۴].

۳- د سل زره (۱۰۰،۰۰۰) څخه زيات پر هر سل زره (۱۰۰،۰۰۰) يو کال حبس چې د حبس نهائي موده يې اووه کلونه ده که څه هم قيمت يې له اووه سوه زره (۷۰۰،۰۰۰) څخه زيات وي.

**د غير قانوني شخصي اسلحو د خرڅولو او اخيستلو تعزيري حکمونه**

**اته اويايمه ماده:**

(۱)که غير قانوني يو ميل اسلحه د يو شخص سره د خرڅولو او اخيستلو پر مهال ونيول شي او ياده اسلحه شخصي ثابته شي، محکمه يې په لومړي ځل د اسلحې په اهلاکولو سربېره مرتکب په شپږ مياشتې حبس محکوم کړي، د بيا تکرار په صورت کې دې د اهلاک سربېره مرتکب په يو کال حبس محکوم کړي.[۱]

(۲) که د دې مادې په (۱) فقره کې ذکر شوې اسلحه له يو ميل څخه زياته وه، د اسلحې په اهلاکولو سربېره مرتکب ته دې پر هر ميل شپږ مياشتې حبس ورکړل شي، د بيا تکرار په صورت کې دې د اهلاک سربېره په يو کال حبس محکوم کړي، د حبس نهايي موده يې اووه کاله ده.[۲]

**د مديون اړوند تعزيري حکمونه**

**نهه اويايمه ماده:**

(۱) که دين په شاهدانو يا نکول سره ثابت وي او دائن د مديون د حبس غوښتنه وکړي قاضي ياد مديون ته په دوه مياشتې حبس سره تعزير ورکوي.[۳]

(۲) که دين په اقرار سره ثابت وي، قاضي مديون ته د دين په ادا کولو امر کوي که مديون مهلت ونه غواړي او د دين له ادا کولو څخه ډډه وکړي، قاضي دې په څلور مياشتې حبس سره تعزير ورکړي.[٤]

---

(۱) -المرجع السابق.

- ولو احرق المحتسب متاع من يبيع على الشوارع يضمن الا اذا علم فسادًا في ذلک ورأى المصلحة في احر اقه فلا يضمن.[نصاب الاحتساب(ص۲۴۴)].

(۲) -المرجع السابق.

- ولو احرق المحتسب متاع من يبيع على الشوارع يضمن الا اذا علم فسادًا في ذلک ورأى المصلحة في احر اقه فلا يضمن.[نصاب الاحتساب(ص۲۴۴)].

- والحاصل أن المذهب عدم التعزير بأخذ المال.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ٤٤) الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- ( قوله ثم احرق على اقوام(... وفيه حجة على جوازالتعزيرباهلاک المال، بخلاف التعزيربأخذالمال، فانه منسوخٌ. (منهاج السنن الجزء ۲ ص ۶۰. طبع: مكتبه حقانيه،بيشاور].

(۳)- و اذا ثبت الحق للمدعي ولو دانقا، وهو سدس درهم، ببينة عجل حبسه بطلب المدعي لظهورالمطل بانكاره،قوله (ببينة)أوبنكول)( رد المحتارج ۸ ص ۶۷، طبع: مكتبه رشيديه، كويته].

-[ البحرالرائق ج ۶ ص ۴۷۷، طبع:مكتبه رشيديه كويته].

(٤)(في) كل دين هوبدل مال أوملتزم بعقد.[الدرالمختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج٥ص ۳۸۱ الناشر: دار الفكر-بيروت]

- والا يثبت ببينة بل باقرار، لم يعجل حبسه بل يأمره بالاداء، فان أبى حبسه... ينبغي أن يقيد هذا بما اذا لم يتمكن القاضي من اداء ما عليه بنفسه... فلوقال: امهلني ثلاثة أيام لأدفعه اليک فانه يمهل، ولم يكن بهذا القول ممتنعا من الأداء ولا يحبس.[رد المحتارج ۸ ص ۶۷ طبع: مكتبه رشيديه كويته].

## د معسر مدیون لپاره تعزیر

**اتیایمه ماده:**

(۱) که پر قاضي د مدیون د اعسار او یسار حال مشتبه شو، قاضي دې مدیون د حال معلومولو په غرض د دائن د غوښتنې په صورت کې په درې میاشتې حبس محکوم کړي، که غني و، یو کال دې یې حبس کړي، که یې ادا نه کړ، بل کال دې حبس تمدید کړي، که فقیر و ازاد دې کړي.(۱)

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د ذکر شوي مدیون حالت که تر دریو میاشتو پورې معلوم نه شو، قاضي دې مدیون ازاد کړي. (۲)

(۳) هغه معسر مدیون چې دائن ته دین نه ورکوي په داسې حال کې چې دی پر موسر باندې دین ولري او غوښتنه ورڅخه نه کوي، قاضي دې په څلور میاشتې حبس محکوم کړي، که د معسر په غوښتنه مدیون موسر محبوس شي، معسر له حبس څخه آزادېږي. (۳)

## د دائن او مدیون اړوند حکمونه

**یو اتیایمه ماده:**

(۱)که مدیون تر حبس کېدو وروسته د دائن د غیاب په حالت کې قاضي ته ووایي چې ما دین نقد کړی دی، قاضي کولای شي چې د مال تر تسلیمولو پورې یا له هغه څخه د نفس او یا مال د ضامن په اخیستلو سره یاد مدیون ازاد کړي.(٤)

(۲) که قاضي د یو شخص په غوښتنې سره د ده مدیون حبس کړي او یاد شخص غائب شي او قاضي ته یاد مدیون تر پوښتنې وروسته معسر ثابت شي، کولای شي مدیون په ضمانت سره ازاد کړي.(۵)

(۳) د مدیون وهل، زولنې ور اچول، تړل، سپکول، او د صاحب حق په وړاندې د اهانت په توګه درول منع دي که څه هم په محبس کې وي، البته که د تېښتې ویره یې وه، تړل کېدای او زولنې ور اچول کېدای شي.(٦)

---

(۱)وان اشتبه على القاضي حاله في يساره واعساره، ولم يقم عنده حجة على أحدهما، وطلب الغرماء حبسه، فانه يحبسه ليتعرف عن حاله أنه فقير أم غنى، فان علم أنه غني حبسه الى أن يقضي الدين؛ لأنه ظهرظلمه بالتأخير، وان علم أنه فقيرخلى سبيله؛ لأنه ظهرأنه لا يستوجب الحبس فيطلقه.( بدائع الصنائع ج ۶ ص ۱۸۰. ) مكتبه رشيديه].

(۲) واذا مضى على حبسه شهراوشهران اوثلاثة ولم ينكشف حاله في اليساروالاعسارخلى سبيله؛ لأن هذا الحبس كان لا ستبراء حاله وابلاء عذره، والثلاثة الأشهرمدة صالحة لاشتهارالحال وابلاء العذرفيطلقه. (بدائع الصنائع ج ۶ ص ۱۸۰ .) مكتبه رشيديه].

(۳)معسرا عليه دين، وله على موسردين يعلم به القاضي يحبس المعسرحتى يطالب الموسر، فاذا طالبه وحبس الموسرأطلق المعسر. [البحرالرائق ج ۶ ص ۴۸۳، طبع: مكتبه حنفيه].

(٤)أَحْضَرَالْمَحْبُوسُ الدَّيْنَ وَغَابَ رَبُّهُ يُرِيدُ تَطْوِيلَ حَبْسِهِ إنْ عَلِمَهُ وَقَدْرَهُ أَخَذَهُ أَوْكَفِيلًا وَخَلَّاهُ.[الدرالمختارمع ردالمحتارج ۸ ص ۷۸ مكتبه رشيديه].

(۵) - وذكرالخصاف رجل حبس غريما له ثم غاب، فسأل القاضي عن المحبوس، فوجده معسرا، يأخذ منه كفيلا ويخلي سبيله؛ لأنه ربما يغيب الطالب، ويخفى نفسه ويريد أن يطول حبسه، فيتضرر.( الفتاوى الهندية ج ۳ ص ۴۱۶ طبع: مكتبه رشيدية.]

- [ ادب القضاء للسروجي ص ۱۶۲]

(٦)- لا يضرب المديون و لا يغل و لا يقيد و لا يخوف و لا يقام بين يدى صاحب و لا يجرد اهانة و لا يواجر، وفي المنتقى: يقيد المديون اذا خيف الفرار.[خلاصة الفتاوى جزء ۴ ص ۴۵].

-[المحيط البرهاني ج ۱۳ ص ۵۰].

(۴) په محبس کې له مدیون څخه د قریبانو او همسایه ګانو قانوني ملاقات بندول منع دي، خو د ازاد باندار اجازه به نه ورکول کېږي.[۱]

(۵) که دائن مړ شي، بالغ او نا بالغ اولادونه ولري، که قاضي د هغه د بالغ زوی په غوښتنه مدیون بندي کړی وي او یاد بالغ زوی پرته له دین حاصلولو څخه د هغه د ازادولو غوښتنه وکړي، قاضي دې یاد مدیون تر هغه نه خوشي کوي چې د دائن د نا بالغو اولادونو د حق اداء کولو په خاطر یې ترې ضمانت نه وي اخیستی.[۲]

(٦) قاضي کولای شي، د محبوس مدیون د دین د اداء کولو لپاره لومړی د مدیون، منقول مالونه خرڅ کړي، که دین یې اداء نه شو بیا وروسته دې ځمکه او کور خرڅ کړي.[۳]

(۷)که دائن وویل مدیون غني دی، مدیون وویل چې زه فقیر یم، هر یوه چې خپله دعوی په شاهدانو ثابته کړه، شاهدان یې منل کېږي،که دواړو شاهدان لرل، بیا شاهدان د دائن معتبر دي.[٤]

## دوهم باب

## په اسنادو کې د جعل او تزویرکوونکو، په توکو کې فساد کوونکو او له اجازه‌لیک پرته د فعالیت کوونکو تعزیري حکمونه

دغه باب په لاندې دوو فصلونو مشتمل دی:

لومړی فصل: په اسنادو کې د جعل او تزویر مرتکبینو ته تعزیري حکمونه؛

دوهم فصل: په توکو کې د فساد او په اسنادو کې یې د جعل او تزویر د مرتکبینو تعزیرات.

### لومړی فصل

### په اسنادو کې د جعل او تزویر مرتکبینو ته تعزیري حکمونه

<u>په فرمانونو،حکمونو، هدایاتو، مصوباتو او د محکمو فیصلو کې د جعل او تزویر د مرتکب حکمونه</u>

**دوه اتیایمه ماده:**

(۱) که یو څوک د لاندې اسنادو جعل او تزویر وکړي په درې کاله حبس دې محکوم شي:[٥]

---

(۱) ولا يمكن أحد أن يدخل عليه للاستئناس الا أقاربه و جيرانه؛ لاحتياجه للمشاورة، ولا يمكثون عنده طويلا.[رد المحتار ج ۸ ص ۶۴ طبع: مكتبه رشيدية.]

(۲) اذا مات الرجل و فى الورثة صغير وكبير وللميت على رجل دين، فحبسه الابن الكبير، ثم أراد أن يطلقه، لم يطلقه القاضي حتى يستوثق للصغار. [الفتاوى الهندية ج ۳ ص ۴۱۸ طبع: مكتبه رشيدية.]

(۳) - لا يبيع القاضي عرضه ولا عقاره للدين خلافا لهما، وبه اى بقولهما ببيعهما للدين، يفتى. [الدرمع الرد ج ۹ ص ۲۵۵]

-[ الفتاوى الهندية ج ۳ ص ۴۱۹ طبع: مكتبه رشيدية].

(٤) ولو اختلفا فى اليسار والاعسار، فقال الطالب: هو موسر، وقال المطلوب: أنا معسر، فان قامت لأحدهما بينة قبلت بينته، وان أقاما جميعا البينة، فالبينة بينة الطالب؛ لأنها تثبت زيادة وهى اليسار. (بدائع الصنائع ج ۶ ص ۱۸۰.) مكتبه رشيديه].

(٥) من موجبات التعزيركتابة الصكوك والخطوط بالتزوير.[الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۱۶۹ طبع: مكتبه رشيدية.]

-[ الفتاوى التاتارخانية ج ۶ ص ۳۹۸].

۱- د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان، حکم یا لارښوونه؛
۲- د رئیس الوزراء حکم؛
۳- د قاضی القضات حکم؛
۴- د وزیرانو د شورا مصوبه؛
۵- د محکمې فیصله او حکم.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شویو اشخاصو د لاسلیکونو او اداراتو د مهرونو د جعل او تزویر مرتکب دې هم په درې کاله حبس محکوم شي.[۱]

(۳) هغه څوک چې د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شویو تزویري اسنادو څخه یو سند سره له دې چې په دې پوه وي چې جعلي دی، وکاروي، په دوه کاله حبس دې محکوم شي.[۲]

(۴) د دې مادې په (۱ ، ۲ او ۳) فقرو کې د درج شویو جرمونو مرتکب که یاد جرم په مکرر ډول ترسره کړي او تکرار یې په ثبوت ورسېږي، په اصل حبس کې دې دوه کال حبس اضافه کړل شي.[۳]

(۵) که د دې مادې په (۱ ، ۲ او ۳) فقرو کې د درج شویو جرمونو مرتکب د امارتي ادارو کارکوونکی وي، په اصل حبس کې دې دوه کاله حبس اضافه کړل شي.[٤]

**د مسئولینو په مکتوب، لاسلیک او مُهر کې د جعل او تزویر د مرتکب حکمونه**

**درې اتیایمه ماده:**

(۱)که یو څوک د لاندې ذکر شویو مسئولینو اړوند امارتي ادارو مکتوب او مُهر او د یادو مسئولینو لاسلیک کې جعل او تزویر وکړي په یو نیم کال حبس دې محکوم شي:[٥]
۱- د ریاست الوزراء مرستیالان؛
۲- د وزارتونو وزیران؛

---

-وکل مرتکب معصية لا حد فيها فيها التعزير. [الدر المختار شرح تنوير الأبصار وجامع البحار ج۱ ص۳۱۷الناشر: دار الكتب العلمية].
- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدار ذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدر جريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدر التعزير فيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ ص ٣٦ الناشر: دار المعرفة – بيروت].
- قال الزيلعي: وليس في التعزير شيء مقدر. وإنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية..[الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دار الفكر-بيروت].
(۱) المرجع السابق.
(۲) المرجع السابق.
(۳) المرجع السابق.
(٤) المرجع السابق.
(٥) من موجبات التعزير كتابة الصكوك والخطوط بالتزوير.[الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۱٦۹ طبع: مكتبه رشيدية].
-[ الفتاوى التاتارخانية ج ٦ ص ۳۹۸].
-وكل مرتكب معصية لا حد فيها فيها التعزير. [الدر المختار شرح تنوير الأبصار وجامع البحار ج۱ ص۳۱۷الناشر: دار الكتب العلمية].
- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدار ذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدر جريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدر التعزير فيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ ص ٣٦ الناشر: دار المعرفة – بيروت].
- قال الزيلعي: وليس في التعزير شيء مقدر. وإنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية..[الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دار الفكر-بيروت].

۳- د مستقل تشکیل او بودجه لرونکي لویو ریاستونو رئیسان؛

٤- د ولایتونو والیان؛

٥- د ولایتونو امنیه قوماندانان.

(۲)که یو شخص د لاندې ذکر شویو مسئولینو اړوند امارتي ادارو مکتوب او مُهر او د یادو مسئولینو لاسلیک کې جعل او تزویر وکړي په یو کال حبس دې محکوم شي:[۱]

۱- د وزارتونو معینان (مرستیالان)؛

۲- د سترې محکمې اړوند رئیسان؛

۳- د مستقل تشکیل او بودجه لرونکي لویو ریاستونو مرستیالان.

(۳) هغه څوک چې د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شویو شیانو څخه یو یې وکاروي او په دې پوه وي چې دا جعلي دی، په یو کال او شپږ میاشتې حبس دې محکوم شي.[۲]

(۴) هغه څوک چې د دې مادې په (۲) فقره کې له درج شویو شیانو څخه یو یې وکاروي او په دې پوه وي چې دا جعلي دی، په یو کال حبس دې محکوم شي.[۳]

(۵) د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې د درج شویو جرمونو مرتکب که یاد جرم په مکرر ډول ترسره کړي او تکرار یې په ثبوت ورسېږي، په اصل حبس کې دې شپږ میاشتې حبس اضافه کړل شي.[٤]

(٦) که د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې د درج شویو جرمونو مرتکب د امارتي ادارو کارکوونکی وي، په اصل حبس کې دې شپږ میاشتې حبس اضافه کړل شي.[٥]

**د رئیسانو، ولسوالانو او د ولسوالیو د امنیه قوماندانانو په مکتوب، لاسلیک یا مُهر کې د جعل او تزویر د مرتکب حکمونه**

**څلور اتیایمه ماده:**

(۱)که یو شخص د لاندې ذکر شویو مسئولینو اړوند امارتي ادارو مکتوب او مُهر او د یادو مسئولینو لاسلیک کې جعل او تزویر وکړي په اته میاشتې حبس دې محکوم شي:[٦]

۱- د وزارتونو او امارتي ادارو رئیسان؛

۲- د ولسوالیو ولسوالان؛

رواداري RAWADARI

---

(۱) المرجع السابق.

(۲) المرجع السابق.

(۳) المرجع السابق.

(٤) المرجع السابق.

(٥) المرجع السابق.

(٦) من موجبات التعزير كتابة الصكوك والخطوط بالتزوير.[الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۱٦۹ طبع: مكتبه رشيدية.]

-[ الفتاوى التاتارخانية ج ٦ ص ۳۹۸].

-وكل مرتكب معصية لا حد فيها فيها التعزير. [الدر المختار شرح تنوير الأبصار وجامع البحار ج۱ ص۳۱۷ الناشر: دار الكتب العلمية].

- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدار ذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدر جريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدر التعزير فيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ ص ٣٦ الناشر: دار المعرفة – بيروت].

- قال الزيلعي: وليس في التعزير شيء مقدر. و إنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية.[الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ ص ٦٢ الناشر: دار الفكر-بيروت].

۳- د ولسواليو امنيه قوماندانان.

(۲) هغه څوک چې د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شويو شيانو څخه يو يې وکاروي او په دې پوه وي چې دا جعلي دی، په شپږ مياشتې حبس دې محکوم شي.[۱]

(۳) د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې د درج شويو جرمونو مرتکب که ياد جرم په مکرر ډول ترسره کړي او تکرار يې په ثبوت ورسېږي، په اصل حبس کې دې درې مياشتې حبس اضافه کړل شي.[۲]

(۴) که د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې د درج شويو جرمونو مرتکب د امارتي ادارو کارکوونکی وي، په اصل حبس کې دې درې مياشتې حبس اضافه کړل شي.[۳]

**<u>په وثيقو او امارتي اسنادو کې د جعل او تزوير د مرتکب حکمونه</u>**

**پنځه اتيايمه ماده:**

(۱) د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو اړوند وثيقو کې جعل او تزوير کوونکی، په درې کاله حبس محکومېږي.[٤]

(۲) د دې مادې په(۱) فقره کې د درج شويو وثيقو په جعل او تزوير باندې له پوهې سره د يادو وثائقو کاروونکی، په دوه کاله حبس محکومېږي.[٥]

(۳) د دې مادې په (۱او ۲) فقرو او د دې اصولنامې په دوه اتيايمه، درې اتيايمه او څلور اتيايمه ماده کې د درج شويو اشخاصو او ادارو پرته د نورو رسمي او امارتي ادارو اسنادو او مُهرونو او د يادو ادارو د مسئولينو لاسليکونو، د مدرسو، ښوونځيو او بانکونو اسنادو کې جعل او تزوير کوونکی، په دوه کاله حبس محکومېږي.[٦]

(۴) د دې مادې په (۳) فقره کې درج شويو اسنادو پر جعل او تزوير باندې له پوهې سره د يادو شيانوکاروونکی، په يو کال او شپږ مياشتې حبس محکومېږي.[۷]

(۵) د دې مادې په (۳) فقره کې د درج شويو جرمونو مرتکب که ياد جرم په مکرر ډول ترسره کړي او تکرار يې په ثبوت ورسېږي، په اصل حبس کې دې شپږ مياشتې حبس اضافه کړل شي.[۸]

---

(۱) المرجع السابق.

(۲) المرجع السابق.

(۳) المرجع السابق.

(٤) من موجبات التعزير كتابة الصكوك والخطوط بالتزوير.[الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۱۶۹ طبع: مكتبه رشيدية.]

-[ الفتاوى التاتارخانية ج ۶ ص ۳۹۸].

-وكل مرتكب معصية لا حد فيها فيها التعزير. [الدر المختار شرح تنوير الأبصار وجامع البحار ج۱ ص۳۱۷ الناشر: دار الكتب العلمية].

- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدار ذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدر جريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدر التعزير فيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ۲٤ ص ۳٦ الناشر: دار المعرفة – بيروت].

- قال الزيلعي: وليس في التعزير شيء مقدر. وإنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية.[الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ ص ٦۲ الناشر: دار الفكر-بيروت].

(٥) المرجع السابق.

(٦) المرجع السابق.

(۷) المرجع السابق.

(۸) المرجع السابق.

(٦) که د دې مادې په (۳) فقره کې د درج شوي جرمونو مرتکب د امارتي اداري کارکوونکی وي، په اصل حبس کې دې شپږ میاشتې حبس اضافه کړل شي.[۱]

**د خصوصي او غیرحکومتي عام المنفعه ادارو په اسنادو کې د جعل او تزویر د مرتکب حکمونه**

**شپږ اتیایمه ماده:**

(۱) د خصوصي او غیرحکومتي عام المنفعه ادارو د اسنادو جعل او تزویر کوونکی دې په شپږو میاشتو حبس محکوم شي.[۲]

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم مرتکب که یاد جرم په مکرر ډول ترسره کړي او تکرار یې په ثبوت ورسېږي، په اصل حبس کې دې درې میاشتې حبس اضافه کړل شي.[۳]

**په قبالو، وثیقو او بانک نوټونو کې د جعل او تزویر د مرتکب حکمونه**

**اووه اتیایمه ماده:**

(۱) هغه شخص چې په قباله او یا وثیقه کې تزویر کوي او یا تزویري قباله او یا وثیقه د هغو په تزویر باندې له پوهې سره کاروي مجرم دی، قاضي دې په درې کاله حبس محکوم کړي.[٤]

(۲) هغه شخص چې جعلي بانک نوټونه چاپوي او یا یې په بازار کې رائجوي مجرم دی، قاضي دې چاپوونکی په دوه کاله او رائجوونکی په یو کال حبس محکوم کړي.[٥]

**په صنعت، تجارتي نښو او نورو مالونو کې د جعل او تزویر د مرتکب حکمونه**

**اته اتیایمه ماده:**

(۱) که څوک د یو شي صنعت وکړي (کتاب تصنیف، موټر او یا داسې بل شی جوړ کړي) د اسبقیت په وجه دغه شی او تجارتي ګټه یې د لومړي جوړوونکي حق دی، هغه تجارتي نښې او نومونه چې حکومت سره ثبت وي، عرفاً د ثبتوونکي حق دي، د دوی پر حقوقو تجاوز او دوکه کوونکی شخص مجرم دی، قاضي دې په درې میاشتې حبس محکوم کړي.[٦]

رواداری RAWADARI

---

(۱) المرجع السابق.

(۲) من موجبات التعزيركتابة الصكوك والخطوط بالتزوير.[الفتاوى الهندية ج ٢ ص ١٦٩ طبع: مكتبه رشيدية.]

-[ الفتاوى التاتارخانية ج ۶ ص ۳۹۸].

-وكل مرتكب معصية لا حد فيها فيها التعزير. [الدرالمختارشرح تنويرالأبصاروجامع البحارج١ ص٣١٧الناشر: دارالكتب العلمية].

- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدرجريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدرالتعزيرفيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].

- قال الزيلعي: وليس في التعزيرشيء مقدر. وإنما هومفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية،.[الدر المختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دارالفكر-بيروت].

(۳) المرجع السابق.

(٤) من موجبات التعزيركتابة الصكوك والخطوط بالتزوير.[الفتاوى الهندية ج ٢ ص ١٦٩ طبع: مكتبه رشيدية.]

-[ الفتاوى التاتارخانية ج ۶ ص ۳۹۸].

(٥)- فی رجل يعمل السكة المصنوعة ريالا وذهبا وروبية، وفی رجل ينشرهذه المسكوكات الزائفة ويروجها أنهما يعزران.[ عدة أرباب الفتوى ۸۱/ ۸۲ طبع: مكتبة عربية].

-[فتاوى الأسعدية ج ١ ص ۴۱۶ طبع: مكتبه حقانيه].

(٦) - منها أن يكون مالا سواء أكان المال عينا اومنفعتا عند العلماء[ بدائع الصنائع ج ۶ ص، ) مكتبه رشيديه].

(۲) د ښو مالونو سره خراب مالونه ګډول او یا خراب شی د ښه شي په نوم خرڅول جرم دی، قاضي دې مرتکب په یو کال حبس محکوم کړي.

(۳) بې کیفیته دواء د ښې دوا په نوم او پوښ کي خرڅول، تر وخت پر تیر درملو نوی تاریخ وهل جرم دی، قاضي دي د دوا په له منځه وړلو سربیره مرتکب په یوکال حبس محکوم کړي.

(۴) په تول او ترازو کي چل او نقصان کوونکی شخص مجرم دی، قاضي دې په یو میاشت حبس محکوم کړي.[1]

(۵) د مکروه شیانو لکه د خامې او یا پخې بد بویه غوښې خرڅوونکی شخص مجرم دی، قاضي دې په لس ورځې حبس محکوم کړي.[2]

(٦)که یو شخص د حرام حیوان او مرغه او یا ماکول اللحم مردار شوي حیوان او مرغه غوښې، خامې یا پخې خرڅوي او یا یې پرته له بیع خلکو ته ورکوي، قاضي دې د وهلو او سپکوونکي تشهیر سربېره په یوکال حبس یې محکوم کړي.[3]

## دوهم فصل

## په توکو کي د فساد او په اسناد کي یې د جعل او تزویر د مرتکبینو تعزیرات

## د توریدي او تولیدي بې کیفیته غذایي توکو د واردوونکو او تولیدوونکو سزاګاني

**نهه اتیایمه ماده:**

(۱) د معیاري کیفیت نه لرونکو غذایي توکو تولیدوونکي او یا توریدوونکي دې د قاضي له لوري په لاندې سزاګانو محکوم شي:[4]

---

- (والمالية تثبت بتمول الناس، فلو كانت بعض الحقوق تعتبر في العرف اموالا متقومة و تعامل بها الناس الأموال ينبغي أن يجوز بيعها عندهم ايضا.[الفقه الحنفى فى ثوبه الجديد ج ۴ ص ۳۶].

- والمالية تثبت بتمول الناس كافة اوبعضهم، والتقوم يثبت بها، وبإباحة الانتفاع به شرعا.[ردالمحتارج ۷ ص ۸. ) مكتبه رشيديه].

(۱) - أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدرجريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدرالتعزيرفيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].

- قال الزيلعي: وليس في التعزيرشيء مقدر. وإنما هومفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية،.[الدر المختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دارالفكر-بيروت].

(۲) - ويمنع عن طبخ ما يكره أكله... ويمنع من بيع طعام المنتن؛ لأنه خبيث. [نصاب الاحتساب ج ۳۷۵].

سئل فى مملوک وجد شاة ميتة على مزبلة فحملها وسلخها وذهب بلحمها الى سوق المسلمين وباعه لهم فماذا يجب عليه شرعا فى اطعامه للمسلمين؟ أجاب: هذا الخبيث خان الله ورسوله والسلطان وغش المسلمين... فالواجب على ولاة الأمورأن يضربوا هذا الفاعل أشد الضرب لا يبلغ به عدد الحد ثم يشهرعلى حماربعد أن يعلق فى عنقه شئ من اجزاء الميتة فيوضع على رأسه كرشها ... ثم بعد ذالک يحبس الى أن تظهرمنه التوبة.[عدة أرباب الفتوى ص ۷۷ ].

(۳) سئل فى مملوک وجد شاة ميتة على مزبلة فحملها و سلخها و ذهب بلحمها الى سوق المسلمين و باعه لهم فماذا يجب عليه شرعا فى اطعامه للمسلمين؟ أجاب: هذا الخبيث خان الله ورسوله والسلطان وغش المسلمين... فالواجب على ولاة الأمورأن يضربوا هذا الفاعل أشد الضرب لا يبلغ به عدد الحد ثم يشهرعلى حماربعد أن يعلق فى عنقه شئ من اجزاء الميتة فيوضع على رأسه كرشها ... ثم بعد ذالک يحبس الى أن تظهرمنه التوبة.[عدة أرباب الفتوى ص ۷۷ ].

(٤) [وعزركل مرتكب منكرأومؤذي مسلم بغيرحق بقول أوفعل.[حاشية ابن عابدين ج۳ ص ۱۹۹ الناشر: مكتبه رشيديه].

-وكل مرتكب معصية لا حد فيها فيها التعزير. [الدرالمختارشرح تنويرالأبصاروجامع البحارج١ ص٣١٧الناشر: دارالكتب العلمية].

- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدرجريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدرالتعزيرفيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].



رواداری RAWADARI

۱- که له یوه (۱) څخه تر نوي (۹۰) ټنو پورې د کیفیت له عادي تخلف سره تولید یا وارد شي او د اول ځل تخلف څخه وروسته متخلف ته د اړوندې ادارې لخوا اخطاریه ورکړل شوې وي، د دوهم ځل تخلف په صورت کې دې د متخلف جواز تر دوو میاشتو پورې تعلیق شي؛

۲- که د لومړي ځل لپاره له نوي (۹۰) څخه پورته تر سلو (۱۰۰) ټنو پورې له عادي تخلف سره تولید یا وارد شي، د متخلف جواز دې تر دوو میاشتو پورې تعلیق شي؛

۳- که له سلو (۱۰۰) ټنو څخه زیات د کیفیت له عادي تخلف سره تولید یا وارد شي د متخلف د جواز تعلیق کېدل دې د هرو سلو (۱۰۰) ټنو په مقابل کې یوه یوه میاشت نور هم زیات شي؛

۴- ددې فقرې په ۲ او ۳ جزونو کې د درج شوي تخلف د تکرار په صورت کې د متخلف د جواز د تعلیق موده دې پر اصل موده نیمه نوره هم زیاته شي.

(۲) که تولیدي او توریدي جنس د کیفیت منځني تخلف لرونکی تثبیت او وپېژندل شي، تولیدوونکي او توریدوونکي دې په لاندې سزاګانو محکوم شي: [۱]

۱- په دې فقره کې یاد توکي له یو څخه تر سلو ټنو پورې د کیفیت له منځني تخلف سره تولید یا تورید شي د متخلف شخص جواز دې د محکمې لخوا تر دوو میاشتو تعلیق او متخلف دې په همدې موده سره په حبس محکوم شي؛

۲- په دې فقره کې یاد توکي د سلو (۱۰۰) ټنو څخه زیات د کیفیت له منځنی تخلف سره تولید یا تورید شي، د متخلف شخص د جواز تعلیق او د ده حبس دې د هرو سلو (۱۰۰) ټنو په مقابل کې یوه یوه میاشت نور هم زیات شي؛

۳- ددې فقرې په ۱ او ۲ جزونو کې د درج شوي تخلف، د تکرار په صورت کې دې د متخلف د جواز تعلیق کېدل او د ده حبس پر اصل جزاء نیم نور هم زیات شي.

(۳) که تولیدي او توریدي جنس د کیفیت شدید تخلف لرونکی تثبیت او وپېژندل شي، تولیدوونکي او توریدوونکي دې په لاندې سزاګانو محکوم شي: [۲]

۱- په دې فقره کې یاد توکي له یو(۱) څخه تر سلو (۱۰۰) ټنو پورې د کیفیت له شدید تخلف سره تولید یا تورید شي، د متخلف شخص جواز دې د محکمې لخوا تر ٦ میاشتو تعلیق او متخلف دې هم په همدغه موده په حبس محکوم شي.

۲- په دې فقره کې یاد توکي د سلو (۱۰۰) ټنو څخه زیات د کیفیت له شدید تخلف سره تولید یا تورید شي، د متخلف شخص د جواز تعلیق او د ده حبس دې د هرو سلو (۱۰۰) ټنو په مقابل کې دوه دوه میاشتې نور هم زیات شي.

۳- ددې فقرې په ۱ او ۲ جزونو کې د درج شوي تخلف د تکرار په صورت کې دې د متخلف شخص جواز تعلیق او د ده حبس دې پر اصل جزاء نیم نور هم زیات شي.

**له جواز یا رسمي اجازه‌لیک پرته د خوراکي دوایي یا روغتیایي محصولاتو واردول اړوند تعزیرات**

**نوي یمه ماده:**

---

- قال الزيلعي: وليس في التعزير شيء مقدر. وإنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية.،[الدر المختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دار الفكر-بيروت].

(۱) المرجع السابق.

(۲) المرجع السابق.



رواداری RAWADARI

(۱) که شرکتونه یا اشخاص له جواز یا رسمي اجازه‌لیک پرته خوراکي توکي، درمل یا روغتیایي محصولات په رسمي او غیر رسمي او یا قاچاقي لارو راوړي او د اړوندو ادارو له‌خوا کشف او ونیول شي، یاد شیان یې د محکمې په حکم له منځه وړل کیږي او سرغړوونکو ته یې د یوه کال حبس ورکول کیږي.[۱]

(۲) که مسافر د افغانستان له بهر څخه د ځمکني او هوایي ترانسپورټ په واسطه افغانستان ته راځي او د ډاکټر له نسخې او شخصي اړتیا پرته درمل او روغتیایي محصولات د سوداګرۍ په موخه افغانستان ته را انتقالوي اړونده اقلام دي د محکمې په حکم له منځه یوړل شي او د دې غیر قانوني فعالیت د بیا نه کولو تعهد دي په لیکلي بڼه ورڅخه واخیستل شي.[۲]

(۳) د دې مادې په (۲) فقره کې له مندرج تعهد څخه، متخلف ته دې درې میاشتې حبس ورکړل شي او د بیا ځلې تکرار په صورت کې دې د تېر حبس دوه برابره حبس ورکړل شي.[۳]

**~~د واردوونکو شرکتونو د سرغړونو اړوند تعزیر~~**

**یو نوي یمه ماده:**

(۱)که د درملو او روغتیایي محصولاتو توریدوونکی شرکت له اجازې پرته په رسمي او غیر رسمي لارو د درملو او روغتیایي محصولاتو په تورید او بازار ته په وړاندې کولو لاس پورې کړي، لاندې تعزیري سزا ورکول کیږي:[٤]

۱- لومړی ځل یې یاد درمل او روغتیایي محصولات، د محکمې په حکم له منځه وړل او د یوې میاشتې لپاره یې د درملیز مرکز فعالیت ځنډول؛

۲- دوهم ځل یې درمل او روغتیایي محصولات د محکمې په حکم له منځه وړل او د درې میاشتو لپاره یې د درملیز مرکز فعالیت ځنډول؛

۳- د تکرار په صورت کې یاد متخلف ته د دې مادې د (۱) فقرې ۲ جزء کې د درج شوې سزا دوه برابره سزا ورکول.

(۲) که ګمرک ته په رارسېدلې محموله کې داسې درملیز اقلام او روغتیایي محصولات وموندل شي چې سندونه یې موجود نه وي اړوند توکي، د محکمې په حکم له منځه وړل کیږي او متخلف ته یې د یوه کال حبس ورکول کیږي.[٥]

---

(۱) -وکل مرتکب معصیة لا حد فیها فیها التعزیر. [الدر المختارشرح تنویر الأبصاروجامع البحارج۱ ص۳۱۷الناشر: دارالکتب العلمیة].
- أن کل من ارتکب محرما لیس فیه حد مقدر، فإنه یعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلی الإمام، ویبني ذلك علی قدرجریمته، وهذه جریمة متکاملة، فلهذا قدرالتعزیرفیها بتسعة، وثلاثین سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ۲٤ص ۳٦ الناشر: دارالمعرفة – بیروت].
- قال الزیلعي: ولیس في التعزیرشيء مقدر. وإنما هومفوض إلی رأي الإمام علی ما تقتضي جنایتهم، فإن العقوبة فیه تختلف باختلاف الجنایة،.[الدر المختاروحاشیة ابن عابدین (رد المحتار) (ج ٤ص ٦۲ الناشر: دارالفکر-بیروت].

(۲) المرجع السابق.

(۳) المرجع السابق.

(٤)- [وعزرکل مرتکب منکرأومؤذي مسلم بغیرحق بقول أوفعل.[حاشیة ابن عابدین ج۳ ص ۱۹۹الناشر: مکتبه رشیدیه].
-وکل مرتکب معصیة لا حد فیها فیها التعزیر. [الدر المختارشرح تنویر الأبصاروجامع البحارج۱ ص۳۱۷الناشر: دارالکتب العلمیة].
- أن کل من ارتکب محرما لیس فیه حد مقدر، فإنه یعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلی الإمام، ویبني ذلك علی قدرجریمته، وهذه جریمة متکاملة، فلهذا قدرالتعزیرفیها بتسعة، وثلاثین سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ۲٤ص ۳٦ الناشر: دارالمعرفة – بیروت].
- قال الزیلعي: ولیس في التعزیرشيء مقدر. وإنما هومفوض إلی رأي الإمام علی ما تقتضي جنایتهم، فإن العقوبة فیه تختلف باختلاف الجنایة،.[الدر المختاروحاشیة ابن عابدین (رد المحتار) (ج ٤ص ٦۲ الناشر: دارالفکر-بیروت].

(٥) المرجع السابق.

(۳) که د درملو او روغتیايي محصولاتو توریدوونکی شرکت د هغو درملو او روغتیايي محصولاتو په تورید او بازار ته په وړاندې کولو لاس پورې کړي چې د عامې روغتیا یا کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ په وزارتونو کې یې د ثبت مرحله نه وي تکمیل شوې، لاندې تعزیري سزاګانې ورکول کیږي:[۱]

۱- په لومړي ځل متخلف ته په قهرجنو الفاظو توصیه کول او ورځخه د دې غیر قانوني فعالیت د بیا نه کولو تعهد په لیکلې بڼه اخیستل؛

۲- په دوهم ځل یې د یوې میاشتې لپاره، د درملیز مرکز فعالیت ځنډول؛

۳- د تکرار په صورت کې اړوند وارد شوي اقلام د محکمې په حکم له منځه وړل.

(۴) که د خوراکي توکو، درملو او روغتیايي محصولاتو توریدوونکی شرکت په خپلو معیاري ګودامونو کې ساتل شوي توکي د عامې روغتیا یا کرنې وزارت د کیفیت معلومولو د پایلو له رارسېدو نه مخکې له خپلو ګودامونو څخه وباسي او یا یې وپلوري، لاندې تعزیري سزاګانې ورکول کیږي:[۲]

۱- په لومړي ځل د متخلف اړوند پلورل شوي توکي له بازار څخه راټولول او د محکمې په حکم له منځه وړل؛

۲- په دوهم ځل یې د یوې میاشتې لپاره، د درملیز مرکز فعالیت ځنډول؛

۳- د تکرار په صورت کې یې د تل لپاره، د درملیز مرکز فعالیت بندول.

(۵) که د درملو توریدوونکی شرکت، افغانستان ته له مخکنی مهال وېش سره سم د هغو ارفان درملو په واردولو اقدام ونه کړي چې د عامې روغتیا وزارت له خوا ورته د تورید سپارښتنه شوې وي، لاندې تعزیري سزاګانې ورکول کیږي:[۳]

۱- په لومړي ځل یې، فعالیت د یوې میاشتې لپاره ځنډول؛

۲- د تکرار په صورت کې، د تبرې سزا دوه برابره سزا ورکول.

(٦) که د درملو توریدوونکی شرکت د عامې روغتیا او کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ په وزارتونو کې د ثبت شوې تصدیق پاڼې ۷۰٪ د تعیین شوي وقت په جریان کې وارد نه کړي، لاندې سزاګانې ورکول کیږي:[٤]

۱- په لومړي ځل د یو کال لپاره یاد شرکت د همغه قلم درملو له ثبت څخه محرومول؛

۲- په دوهم ځل یې د دوو کلونو لپاره د همغه قلم درملو له ثبت څخه محرومول؛

۳- په دریم ځل یې د همغه قلم درملو د ثبت تصدیق پاڼه لغوه کول.

(۷)که د درملو او روغتیايي محصولاتو تولیدي کارخونه، توریدي شرکت، عمده پلورنځي او درملتونونه د وارد شویو درملو او روغتیايي محصولاتو د توزیع لپاره ډاکټرانو ته د ګټې په موخه فیصدي او یا نور امتیازات ورکوي، د محکمې په حکم لاندې تعزیري سزاګانې ورکول کیږي:[٥]

۱- په لومړي ځل دې د تولیدي کارخونې، واردوونکي شرکت، عمده پلورنځي او درملتون فعالیت د یوې میاشتې لپاره وځنډول شي؛

(۱) المرجع السابق.
(۲) المرجع السابق.
(۳) المرجع السابق.
(٤) المرجع السابق.
(٥) المرجع السابق.

۲- په دوهم ځل دې د توليدي کارخونې، وارداوونکي شرکت، عمده پلورنځي او درملتون فعاليت د درو مياشتو لپاره وځنډول شي؛
۳- په دريم ځل دې د توليدي کارخونې، وارداوونکي شرکت، عمده پلورنځي او درملتون مسئول ته درې مياشتې حبس ورکول شي؛
۴- د بيا تکرار په صورت کې دې وروستی سزا دوه برابره ورکول شي.
(۸) که يو ډاکټر له وارداوونکو توليدي کارخونو، شرکتونو، عمده پلورنځيو او درملتونونو څخه فيصدي او يا نور امتيازات واخلي، د محکمې په حکم لاندې تعزيري سزاگانې ورکول کيږي:[۱]
۱- په لومړي ځل ورڅخه په ليکلې بڼه د بيا نه کولو تعهد اخيستل، کتنځای او روغتيايي فعاليت يې د يوې مياشتې لپاره ځنډول؛
۲- په دوهم ځل يې کتنځای او روغتيايي فعاليت د درو مياشتو لپاره ځنډول او ياده موضوع د لازمو رسمي کړنو لپاره د عامې روغتيا وزارت ته لېږل؛
۳- په دريم ځل يې د فعاليت جواز سلبول او د روغتيا په برخه کې له کار کولو څخه د تل لپاره منع کول.
(۹)که د خوراکي توکو او درمليزو تأسيساتو جواز لرونکي، د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو د لېږد لپاره له غير معياري لېږد وسايلو څخه گټه اخلي او په غير معياري زېرمتونونو کې يې ساتي، د محکمې په حکم لاندې تعزيري سزاگانې ورکول کيږي:[۲]
۱- په لومړي ځل ورڅخه د بيا نه کولو تعهد په ليکلې بڼه اخيستل؛
۲- په دوهم ځل يې فعاليت د يوې مياشتې لپاره ځنډول؛
۳- د بيا تکرار په صورت کې ورته وروستی سزا دوه برابره ورکول.
(۱۰)که اشخاص له جوازليک پرته د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو د لېږد لپاره د غير معياري لېږد وسايلو څخه گټه اخلي او په غير معياري زېرمتونونو کې يې ساتي، د محکمې په حکم لاندې تعزيري سزاگانې ورکول کيږي:[۳]
۱- په لومړي ځل يې ياد توکي له منځه وړل؛
۲- په دوهم ځل د يادو توکو د له منځه وړلو سربېره متخلف ته يوه مياشت حبس ورکول؛
۳- د بيا تکرار په صورت کې ورته وروستی سزا دوه برابره ورکول.
(۱۱)که ترانسپورټي شرکت او يا شخص هغه خوراکي توکي، درمل او روغتيايي محصولات انتقالوي چې وارداوونکی يې د سوداگرۍ رسمي جوازليک سربېره د خوراکي توکو لپاره د کرنې، اوبو لگولو او مالدارۍ د وزارت د واردولو اجازه ليک او د درملو او روغتيايي محصولاتو لپاره د عامې روغتيا وزارت د واردولو اجازه‌ليک ونه لري، ياد عمل يې قاچاق گڼل کيږي، مرتکب يې د قاضي په حکم په لاندې ترتيب تعزيريږي:[٤]
۱- په لومړي ځل يې توکي له منځه وړل او په ياد قاچاق کې ښکيل موټر ته د يوې مياشتې توقف ورکول؛

---
(۱) المرجع السابق.
(۲) المرجع السابق.
(۳) المرجع السابق.
(٤) المرجع السابق.

۲- په دوهم ځل یې د یادو توکو په لهمنځه وړلوسربېره په قاچاق کې ښکیل موټر دوه میاشتې توقف او مر تکب ته د یوې میاشتې حبس ورکول؛

۳- په دریم ځل یې د یادو توکو په لهمنځه وړلوسربېره په قاچاق کې ښکیل موټر درې میاشتې توقف او مر تکب ته دوه میاشتې حبس ورکول.

(۱۲) که د هوایي میدانونو او د طیارې کارکوونکي ( پیلوټ، انجنیر او خدمه) د سوداګریزو موخو لپاره خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات په دوهم ځل وارد کړي، اړوند مسئولین یې محکمې ته معرفي کوي او قاضي دې مرتکب په لاندې ترتیب سره تعزیر کړي:[1]

۱- یاد توکي، درمل او روغتیایي محصولات لهمنځه وړل؛

۲ – د بیا تکرار په صورت کې، په یو کال حبس محکومول.

(۱۳) د روغتیایي خدمتونو وړاندې کوونکې داخلي او خارجي مؤسسات له احوالو سره په لاندې حالتونو کې د قاضي له لوري په تعزیري سزاګانو محکومیږي:

۱- که خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات د اسلامي امارت له اصولو سره سم له کورنیو تولیدي فابریکو، توریدي شرکتونو او عمده پلورنځیو څخه ونه پیري؛

۲- په عامې روغتیا یا کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارتونو کې د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو له واردولو څخه مخکې جوازلیک ثبت نه کړي؛

۳- د هغو خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو چې د کمیت او کیفیت تحلیل او ارزونه یې په افغانستان کې شونتیا ونه لري، د هرې بستې د شمېرې او بار (محمولې) د تحلیل او ارزونې تصدیق پاڼې، د تولیدوونکې کارخونې له اړخه د عامې روغتیا له وزارت سره شریکې نه کړي؛

۴- د داخلي کارخونو تولید شوي محصولات او نور د اړتیا وړ خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات له داخلي مارکیټونو څخه ترلاسه نه کړي؛

۵- په هغه صورت کې چې د اړتیا وړ خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات په افغانستان کې د لاسرسي وړ نه وي، له معتبرو بهرنیو کارخونو (چې د روغتیا د نړیوال سازمان له خوا یې تصدیق پاڼه ترلاسه کړې وي) څخه اړوند محصولات وارد نه کړي؛

٦- د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د واردولو پر مهال د اړوندو توکو ۲ بر ۳ ساتنیز عمر په پام کې ونه نیسي؛

۷- د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د واردولو پر مهال د عامې روغتیا او کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارتونو ټول اصولي سندونه مراعات نه کړي؛

۸- د خوراکي توکودرملو او روغتیایي محصولاتو له رارسېدو وروسته ټول اړوند اصلي سندونه، ګمرکونو او د عامې روغتیا وزارت ته ونه سپاري؛

۹- د سندونو د پړاوونو د سرته رسولو (طی مراحل) موضوع له اړوندو ادارو سره په منظم ډول تعقیب نه کړي؛

---

(۱) المرجع السابق.

۱۰- خوراکي توکي، درمل او روغتیايي محصولات په معیاري زېرمتونونو کي ونه ساتي؛

۱۱- د درملو او روغتیايي توکو د لېږد پرمهـال د ترانسپورټ معیاري وسیلو څخه کار وا نه خلي؛

۱۲- د دوهم ځل تخلف په صورت کي درمل او روغتیايي محصولات د محکمې په حکم له منځه وړل؛

۱۳- د بیا تکرار په صورت کي یې د فعالیت جواز لغوه کول.

(۱۴) که یو شخص د دودیز طب ترنامه لاندې توکي د سوداګریزو موخو لپاره درملو او روغتیايي محصولاتو د واردولو له اجازه‌لیک پرته او یا د درملنې په موخه د طبیب له نسخې پرته په رسمي او غیر رسمي لارو افغانستان ته وارد کړي یاد عمل قاچاق ګڼل کیږي، اړوند مسئولین یې محکمې ته معرفي کوي او قاضي دې د درملنې په موخه د یاد واردوونکي د توکو په له منځه وړلو حکم صادر کړي او د سوداګرۍ په موخه یاد واردوونکی په لاندې ډول تعزیرکړي:[۱]

۱- د توکو له منځه وړل؛

۲- په نهه دېرش دُرو وهلو او دوه کاله حبس محکومول؛

۳- په یاد قاچاق کي ښکیل موټر ته درې میاشتې‌توقف ورکول.

(۱۵) د ممنوعه خوراکي توکو، درملو او روغتیايي محصولاتو قاچاق کوونکي ته دي قاضي په لاندې ډول تعزیر ورکړي:[۲]

۱- یاد توکي، درمل او روغتیايي محصولات له منځه وړل؛

۲- قاچاق کوونکی په نهه دېرش دُرو وهلو سربېره په دوه کاله حبس محکومول؛

۳- په یاد قاچاق کي ښکیل موټر ته درې میاشتې توقف ورکول.

(۱۶) که د امارتي ادارو مسئولین، کارکوونکي او نور ټول هغه اشخاص چي په یو ډول امارتي ادارو سره تړاو ولري، او په قاچاق کي له قاچاق کوونکي سره مرسته او یا لارښوونه وکړي، له اثباتیه دلایلو موندلو وروسته له وظیفو څخه منفک او د قاچاق کوونکي په سزاګانو محکومېږي.[۳]

<u>**د قاچاق کوونکي ډلې تعزیري حکمونه**</u>

**دوه نوي یمه ماده:**

(۱)که د قاچاق عمل د شبکې (منظمې ډلې) له لارې وي، د شبکې (منظمې ډلې) مشر په لس کاله حبس محکومېږي.[٤]

رواداری RAWADARI

---

(۱) المرجع السابق.

(۲) المرجع السابق.

(۳) المرجع السابق.

(٤) - [وعزركل مرتكب منكرأومؤذي مسلم بغيرحق بقول أوفعل.[حاشية ابن عابدين ج٣ ص ١٩٩الناشر: مكتبه رشيديه].

-وكل مرتكب معصية لا حد فيها فيها التعزير. [الدر المختارشرح تنوير الأبصاروجامع البحارج١ ص٣١٧الناشر: دارالكتب العلمية].

- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدرجريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدرالتعزيرفيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].

- (قوله: أمرالسلطان إنما ينفذ) أي: يتبع ولا تجوزمخالفته. (الدر المختاروحاشية ابن عابدين ج٥ ص ٤٢٢ الناشر: دارالفكر-بيروت).

- أن بعض المباحات قد تصيرواجبات بأمرالحكام، لكونهم من أولي الأمر، وقد أمرنا بإطاعتهم أيضا. [فيض الباري على صحيح البخاري ج٥ ص ٢٤٣ الناشر: دارالكتب العلمية بيروت - لبنان].

(۲) د شبکې (منظمې ډلې) هغو قاچاق کوونکو ته چې د نیولو پر مهال وسله‌وال مقاومت وکړي او په پایله کې یې چاته هېڅ ډول زیان نه وي رسېدلی، لاندې سزا ورکول کیږي:[۱]

۱- اړوند توکي یې د محکمې په حکم له منځه وړل؛

۲- د شبکې هر غړی په ۱۰ کاله حبس محکومول.

**د معیار او کیفیت اړوند امورو کې د جعل او تزویر د مرتکبینو سزاګانې**

**درې نوي یمه ماده:**

(۱) د معیار او کیفیت اړوند امورو کې د جعل او تزویر مرتکب ته دې قاضي په لاندې ډول تعزیر ورکړي:[۲]

۱- که شخص له هغه لیږدونکي واسطې نه چې باکیفیته تثبیت شوي توکي پکښې ځای پرځای شوي وي، نمبر پلېټ جدا او په بله لیږدونکې واسطه یې ونښلوي او پکښې بې کیفیته توکي بار او انتقال کړي یاد شخص په شپږ میاشتې حبس او د تکرار په صورت کې په نهه میاشتې حبس؛

۲- د معیار او کیفیت ادارې اړوند د رسمي مکتوب په څېر جعلي مکتوب جوړوونکی په نهه میاشتې حبس او د تکرار په صورت کې په دیارلس نیمې میاشتې حبس؛

۳- د معیار او کیفیت ادارې په رسمي مکتوب کې لاس وهونکی په شپږ میاشتې حبس او د تکرار په صورت کې په نهه میاشتې حبس؛

۴- دکیفیت او معیار نښان د معیار اوکیفیت ادارې له رسمي جواز پرته په جعلي ډول په خپلو محصولاتو او خدماتو کې کاروونکی په شپږ میاشتې حبس او د تکرار په صورت کې په نهه میاشتې حبس؛

۵- د توریدوونکي یا تولیدوونکي د محصولاتو لپاره کیفي تصدیق پاڼه د ادارې له رسمي جواز پرته په جعلي ډول په خپلو محصولاتو او خدماتو کې کاروونکی په نهه میاشتې حبس او د تکرار په صورت کې په دیارلس نیمې میاشتې حبس؛

۶- د محصولاتو لپاره د کیفیت د تثبیت جواز پاڼه د معیار او کیفیت ادارې له رسمي جواز پرته په جعلي ډول په خپلو چارو کې کاروونکی په شپږ میاشتې حبس او د تکرار په صورت کې په نهه میاشتې حبس؛

۷- د معیار او کیفیت ادارې په معلوماتي برچسپ (لیبل) کې جعل کوونکی په شپږ میاشتې حبس او د تکرار په صورت کې په نهه میاشتې حبس؛

رواداري RAWADARI

---

(۱) المرجع السابق.

(۲) - من موجبات التعزیر کتابة الصکوك والخطوط بالتزویر.[الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۱۶۹ طبع: مکتبه رشیدیة.]

-[ الفتاوی التاتارخانیة ج ۶ ص ۳۹۸].

- [وعزر کل مرتکب منکر أو مؤذي مسلم بغیر حق بقول أو فعل.[حاشیة ابن عابدین ج۳ ص ۱۹۹ الناشر: مکتبه رشیدیه].

-وکل مرتکب معصیة لا حد فیها فیها التعزیر. [الدر المختار شرح تنویر الأبصار وجامع البحار ج۱ ص۳۱۷ الناشر: دار الکتب العلمیة].

- أن کل من ارتکب محرما لیس فیه حد مقدر، فإنه یعزر، ثم الرأي في مقدار ذلك إلی الإمام، ویبني ذلك علی قدر جریمته، وهذه جریمة متکاملة، فلهذا قدر التعزیر فیها بتسعة، وثلاثین سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ۲٤ ص ۳٦ الناشر: دار المعرفة – بیروت].

- قال الزیلعي: ولیس في التعزیر شيء مقدر. وإنما هو مفوض إلی رأي الإمام علی ما تقتضي جنایتهم، فإن العقوبة فیه تختلف باختلاف الجنایة.[الدر المختار وحاشیة ابن عابدین (رد المحتار) (ج ٤ ص ٦۲ الناشر: دار الفکر-بیروت].

۸- د معیار اوکیفیت اداري په باور پاڼه کي، چي په مشخصو فعالیتونو کي د شخص د توان او صلاحیت مشخصوونکی دی، جعل کوونکی، په څلور میاشتي حبس او د تکرار په صورت کي په شپږ میاشتي حبس؛

۹- د معیار او کیفیت د اداري اړوند د رسمي مکتوبونو د لیږد لپاره پاکتونه په جعلي ډول استعمالوونکی، په دوه میاشتي حبس او د تکرار په صورت کي په دري میاشتو حبس؛

۱۰- د معیار اوکیفیت اداري د هري شعبي یا سرچیني مهر په تزویر سره استعمالوونکی په یو کال حبس او د تکرار په صورت کي په اتلس میاشتي حبس؛

۱۱- که د معیار او کیفیت اداري د یوي شعبي مهر د مسئول شخص له اجازي پرته د بل کارکوونکي له لوري وکارول شي، کاروونکی شخص دي له وظیفي څخه په عزل سربېره په شپږ میاشتي حبس محکوم شي؛

۱۲- که شخص د معیار او کیفیت اداري د لوی رئیس، معاونینو، فني رئیسانو او آمرینو لاسلیک د معیار او کیفیت اړوند اسنادو کي په تزویر سره رسم کړي، په دوه کاله حبس او د تکرار په صورت کي دي په دېرش میاشتي حبس محکوم شي؛

۱۳- د معیار او کیفیت په اداره کي د غیر اصولي کار د ترسره کولو په موخه د اداري کار کوونکي ته رشوت ورکوونکی شخص دي په دوولس میاشتي حبس محکوم شي او د تکرار په صورت کي دي یاد شخص په اتلس میاشتي حبس محکوم شي؛

۱۴- د معیار او کیفیت اداري رشوت اخیستونکی کار کوونکی دي له وظیفي عزل او په دولس میاشتي حبس دي محکوم شي؛

۱۵- د معیار او کیفیت اداري کارمند یا شخص چي د رشوت ورکوونکي او رشوت اخیستونکي تر منځ وسیله ګرځي، په اتلس میاشتي حبس او د تکرار په صورت کي دي په څلورویشت میاشتي حبس محکوم شي.

۱٦- که کوم شخص د مقام له تائیدی پرته د ویاند، ارتباطي او یا استازي په نامه له شرکتونو او افرادو سره اړیکه ټینګه کړي، په دري میاشتي حبس دي محکوم شي او د تکرار په صورت کي دي په څلور نیمو میاشتي حبس محکوم شي؛

۱۷- د معیار او کیفیت اداري په نامه د جعلي انټرنېټي پاڼو، ویبپاڼو، بربښنالیکونو او د هویت کارتونو جوړوونکی شخص په دوه کاله او استعمالوونکي دې په یو کال حبس محکوم شي او د تکرار په صورت کي دي هر یو ته د اصل حبس سربیره نیم نور حبس هم اضافه شي؛

۱۸- که شخص د با کیفیته جنس په بدل کي بې کیفیته جنس د هغه سند سره چي د معیار او کیفیت د اداري لخوا تر لاسه شوی وي پېربدونکي او یا د با کیفیته مال مالک ته تحویل کړي یاد شخص دي په یو کال حبس او د تکرار په صورت کي دې په اتلس میاشتي حبس محکوم شي؛

(۲) که دوکاندار، شخص، شرکت یا مطبعه د معیار او کیفیت اداري اشیاء په جعل سره جوړ کړي په لاندي ترتیب سره تعزیریږي:

۱- دکیفیت او معیار نښان په جعل سره جوړوونکی په دوولس میاشتو حبس او د تکرار په صورت کي په اتلس میاشتو حبس؛

۲- تصدیق پاڼه په جعل سره جوړوونکی په اتلس میاشتو حبس او د تکرار په صورت کي اووه ویشت میاشتو حبس؛

۳- د تثبیت جواز پاڼه په جعل سره جوړوونکی په دوولس میاشتو حبس او د تکرار په صورت کي په اتلس میاشتو حبس؛

۴- برچسپ (لیبل) په جعل سره جوړوونکی په دوولس میاشتو حبس او د تکرار په صورت کي په اتلس میاشتو حبس؛

۵- باور پاڼه په جعل سره جوړوونکی په اته میاشتي حبس او تکرار په صورت کي دوولس میاشتو حبس؛

۶- د رسمي مکتوبونو د لېږد لپاره پاکټونه په جعل سره جوړوونکی په څلور میاشتې حبس او د تکرار په صورت کې په شپږ میاشتې حبس؛

۷- د هرې شعبې یا سرچینې مهر په جعل سره جوړوونکی په دوه کاله حبس او د تکرار په صورت کې په شپږ دېرش میاشتو حبس؛

## دریم باب

## د مخدره موادو د کرنې، تجارت او انتقال اړوند تعزیرات

دغه باب په لاندې پنځو فصلونو مشتمل دی:

لومړی فصل: د کوکنارو او بنګو اړوند تعزیري جزاګانې؛

دوهم فصل: له خارج څخه افغانستان ته د ترياکو، چرسو او نورو مخدره موادو را انتقالول؛

دریم فصل: د نشه يي توکو د خرڅولو او استعمال اړوند تعزيري جزاګانې؛

څلورم فصل: د مختلفو نشه يي مواد اړوند حکمونه؛

پنځم فصل: د نشه يي توکو اړوند متفرقه حکمونه.

### لومړی فصل

### د کوکنارو او بنګو اړوند تعزیري جزاګانې

<u>د کوکنارو او بنګو د کرنې اړوند جزاګانې</u>

**څلور نوي یمه ماده:**

(۱) هر شخص چې د کوکنارو او بنګو کرنه وکړي، قاضي دې د کروندې د اندازې له مخې، د کښت د له منځه وړلو سربېره لاندې تعزیري جزاګانې ورکړي: [۱]

۱- که د کروندې اندازه يې له نیم جریب څخه کمه وه شپږ میاشتې حبس؛

۲- که د کروندې اندازه يې نیم جریب وه نهه میاشتې حبس؛

۳- که د کروندې اندازه يې له نیم جریب څخه زیاته وه یو کال حبس؛

---

(۱)- أنهم صرحوا أن المباح في نفسه قد يصير حراما من حكم الأمير من جهة أن الله أمر بطاعتهم، فقال: {أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم} فحينئذ لو رأى الأمير أن يمنع الناس عن أكل شيء لمصلحة بدت له، يجب عليهم أن لا يأكلوه، ويحرم عليهم. إلا أن تلك الحرمة تقتصر على مدة إمارته فقط، ولا يتجاوزها، فهي حرمة مؤقتة. [فيض الباري على صحيح البخاري، ج۲ ص ٤٠٨، الناشر: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان].

- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدار ذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدر جريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدر التعزير فيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دار المعرفة – بيروت].

- قال الزيلعي: وليس في التعزير شيء مقدر. وإنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية. [الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دار الفكر-بيروت].

- وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي. [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري، ج٥ ص ١١، الناشر: دار الكتاب الإسلامي].

رواداری RAWADARI

۴- که د کروندې اندازه يې له يو جريب څخه زياته وه پر هر زيات جريب شپږ مياشتې حبس او پر هره زياته بسوه لس ورځې حبس او د حبس اخيري موده يې اووه کاله ده.

(۲) د کوکنارو او بنگو کروند گر که د ځمکې مالک، اجاره دار، دهقان، مزدور او يا شريک وي، ټول د دې مادې په (۱) فقره کې د يادو شويو حکمونو تابع دي، د ذکر شوي ترتيب موافق حبس به ورکولای شي.[1]

**په افغانستان کې د ترياکو او چرسو د انتقالوونکي جزاگانې**

**پنځه نوي يمه ماده:**

(۱) هر شخص چې د افغانستان په داخل کې چرس يا ترياک انتقال کړي، قاضي دې د چرسو يا ترياکو د اندازې له مخې، انتقالوونکي ته لاندې تعزيري جزاگانې ورکړي:[2]

۱- که د نيول شويو چرسو او ترياکو وزن له يو کيلو گرام څخه کم وي يو کال حبس؛

۲- که د نيول شويو چرسو او ترياکو وزن يو کيلو گرام او يا له هغې څخه پورته تر پنځه کيلو گرامه وي دوه کاله حبس؛

۳- که د نيول شويو چرسو او ترياکو وزن له پنځه کيلو گرام څخه پورته تر دېرش کيلو گرامه وي درې کاله حبس؛

۴- که د نيول شويو چرسو او ترياکو وزن له دېرش کيلو گرام څخه پورته وي، دهر شل کيلو گرام په زيادت سره يو کال حبس؛ البته د حبس نهائي موده به يې اووه کاله وي.

(۲) د ترياکو او چرسو انتقالوونکی که د يادو توکو مالک، شريک او يا يې هم کرايه والا وي، ټول د دې مادې په (۱) فقره کې د يادو شويو حکمونو تابع دي او د ذکر شوي ترتيب موافق حبس ورکول کيږي.[3]

**په چرسو او ترياکو کې له نيول کيدو وروسته تغير**

**شپږ نوي يمه ماده:**

که چرسو او ترياکو کې له نيول کيدو وروسته، تغير يا يې په وزن کې کموالی راشي (د يو چا لخوا کم شي او يا يې بدل کړي) ياد متهمين، مربوطه محکمې ته معرفي او په لاندې جزاگانو محکوميږي:[4]

۱- که په نيول شويو چرسو او ترياکو کې له يو کيلو گرام څخه کم يې تغير يا کم کړي وه د يو کال حبس؛

---

(۱) المرجع السابق.

(۲)- [وعزركل مرتكب منكر أو مؤذي مسلم بغير حق بقول أو فعل]. [حاشية ابن عابدين ج٤ ص ٦٦ الناشر: دار الفكر- بيروت].

- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدار ذلك إلى الإمام، ويبنى ذلك على قدر جريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدر التعزير فيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ ص ٣٦ الناشر: دار المعرفة – بيروت].

- قال الزيلعي: وليس في التعزير شيء مقدر. وإنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية.[الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ ص ٦٢ الناشر: دار الفكر-بيروت].

(۳) المرجع السابق.

(٤) المرجع السابق.

۲- که په نیول شویو چرسو او تریاکو کې له یو کیلو ګرام څخه زیات تر پنځه کیلو ګرامه یې تغیر یا کم کړي وه دوه کاله حبس؛

۳- که په نیول شویو چرسو او تریاکو کې له پنځه کیلو ګرام څخه زیات تر دېرش کیلو ګرامه یې تغیر یا کم کړي وه درې کاله حبس؛

۴- که په نیول شویو چرسو او تریاکو کې له دېرش کیلو ګرامه زیات یې تغیر یا کم کړي وه د هر لس کیلو ګرامه په زیادت سره یوکال حبس زیاتیږي، البته د حبس نهائي موده به یې اووه کلونه وي.

**په افغانستان کې د تریاکو څخه جوړ د بیست موادو د انتقالوونکي جزاګانې**

**اووه نوي یمه ماده:**

که شخص د افغانستان په داخل کې بیست مواد د یو ځای څخه بل ځای ته انتقالوي د یادو موادو وزن ته په کتلو په لاندي جزاګانو محکومیږي: [۱]

۱- که د نیول شوي بیست موادو وزن یو کیلو ګرام او یا هم تر یو کیلو ګرام کم وي انتقالوونکي ته یې دوه کلونه حبس ورکول کیږي.

۲- که د نیول شوي بیست موادو وزن د یو کیلو ګرام څخه زیات تر پنځه کیلو ګرامو پوري وي انتقالوونکي ته یې درې کاله حبس ورکول کیږي.

۳- که د نیول شوي بیست موادو وزن د پنځه کیلو ګرامه څخه زیات تر لس کیلو ګرامو پوري وي انتقالوونکي ته یې څلور کاله حبس ورکول کیږي.

۴- که د نیول شوي بیست موادو وزن د لس کیلو ګرام څخه زیات وي، د هر دوه کیلو ګرام وزن په زیادت سره یو کال بند زیاتیږي البته د حبس نهائي موده به یې اووه کلونه وي.

**د نیول شوي بیست موادو تر نیولو وروسته تغیر**

**اته نوي یمه ماده:**

که بیست مواد تر نیولو وروسته بدل یا یې په وزن کې کموالی راشي (د یو چا لخوا کم شي یا یې بدل کړي) د یادې موضوع متهمین مربوطه محکمې ته معرفي او په لاندي جزاګانو محکومیږي: [۲]

۱- د نیول شویو بیست موادو څخه که تر یو کیلو مواد کم یا بدل کړي وي، مرتکب ته یې، دوه کلونه حبس ورکول کیږي؛

۲- د نیول شویو بیست موادو څخه که یې د یو کیلو ګرام څخه زیات تر پنځه کیلو ګرام پوري مواد کم کړي یا یې بدل کړي وي مرتکب ته یې، درې کلونه حبس ورکول کیږي؛

(۱) المرجع السابق.

(۲) المرجع السابق.

۳- د نیول شویو بیست موادو څخه که یې د پنځه کیلو څخه زیات تر لس کیلو گرام پوري مواد کم کړي یا یې بدل کړي وي مرتکب ته یې، څلور کلونه حبس ورکول کیږي؛

۴- د نیول شویو بیست موادو څخه که یې د لس کیلو گرام څخه زیات مواد کم کړي وي، د هر دوه کیلو گرام په زیادت سره یو کال بند ور زیاتیږي، البته د حبس نهائي موده به یې، اووه کلونه وي.

## دوهم فصل

## له خارج څخه افغانستان ته د تریاکو، چرسو او نورو مخدره موادو را انتقالول

**د خارج څخه د تریاکو او چرسو د را انتقالوونکي جزاگانې**

**نهه نوي یمه ماده:**

که شخص د خارج څخه چرس یا تریاک افغانستان ته را انتقال کړي د را انتقال شویو چرسو یا تریاکو وزن ته په کتلو سره په لاندي جزاگانو محکومیږي:[1]

۱- که د را انتقال شویو چرسو یا تریاکو وزن تر یو کیلو گرام کم وي را انتقالوونکي ته یې یو کال حبس ورکول کیږي؛

۲- که د یادو چرسو یا تریاکو وزن د یو کیلو گرام څخه زیات تر پنځه کیلو گرامه پوري وي را انتقالوونکي ته یې دوه کاله حبس ورکول کیږي؛

۳- که د را انتقال شوي چرسو یا تریاکو وزن د پنځه کیلو گرامه څخه زیات تر دېرش کیلو گرامه پوري وي را انتقالوونکي ته یې درې کاله حبس ورکول کیږي؛

۴- که د دغه را انتقال شوي چرسو یا تریاکو وزن د دېرش کیلو گرامه څخه زیات وي، د هرو لسو کیلو گرامه په زیادت سره یو کال حبس زیاتیږي، البته د حبس نهائي موده به یې اووه کلونه وي.

**له چرسو او تریاکو پرته افغانستان ته د نورو نشه یي توکو د را انتقالوونکي جزاگانې**

**سلمه ماده:**

---

(۱)- [وعزركل مرتكب منكر أو مؤذي مسلم بغير حق بقول أو فعل]. [حاشية ابن عابدين ج٤ ص ٦٦ الناشر: دار الفكر- بيروت].

- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدار ذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدر جريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدر التعزير فيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دار المعرفة – بيروت].

- قال الزيلعي: وليس في التعزير شيء مقدر. وإنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية. [الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دار الفكر-بيروت].

- وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي. [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري، ج٥ ص ١١، الناشر: دار الكتاب الإسلامي].

له خارج څخه د نشه يي توکو (ترې ماډول، زيکپ بې له جوازه او ټابليټ کا، هيرويين، شراب، شيشه او داسي نور چې هيڅ جواز نه لري) واردوونکی د يادو موادو مقدار ته په کتلو په لاندې جزاګانو محکوميږي: [1]

۱- که يو شخص يادې درې قسمه ګولۍ د يوې ګولۍ څخه تر لسو ګوليو پورې د خارج ملک څخه را انتقال کړي شپږ مياشتې حبس ورکول کيږي؛

۲- که يو شخص تر لسو ګوليو زياتې را انتقال کړي د هرو لسو ګوليو په زيادت باندې شپږ مياشتې بند ور اضافه کيږي، البته د حبس نهائي موده به يې اووه کاله وي.

## دريم فصل

## د نشه يي توکو د خرڅولو او استعمال اړوند تعزيري جزاګانې

### د نشه يي توکو د خرڅوونکي (ساقي) تعزيري جزاګانې

**يو سلو يومه ماده:**

د نشه ئي توکو (هر نوع هيرويين، ترياک، چرس، ټابليټ کا، شراب، ترې ماډول ۲۵۰ ملي ګرامه، زيکپ، شيشه او داسي نور) خرڅوونکی د يادو موادو مقدار ته په کتلو سره په لاندې جزاګانو محکوميږي: [2]

۱- که ياد مواد تر پنځه ګرامه پورې ورسره ونيول شي، يو کال حبس ورکول کيږي؛

۲- که له پنځه ګرامه زيات تر دېرش ګرامه پورې ورسره ونيول شي دوه کاله حبس ورکول کيږي؛

۳- که له دېرش ګرامه زيات تر سل ګرامه پورې ورسره ونيول شي دوه نيم کاله حبس ورکول کيږي؛

۴- که له سل ګرامه زيات ورسره ونيول شي د هر سل ګرامه په زياتوالي شپږ مياشتې حبس ور اضافه کيږي البته د حبس نهائي موده به يې اووه کاله وي.

### د نشه ئي توکو د استعمالوونکي تعزيري جزاګانې

رواداري RAWADARI

---

(۱)- [وعزركل مرتكب منكرأو مؤذي مسلم بغيرحق بقول أوفعل]. [حاشية ابن عابدين ج٤ ص ٦٦ الناشر: دارالفكر- بيروت].
- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدرجريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدرالتعزيرفيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].
- قال الزيلعي: وليس في التعزيرشيء مقدر. وإنما هومفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية،.[الدر المختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دارالفكر-بيروت].

(۲)- [وعزركل مرتكب منكرأو مؤذي مسلم بغيرحق بقول أوفعل]. [حاشية ابن عابدين ج٤ ص ٦٦ الناشر: دارالفكر- بيروت].
- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدرجريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدرالتعزيرفيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].
- قال الزيلعي: وليس في التعزيرشيء مقدر. وإنما هومفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية، [الدر المختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دارالفكر-بيروت].
- وظاهركلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي. [البحرالرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري، ج٥ ص ١١، الناشر: دارالكتاب الإسلامي].

**يوسلو دوهمه ماده:**

د نشه ئي توکو د استعمالوونکي (معتاد) وضعيت ته په کتلو سره دي قاضي شپږ مياشتې حبس ورکړي.

## څلورم فصل

## د مختلفو نشه يي موادو اړوند حکمونه

**د ايف متعلق تعزيري جزاګانې**

**يو سلو دريمه ماده:**

د ايف انتقالوونکي، خرڅوونکي او رانيوونکي ته د يادو توکو مقدار ته په کتلو سره لاندي جزاګانې ورکول کيږي: [۱]

۱- که يو شخص سره تر لس کيلو ګرامه ايف مواد ونيول شي شپږ مياشتې حبس ورکول کيږي؛

۲- که يو شخص سره له لس کيلو ګرامه زيات تر پنځوس کيلو ګرامه پوري ايف مواد ونيول شي يو کال حبس ورکول کيږي؛

۳- که يو شخص سره له پنځوس کيلو ګرامه زيات ايف مواد ونيول شي په هر پنځوس کيلو ګرامه شپږ مياشتې حبس ور اضافه کيږي البته د حبس نهائي موده به يې اووه کاله وي.

**د شيشې د کارخاني متعلق جزاګانې**

**يو سلو څلورمه ماده:**

(۱) د شيشې په نوم د نشه يي موادو د کارخانې مالک او کارکوونکو ته يو کال حبس ورکول کيږي او کارخانه يې له منځه وړله کيږي. [۲]

(۲) د شيشې رانيوونکي، خرڅوونکي، ساتونکي او انتقالوونکي د يادو موادو مقدار ته په کتلو سره په لاندي جزاګانو محکوميږي: [۳]

۱- که يو شخص سره تر يو کيلو ګرام کم مقدار شيشه ونيول شي، يو کال حبس ورکول کيږي؛

۲- که يو شخص سره له يو کيلو ګرام څخه تر پنځه کيلو ګرامه پوري شيشه ونيول شي، يو نيم کال حبس ورکول کيږي؛

۳- که يو شخص سره له پنځه کيلو ګرامه څخه زيات تر لس کيلو ګرامه شيشه ونيول شي، دوه کاله حبس ورکول کيږي؛

رواداري
RAWADARI

---

(۱)- [وعزركل مرتكب منكر أو مؤذي مسلم بغير حق بقول أو فعل]. [حاشية ابن عابدين ج٤ ص ٦٦ الناشر: دار الفكر- بيروت].

- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدار ذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدر جريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدر التعزير فيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ ص ٣٦ الناشر: دار المعرفة – بيروت].

- قال الزيلعي: وليس في التعزير شيء مقدر. وإنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية،.[الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دار الفكر-بيروت].

- وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي. [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري، ج٥ ص ١١، الناشر: دار الكتاب الإسلامي].

(۲) المرجع السابق.

(۳) المرجع السابق.

۴- که یو شخص سره له لس کیلو گرامه څخه زیات شیشه ونیول شي د هر کیلو گرام وزن په زیادت سره شپږ میاشتې حبس ور اضافه کیږي البته د حبس نهائي موده به یې اووه کاله وي.

**<u>د شرابو متعلق جزاگانې</u>**

**یو سلو پنځمه ماده:**

(۱) د شرابو تولیدوونکي، خرڅوونکي، رانیوونکي او انتقالوونکي او هغه څښونکي ته چې حد یې ساقط وي، دوه کاله حبس او نهه دېرش (۳۹) دُرې وهل کیږي.[۱]

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې په درج شوي حالت کې نیول شوي شراب دې له منځه یوړل شي او د شرابو انتقالوونکي نقلیه وسائط دې وسوځول شي.

**<u>د اومانو اړوند تعزیري جزاگانې</u>**

**یو سلو شپږمه ماده:**

د اومانو ربېونکي، رانیوونکي، خرڅوونکي، راوړونکي او د کارخانې والا ته، لاندې تعزیري جزاگانې ورکول کیږي:[۲]

۱- د اومانو ربېونکي ته د اومانو په ور سوځولو سربېره لس ورځې حبس ورکول کېږي؛

۲- د اومانو انتقالوونکي ته درې میاشتې حبس ور کول کېږي؛

۳- د اومانو د کارخانې مالک او کارکوونکو ته شپږ میاشتې حبس ورکول کېږي او کارخانه یې له منځه وړل کېږي، که کارخانه په کور کې وي، د کلي د مسجد امام او د کلي مشر دې د مؤظفو مجاهدینو سره یو ځای په ورځ کې کور ته ورشي او کارخانه دې له منځه یوسي.

**<u>دمخدره مواد د تیزابو واردوونکي تعزیري جزاگانې</u>**

**یو سلو اوومه ماده:**

---

(۱)- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدرجريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدرالتعزيرفيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].

- ولو أحرق المحتسب متاع من يبيع على الشوارع يضمن .(الا اذا علم فسادًا فى ذالک ورأى المصلحة فى احر اقه فلايضمن.[نِصاب الاحتساب.ص ۲۴۴ طبع:دارالكتب الشرعية والادبية كويته].

- قال الزيلعي: وليس في التعزيرشيء مقدر. وإنما هومفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية،.[الدر المختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دارالفكر-بيروت].

(۲)- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدرجريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدرالتعزيرفيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].

- ولو أحرق المحتسب متاع من يبيع على الشوارع يضمن .(الا اذا علم فسادًا فى ذالک ورأى المصلحة فى احر اقه فلايضمن.[نِصاب الاحتساب.ص ۲۴۴ طبع:دارالكتب الشرعية والادبية كويته].

- قال الزيلعي: وليس في التعزيرشيء مقدر. وإنما هومفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية،.[الدر المختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دارالفكر-بيروت].

هر هغه نوع تیزاب چې مواد مخدر پرې جوړیږي یا په مخدره موادو ګډیږي چې بې له جوازه ونیول شي نقل کوونکي ته یې د تیزابو مقدار ته په کتلو سره لاندې جزاګاني ورکول کیږي: [۱]

۱-که د یوه لیټر څخه تر لسو لیټرو پورې له چا سره ونیول شي درې میاشتې حبس دې ورکړل شي؛

۲- که له لسو لیټرو څخه زیات تر پنځوسو لیټرو پورې له چا سره ونیول شي شپږ میاشتې حبس دې ورکړل شي؛

۳- که له پنځوس لیټرو څخه زیات د یو چا سره ونیول شي د هر لسو لیټرو په زیادت سره درې میاشتې حبس ور اضافه کیږي البته د حبس نهائي موده به یې درې کاله وي.

**د هغه دوا اړوند جزاګانې چې په تریاکو ګډیږي**

**یوسلو اتمه ماده:**

(۱) هغه دوا چې په تریاکو کې ګډیږي راوړونکي، خرڅوونکي او رانیوونکي ته یې د دوا مقدار ته په کتلو سره لاندې جزاګانې ورکول کیږي: [۲]

۱- که له چا سره تر لس کیلو ګرامه ونیول شي درې میاشتې حبس ورکول کېږي؛

۲- که له چا سره د لس کیلو ګرام څخه تر پنځوس کیلو ګرام پورې ونیول شي شپږ میاشتې حبس ورکول کیږي؛

(۲) که له چا سره له پنځوس کیلوګرام څخه زیات ونیول شي په هرو لسو کیلو ګرام درې میاشتې حبس ور اضافه کیږي البته د حبس نهائي موده به یې درې کاله وي.

رواداری
RAWADARI

---

(۱)- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدار ذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدر جريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدر التعزير فيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دار المعرفة – بيروت].

- ولو أحرق المحتسب متاع من يبيع على الشوارع يضمن .(الا اذا علم فسادًا فى ذالک ورأى المصلحة فى احر اقه فلايضمن.[نِصاب الاحتساب.ص ۲۴۴ طبع:دارالكتب الشرعية والادبية كويته].

- قال الزيلعي: وليس في التعزير شيء مقدر. وإنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية،.[الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دار الفكر-بيروت].

(۲)- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدار ذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدر جريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدر التعزير فيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دار المعرفة – بيروت].

- ولو أحرق المحتسب متاع من يبيع على الشوارع يضمن .(الا اذا علم فسادًا فى ذالک ورأى المصلحة فى احر اقه فلايضمن.[نِصاب الاحتساب.ص ۲۴۴ طبع:دارالكتب الشرعية والادبية كويته].

- قال الزيلعي: وليس في التعزير شيء مقدر. وإنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية،.[الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دار الفكر-بيروت].

## پنځم فصل

## د نشه يي توکو اړوند متفرقه حکمونه

**د ابتدايه محکمې د حکم قطعيت**

**يو سلو نهمه ماده:**

د نشه يي موادو د جزاګانو په هکله د ابتدائيه محکمې حکم قطعي دی.(۱)

**د نشه يي توکو اصلي مالک ته سزا**

**يو سلو لسمه ماده:**

د هرقسم نشه يي توکو اصلي مالک ته به هغه اندازه سزا ورکول کيږي کومه چي انتقالوونکي ته ورکول کيږي که څه هم په انتقال کي ورسره نه وي.(۲)

**د نشه يي توکو له منځه وړل**

**يوسلو يوولسمه ماده:**

هر هغه نشه يي توکي چي توليد، توريد، اخيستل، خرڅول، انتقال او استعمال يې ممنوع دي هغه دې د مؤظف هيئت په حضور کي له منځه يوړل شي.(۳)

**هغه نشه يي توکي چي افغانستان ته لېږ وارديږي**

**يوسلو دولسمه ماده:**

له ذکر شويو نشه يي توکو څخه پرته هغه مخدره مواد چي لږ وارديږي که له چا سره ونيول شي او قاضي ته يې د نشې درجه نه معلومېده که د ګوليو په شکل کي وي حکم يي د تابليټ کا او که د جامدو په شکل کي وي حکم يې د چرسو دی، که د

---

(۱) المادة (۱۸۰۰) القاضي وكيل من قبل السلطان بإجراء المحاكمة والحكم.[ مجلة الأحكام العدلية (ص: ۳٦۷) الناشر: نورمحمد، كارخانه تجارتِ كتب، آرام باغ، كراتشي].

(۲)- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدرجريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدرالتعزيرفيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ۲٤ص ۳٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].

- ولو أحرق المحتسب متاع من يبيع على الشوارع يضمن .(الا اذا علم فسادًا فى ذالک ورأى المصلحة فى احر اقه فلايضمن.[نِصاب الاحتساب.ص ۲۴۴ طبع:دارالكتب الشرعية والادبية كويته].

- قال الزيلعي: وليس في التعزيرشيء مقدر. وإنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية.[الدر المختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦۲ الناشر: دارالفكر-بيروت].

(۳)-- أن بعض المباحات قد تصيرواجبات بأمر الحكام، لكونهم من أولي الأمر، وقد أمرنا بإطاعتهم أيضا. [فيض الباري على صحيح البخاري، ج٥ ص ۲٤۳، الناشر: دارالكتب العلمية بيروت - لبنان].

- ولو أحرق المحتسب متاع من يبيع على الشوارع يضمن .(الا اذا علم فسادًا فى ذالک ورأى المصلحة فى احر اقه فلايضمن.[نصاب الاحتساب.ص ۲۴۴ طبع:دارالكتب الشرعية والادبية كويته].

مائعو موادو په شکل کې وي حکم يې د تيزابو دی او که قاضي ته يې درجه معلومېده بيا د هغو توکو جزا ورکول کيږي چې د څه شي په درجه کې وي.[۱]

**د نشه يي توکو له امله د اسلامي امارت د منسوبينو جزا**

**يوسلو ديارلسمه ماده:**

(۱)که اسلامي امارت ته يو منسوب شخص بنگ يا ترياک کرلي وي او يا ورسره نور نشه يي مواد ونيول شي په دې اصولنامه کې د ذکر شويو جزاگانو مطابق جزا ورکول کيږي، اسلحه او وسائل دې ورڅخه واخيستل شي او د بيت المال د تثبيت، ثبت او مراقبت رياست ته دې وسپارل شي.[۲]

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې ذکر شوی شخص،که د دوهم ځل لپاره په ياد عمل ونيول شي د اسلامي امارت له صف څخه دې وايستل شي.[۳]

**د هغه نشه يي موادو حکم چې جواز يې اخيستل کيږي**

**يوسلو څوارلسمه ماده:**

هغه نشه يي مواد چې جواز يې اخيستل کيږي، جواز لرونکی يې د اصولي جواز لرلو په صورت کې په دې اصولنامه کې له ذکر شويو جزاگانو څخه مستثنی دی.[٤]

**له افغانستان څخه خارج ملکونو ته د نشه يي موادو د انتقال سزا**

**يوسلو پنځلسمه ماده:**

---

(۱)- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدرجريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدرالتعزيرفيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].

- ولو أحرق المحتسب متاع من يبيع على الشوارع يضمن .(الا اذا علم فسادًا فى ذالک ورأى المصلحة فى احر اقه فلايضمن.[نِصاب الاحتساب.ص ۲۴۴ طبع:دارالكتب الشرعية والادبية كويته].

- وظاهركلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي. [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري، ج٥ ص ١١، الناشر: دارالكتاب الإسلامي].

- قال الزيلعي: وليس في التعزيرشيء مقدر. وإنما هومفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية،.[الدر المختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دارالفكر-بيروت].

(۲)- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبني ذلك على قدرجريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدرالتعزيرفيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ص ٣٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].

- ولو أحرق المحتسب متاع من يبيع على الشوارع يضمن .(الا اذا علم فسادًا فى ذالک ورأى المصلحة فى احر اقه فلايضمن.[نِصاب الاحتساب.ص ۲۴۴ طبع:دارالكتب الشرعية والادبية كويته].

- قال الزيلعي: وليس في التعزيرشيء مقدر. وإنما هومفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية،.[الدر المختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دارالفكر-بيروت].

(۳) المرجع السابق.

(٤) والممدود إلى غاية ينتهي عند وجود الغاية ولا وجود للشيء مع وجود ما ينتهي وجوده عند وجوده.[ بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج ١ ص ١٦٨ مكتبه رشيديه].

کوم نشه يي مواد چې افغانستان ته يې راوړل جرم او د تعزير موجب دي له افغانستان څخه نورو ملكونو ته وړل يې هم جرم دی او مرتكب ته يې هغه جزا وركول كيږي چې راوړونكي ته يې وركول كيږي.[۱]

**د جرم د تكرار په صورت کې د مرتكب جزا**

**يوسلو شپاړسمه ماده:**

د نشه يي موادو اړوند د يادو جرمونو دوهم ځل مرتكب ته ذكر شوي جزاګاني دوه برابره ور كول كيږي او د نشه يي موادو نقلوونكي وسائل يې سوځول كيږي.[۲]

**د طرزالعملونو تدوين**

**يوسلو اوولسمه ماده:**

ستره محكمه كولای شي، د دې اصولنامې د حكمونو د ښه تطبيق په منظور، طرزالعملونه تدوين كړي.[۳]

**تعديل يا لغوه**

**يوسلو اتلسمه ماده:**

(۱) د دې اصولنامې د حكمونو تعديل يا لغوه، د تقنيني پړاوونو له تېرولو څخه وروسته، د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالى حضور ته د توشيح لپاره وړاندې كيږي.[٤]

---

(۱)- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبنى ذلك على قدرجريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدرالتعزيرفيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ ص ٣٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].

- ولو أحرق المحتسب متاع من يبيع على الشوارع يضمن .(الا اذا علم فسادًا فى ذالک ورأى المصلحة فى احر اقه فلايضمن.[نصاب الاحتساب.ص ٢٤٤ طبع:دارالكتب الشرعية والادبية كويته].

- قال الزيلعي: وليس في التعزيرشيء مقدر. و إنما هومفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية،.[الدر المختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دارالفكر-بيروت].

(٢)- أن كل من ارتكب محرما ليس فيه حد مقدر، فإنه يعزر، ثم الرأي في مقدارذلك إلى الإمام، ويبنى ذلك على قدرجريمته، وهذه جريمة متكاملة، فلهذا قدرالتعزيرفيها بتسعة، وثلاثين سوطا .[المبسوط للسرخسي (ج ٢٤ ص ٣٦ الناشر: دارالمعرفة – بيروت].

- ولو أحرق المحتسب متاع من يبيع على الشوارع يضمن .(الا اذا علم فسادًا فى ذالک ورأى المصلحة فى احر اقه فلايضمن.[نصاب الاحتساب.ص ٢٤٤ طبع:دارالكتب الشرعية والادبية كويته].

- قال الزيلعي: وليس في التعزيرشيء مقدر. و إنما هومفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية،.[الدر المختاروحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢ الناشر: دارالفكر-بيروت].

(٣) أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى و جميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلاواسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتک بالحكم بين الناس، ولآخربجباية الاموال وحفظها، ولآخربحفظ الثغور، ولآخربادارة الامورالسياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ١٨٠٠ ج ٦ ص: ٥٠ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكرفيها مسئوليات وواجبات امر ائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ٣ ص ١٨٩]الناشر: دارالقلم- دمشق.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنزبأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١٤] الناشر: دار الكتاب الإسلامي.

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة. [حاشية رد المحتارعلى الدرالمختار ج ٢ ص ١٧٢] دارالفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وكل ما رأيت أن الله تعالى يصلح به أمر الرعية فافعله ولا تؤخره فإني أرجو لك بذلك أعظم الأجرو أفضل الثواب. [الخراج لأبي يوسف ج ١ ص ٢٠٤] الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث.

(٤) المرجع السابق.

(۲) د دې اصولنامې د حکمونو تعدیل یا لغوه یوازې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په منظورۍ کیږي.[۱]

**انفاذ**

**یوسلو نولسمه ماده:**

دغه اصولنامه د توشیح له نېټې څخه نافذه [۲] او په رسمي جریده کې دې خپره شي[۳] او ټولې هغه اصولنامې چې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القران والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالی لخوا تأیید، منظور یا توشیح شوې نه وي، ملغی دي.[٤]

---

(١) اصل الحكم وإدارة الشؤون أن يكون للسلطان، لأنه صاحب الإمامة الكبرى، وجميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه، لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة، كأن يقول السلطان لزيد: وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الأموال وحفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بإدارة الأمور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان إنسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. (شرح المجلة لمحمد خالد الأتاسي ج ۴ ص ۵۰ المادة (۱۸۰۰) ط مكتبة حنفية، كويته.

- وَظَاهِرُ كَلَامِهِمْ هَاهُنَا أَنَّ السِّيَاسَةَ هِيَ فِعْلُ شَيْءٍ مِنْ الْحَاكِمِ لِمَصْلَحَةٍ يَرَاهَا، وَإِنْ لَمْ يَرِدْ بِذَلِكَ الْفِعْلِ دَلِيلٌ جُزْئِيٌّ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج۵ص ۱۱).

- و اتفق الأئمة على: أن الإمام الكامل تجب طاعته في كل ما يأمربه، ما لم يكن معصية. وعلى أن أحكام الإمام، وأحكام نائبه، ومن ولاه، نافذة. (الفقه علي المذاهب الاربعة، كتاب الحدود ج ۴ ص ۱۳۶۴ ط المكتبة الحقانيه محله بشاور).

(٢) - (قوله: أمر السلطان إنما ينفذ) أي: يتبع ولا تجوز مخالفته. (الدرالمختار وحاشية ابن عابدين ج۵ ص ٤٢٢ الناشر: دارالفكر-بيروت).

- أن بعض المباحات قد تصير واجبات بأمر الحكام، لكونهم من أولي الأمر، وقد أمرنا بإطاعتهم أيضا. [فيض الباري على صحيح البخاري، ج۵ ص ۲۴۳، الناشر: دارالكتب العلمية بيروت - لبنان].

- قال في المعراج: لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتارعلى الدرالمختار ج ۲ ص ۱۷۲] دارالفكربيروت].

(٣) وأما الإعلان في الجرائد فلم تكن أوراق حوادث في عصر الفقهاء كما هو في زماننا فلا يوجد بحثٌ في الكتب الفقهية بشأن الإعلان بهذه الواسطة. ولكن الإعلان في زماننا بواسطة الأوراق المذكورة أيضًا جائزٌ. ولكن بما أنه ليس كل الناس يقرءون الجرائد ويعرفون قراءتها وبما أنه لا توجد جرائد في كل محل فيجب الإعلان أيضًا بواسطة المنادي في مجامع الناس كما قال الفقهاء ...[ درر الحكام شرح مجلة الأحكام ج ۲ ص ۲٤۹ الناشر: دار الجيل].

(٤) - أن من يعرض عليه القانون يأخذ منه أمراً باتباع قانون من قبله بأن يكتب أمره باتباعه . تقريرات الرافعى ضميمه حاشية ابن عابدين. ج: ١٦. ص: ٥٩٨. ط: دارلسلام. دمشق.

- قال في المعراج: لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة اه [حاشية رد المحتارعلى الدرالمختار ج ۲ ص ۱۷۲ . دارالفكر للطباعة والنشر. بيروت].

- مطلب هل يبقى النهي بعد موت السلطان؟ لكن هل يبقى النهي بعد موت السلطان الذي نهى بحيث لا يحتاج من بعده إلى نهي جديد أفتى في الخيرية بأنه لا بد من تجديد النهي ولا يستمر النهي بعده وبأنه إذا اختلف الخصمان في أنه منهي أوغير منهي فالقول للقاضي ما لم يثبت المحكوم عليه النهي وأطال في ذلك وأطاب فراجعه . وأما ما ذكره السيد الحموي أيضا من أنه قد علم من عادتهم يعني سلاطين ل عثمان نصرهم الرحمن من أنه إذا تولى سلطان عرض عليه قانون من قبله وأخذ أمره باتباعه فلا يفيد هنا لأن معناه أن يلتزم قانون أسلافه بأن يأمر بما أمروا به وينهي عما نهوا عنه ولا يلزم منه أنه إذا ولى قاضيا ولم ينهه عن سماع هذه الدعوى أن يصير قاضيه منهيا بمجرد ذلك وإنما يلزم منه أنه إذا ولاه ينهاه صريحا ليكون عاملا بما التزمه من القانون كما اشتهر أنه حين يوليه الآن يأمره في منشوره بالحكم بأصح أقوال المذهب كعادة من قبله وتمام الكلام على ذلك في كتابنا تنقيح الحامدية فراجعه وأطلنا الكلام عليه أيضا في كتابنا تنبيه الولاة والحكام[رد المختارعلى الدرالمختار ج ۵ ص ۴۲۰ الناشر: دار الفكربيروت].

- أنهم صرحوا أن المباح في نفسه قد يصير حرامًا من حكم الأمير من جهة أن الله أمر بطاعتهم، فقال: {أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم} فحينئذٍ لو رأى الأمير أن يمنع الناس عن أكل شيءٍ لمصلحةٍ بدت له، يجب عليهم أن لا يأكلوه، ويحرم عليهم. إلا أن تلك الحرمة تقتصر على مدة إمارته فقط، ولا يتجاوزها، فهي حرمةٌ مؤقتةٌ. ومن هذا الباب تحريم التمباك، فإنه قد نهى عنه بعض السلاطين، فاحفظه. [فيض الباري على صحيح البخاري ج ۲ ص ۴۰۸ الناشر: دارالكتب العلمية بيروت - لبنان].